شهامت

د اسلامي امارت د زعيم اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد (حفظه الله) ژوندليک

اتم کال شپږمه، پرلپسې ۵۰ گڼه، جمادي الثانية، ۱۴۳۶هق، اپريل ۲۰۱۵م

داتمې کليزې په وياړ څو خبرې...

- ❖ سفربی فرجام عین وغین به امریکا و تبلیغات برده نوازی
- ❖ داسلامي مقدساتو د سپکاوي بوږنوونکې څپې!
- ❖ د نوميالي ديني مدرس: محترم مفتي ابوياسر سره مرکه
- ❖ له هلمند وروسته په غزني کې هم دښمن مختوری شو
- ❖ کرکټ د چالوبه؟ او د چالخوا؟
- ❖ ....لاسپوڅی مفکر!!

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

اتم کال پنځمه ګڼه، پرلپسې۴۹ ، ربیع الثاني ۱٤۳٦هق، جنوري ۲۰۱۵ م

دامتیاز خاوند :
دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :
ابو ظهیر

کتنپلاوی :
شاهد "حقاني" لطیف عزم
حسن " علوي" بلال "وحید"
نعیم " صافی " عابد مجاهد
قاري حبیب

بیه :
یوه ګڼه ۲۰ افغانی او ۳۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنیکي مسؤل :
تخنیکي څانګه

لړلیک

ګڼه	عنوان	مخ
۱	د اتمې کلیزې پر ویار! څو خبرې...!....................	۱
۲	د اسلامي امارت د زعیم امیرالمؤمنین ژوند لیک........	۲
۳	امریکاته د اشرف غني وروستي سفر په اړه................	۱۳
٤	سفر بې فرجام عین وغین به امریکا وتبلیغات............	۱۵
۵	د هیواد په مطبوعاتو کې د عالمانو ونډه.................	۱٦
٦	په جهادي بهیر کې د چاپي خپرونو ونډه او مؤثریت.......	۲۱
۷	د اسلامي مقدساتو د سپکاوي بوږنوونکې څپې!........	۲٤
۸	غلام د بادار په درشل کې..............................	۲۷
۹	د امریکا ددوه مخي سیاست بله بیلګه او د روان جهادي ..	۲۹
۱۰	په اسلامي هیوادو کې د اسلامیت او مغربیت ترمینځ.....	۳۳
۱۱	له هلمند وروسته په غزني کې هم دښمن مختوری شو......	۳۹
۱۲	د اسلام نړیوال قانون..................................	٤۱
۱۳	د اسلام تشریعي اساسات...............................	٤۸
۱٤	د حوثي یاغیانو پرضد د سعودي هوایي بریدونه او.......	۵۳
۱۵	ګلورینې پاڼې..	۵٤
۱٦	د توبې؛ مفهوم، دولونه، اهمیت او د ویستلو طریقه.......	٦۲
۱۷	له نومیالي دیني مدرس مفتي ابویاسر سره مرکه..........	۷۲
۱۸	...لاسپوڅی مفکر.....................................	۸۲
۱۹	کرکټ د چا لوبه؟ او د چا لخوا؟	۸۵
۲۰	د تقلیدي او انتقامي جهاد په ځای باید شعوري جهاد.....	۸۸
۲۱	کعب احبار رحمة الله علیه او اسرایلیات................	۹۵
۲۲	د تعلیم او تربیې او عالي تحصیلاتو کمیسیون د زده کړې	۱۰۰
۲۳	د جنرال رزاق د جنایتونو څو مستندې بیلګې...........	۱۰٤
	دشهامت دار الافتاء....................................	۱۰۷

یادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو لیکنو مسؤلیت په غاړه نه اخلي.

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

داتـــې ــ کلیزې پر ویاړ! څو خبرې ....!

له نیکه مرغه! د شهامت دا د اتم کال (کالګڼه) اوپرلپسې پنځوسمه شماره،چې دمهربان څښتن دسترو مهربانیو په لورینه دافغانستان داسلامي امارت دفرهنګي چارو کمیسیون په مبتکرانه هڅو اود مجاهدو قلموالو ملګرو په دوامدار و همکاریو دځوانو اسلامي استعدادونو د را ټوکېدو او زرغونېدو په نیک پال ددرنولو ستونکو دعلمي، جهادي او ادبي تندې دخړوبولو په هیله وړاندې کوو!

ښکاره ده چې شهامت لکه د نورو رسنیو، ورځپاڼو،اونېزو ویب پاڼو او مجلو پشان کومه مادي صبغه یا ایډیا نلري، چې له صوري او معنوي ارزښتونو څخه دې زیات پام د مادیاتو لورته ولري اویا کله چې دمعنویت او مادیت تر منځ ټکر رامنځته کېږي، نودترجیح خوا یې مادیت پالنه وي نه معنویت....!!

بلکې شهامت د یوه سو چه هدف په خوا ددعوت او د یوه روښانه فکر په لور دبلنې نوم دی، شهامت د۲۱مې پیړۍ د لوی او تاریخ جوړوونکي افغان جهاد دهغه اولوالعزمه ځوان قشر دبې جوړې قربانیو او سرښندنو د مطبوعاتي ترجمانۍ نوم دی، دچا چې اسمانڅکو ارادو او پولادي عزم ته لوړ پا میر اوهندوکش څه چې پورته افلاک هم سلام کوي!! په حق پالنه، صداقت اوتلپاتې میړانویې له بره د مبارکۍ او شابسۍ پیغامونه لیږدي!

هو! شهامت دخپل مطبوعاتي ژوند داتم کال سره مخه ښه کوي! او دژوند دنهم پسرلي سره غاړه غړۍ کېږي! داد شهامت چلوونکو ،شهامت لوستونکو اوشهامتپالو مینوالو لپاره د نیکمرغه خوښیو ښبونکې شېبې دي ، غواړو دلته د همدې خوښیو په پلمه دشهامت د ماضي شانداري دریځې ته په سر ور ښکاره کولو دراتلونکو پراوونو په نښونښانو او اثارو له لوستونکو سره د زړه خواله وکړو:

له شک پرته د اته کلنې ماضي په اوږدو کې مونږ په دې نه یو توانیدلي ، چې دشهامت د مطبوعاتي کردار د ځانګړتیاوو په اړه دیوې اختصاصي لیکنې یا تبصرې د لارې لوستونکو سره خپل معلومات او احساسات شریک کړو؛! خو په دې دلیل چې د شهامت هرعنوان ،هر مضمون، هره مقاله، هره لیکنه او هره تبصره دحال په ژبه دشهامت د علمي اوجهادي سیر ترجماني کوي! نومونږ هم په دې اړه تراوسه دکومې مستقلې لیکنې یا تبصرې لیکلو اړتیا نده محسوس کړې!!

ښکاره ده د شهامت د هرې ګڼې محتوا د ځینو مخصوصو پیغامونو سربیره د بېلابېلو موضوعاتو [لکه د روانو جهادي چارو په باب جامع تحلیلونه، واقعبینانه تبصرې، جهادي مرکې، جهادي بریاوې - ارزونې، په تودو پېښو او روانو جریانو د ځانګړې سبک پنځګرو سرلیکنونه پرته بې شمېره دیني، علمي، ادبي، اقتصادي ، روزنیز ، تاریخي ، جهادي اوسیاسي مضامینو] څخه دانتخاب اوترتیب یوه داسې په زړه پورې نمونه ده چې دګڼو صوري او معنوي ځانګړتیاوو سربېره دخپل هدف او نصب العین هېڅ اړخ یې مستور اومحجوب ندی پاته، بلکې هره لیکنه، هرتحلیل اوهر عنوان یې دضمیرترجمان او دمطبوعاتي تګلارې ممثل دی، په دې وجه د هېڅ داسې موضوع په اړه ابهام ندی پاته، چې دلرې کولو په موخه دې د کوم سپیناوي اړتیا پېښه شي!

د مضامینو اوموضوعاتو دې متنوع ویش محتواته داسې رنګینې ښبلې، چې هره موضوع او هرباب له بل نه جلا او توپیر لري، دسترې کونکې یکسانیت او جمود پرځای دتنوع او اختلاف په دې رنګین جوړښت کې دننه لوستونکی ګام په ګام دتفنن له رنګ آمیزیو خوندونه اخلي! دهمدې مبتکرانه نوښت په برکت د شهامت هره ګڼه دیوخاص لیکنیز سبک پر ځای دګڼو سبکونو، طرزونو او اسالیبو د غورچاڼ یو شهکار ته ورته بریښي.

په دې سربیره یې هرچېرې اوهرځای د فکري هدفمنتوب او نظر اصلیت له لاسه ندی ورکړی په هره نرمه اوخشکه موضوع کې یې د دلیل ، منطق او استدلال لمنه کلکه نیولې او هروخت یې د خپل جهادي، او سیاسي دریځه د دلیل او منطق پـه مـؤثره لهجـه دفـاع اوننگه کړې ده و ذالک فضل الله یؤتیه من یشاء والله ذو الفضل العظیم

خوگوری! داټول شهامت چلوو نکو لومړی دزړه په وینو لیکلي اوبیا تر لوستونکو رسیدلي ، هېڅ مضمون ، هېڅ لیکنه پـه اسـانه اوپـه لنده دلوست ترمرحلې نده لاړه، امید دی ربښتینپالان به دشهامت دمطبوعاتي بریاوو او هڅو په اړه نهیلی ونلري، دشهامت پـه ماضـې دملامتیا غشو ورولو پر ځای به دشهامت په ځلاند مطبوعاتي کردار شابسي ولوروي! په تحسین اوقدردانی کې به بخل ونکړي...

البته پسرلی په یوه گل نـه دی!! نـن چـې صـلیبي شـکېلاک زمـونږ دجغرافیـوي محـدودې پـولې لانـدې کـړې، دپـوځي، سـیاسي، اقتصادي او اجتماعي چارو واک مو دهغه په لاس کې دی، زمونږزمکه او فضـاء یـې پـه قبضـه کـې ده،او ددې سربیـره لـه ټولـو عصرې وسایلونه په گټه لگیا دی زمونږ د ولس دځوان نسل د بې لارې کولو لپاره مختلفې وسېلې کاروي او زمـونږ پـه دینـي ، کلتـوري او اخلاقـي ارزښتونو یې پراخ یرغل گډ کړی دی، دهېواد دپلازمېنې په گډون ولایتونو او ولسوالیو کې یې سلگونه چاپې اوبریښنائي رسنی پـه کـار گومارلي، سلگونه رادیویي دستگاوې یې فعاله ساتلې، او دانحراف لسگونه برنامې ترې خپروي، دسیاسي شناندو، کتونکو، څېړونکو ،لیکوالو ، مدني فعالانو اوژورنالستانو په نومـو نـوېې زرگونـه کرایـې شخصـیتونه پـه دې موخـه توظیـف کـړی دي، څـو هغـوی د دوی پـه فرمـایش انحراف زېږوونکي تبلیغات اونشرات تنظیم کړي، دولس دننه فکرونه او ذهنونه تغیر کړي، په خاصه توگه دځوان نسـل دانحـراف لپـاره یې گڼې تبلیغاتې پروژې او ورکشافونه روان کړي ، داسلامي اخلاقو او ملې اقداروضد روزنه ددې لپاره ورکوي، چې دجغرافیوي پولو په څېر زمونږ عقیدوي او فکري بنستونه او دعوتي جهتونه هم دخپل اخلاقي، فکري او کلتوري پوښښ لاندې راولي

چې دتاثیر او نتایجو له پلوه داد جنگ ترټولوی، کامیاب او مؤثر جهت دی،او په وړاندې یې مبارزه ښه لوړ همت اوعالي مورال ته اړتیا لري، دې لړ کې دهېواد دیني کړی (علماء) ترنورو زیات مسئولیت لري، چې هغوی افغاني اسلامي ټولنه دالحاد له کړو فکرونو لـه تاثیره وژغوري،او دژغورلو کامیاب تدبیر دادی چې دیني کړی په خاصه توگه درانه علماء کرام دمطبوعاتو،ادبیاتو او قلمـوال جهـاد پـه برخه کې قایدانه رول اوکردار ولوبوي او په اړه یې خپله موجوده له بې اعتنائې اوبې حسی ډکه رویـه پـای تـه ورسـوي، لـه زړونـو څخـه دقلمې او ادبي مبارزې په رول،تاثیر او اهمیت اعتراف وکړي، دبا اعتماده اوثقه ځوانو استعدادونو روزنې ته پام وگرځوي

او که خدای مکړه د مطبوعاتو، ادبیاتو، املاء او انشاء په برخه کې دیني کړیو لخوا هم دا دبې اعتنائي اوتسـامح رویـه دوام ولـري نـو دامیدان به د لا دینه عناصرو لپاره هم داسې وزگار پاته وي، دهېواد ځوان نسل به دهغوی مسموم کتابونـه لولي،بایـد ددینـه مخکـې مخکـې دیني استادان او علماء د خپلو نورو علمي اوتـد ریسيـ بوختیـاوو ترڅنـگ داد بیـاتو املاء او انشاء پـه برخـو کـې خپـل عالمانـه اوفاضـلانه صلاحیتونه ونه سپموي، څو دسبا ورځې سند اومرجع دوی وگرځي،دلیکلو او وینا هغه شهکار بېلگې وړانـدې کـړي چـې دادب امـلاء او انشاء لپاره دروح مرتبه لري!دمعیاري تصنیفونو اوکتابونو په لیکلو دې افغاني ادب د نا اسلامي ادب لـه اغېـز او تـاثیر څخـه وژغـوري،تر څو ځوانان ددې په ځای چې دنامسلمانو لیکوالو کتابونه او افسانې و لولي ددوی کتابونه او د دوئ لخوا لیکلې کیسې ولولي!

او په دې بحث کې د ننوتو حق څوک نلري ، چې دکومې ژبې پـه لیکلـو او ویلـو کـې ثـواب دی او دکومـو کـې نـه؛ ددې پـه ځـای ددښمن لخوا دپرا خ فکري اوعقیدوي یرغل دمخنیوي او هغه سره دمقابلې پر تـدابیرو او لارو چـارو غـور پکـاردی، داسلامي لاربښـوونوله مخې هېڅ ژبه پردی ندە! ځکه دټولو ژبو حقیقي خالق دالله(جل جلاله) ذات دی،دژبو په سرتعصب جاهلانه میراث دی،نه کومه ژبه دعبـادت وړده، نه دنفرت ! ژبې یواځې اویواځې داظهار ،ابلاغ او پوهاوي وسېلې دي ،غرض دادی که په افغاني ټولنه کې دالحاد کړو فکرونو تـه دځان غځونې پراخ فرصت په لاس ورغی او په وجه یې خدای مکړه په افغان ولس کې داسلام دمبارک دین ریښې کمزورې شوې یا دلته اسلام ضد اندونه اوفکرونه تقویه شول، دقیامت په ورځ به د الله(جل جلاله) داستازي رسول الله(صلی الله علیه وسلم) لاس وي او دعلماوو گرېوانونه !!له نورو به پوښتي کنه؛ له علماوو به خامخا پوښتنه کـوي چـې تاسـو وئ! اسـلام کمـزوری شـو؟! بایـد علـماء دعامـه ابـلاغ او عامـه پوهـاوي ددې مؤثرجهت په لور د بې اعتنایې اوتسامح داشته رویه پای ته ورسوي او خپل فطري او کسبي جوهري صلاحیتو نه دملت دبیداری، ازادی ،فکري اوذهني ارتقاء په ښه وکاروي! په همدې هیله

داسلامي امارت د زعيم اميرالمؤمنين

ملا محمد عمر مجاهد حفظه الله

ژوندليک

الحمدلله وكفى والصلوة والسلام على عباده الذين اصطفى امابعد:

د ۱۳۷۵ هـ ش کال د حمل د مياشتې ۱۶ مه زموږ د مسلمان اولس په تاريخ کې يوه مهمه ورځ ده، نږدې دوه لسيزې وړاندې په همدې ورځ د افغانستان يونيم زر علماء کرامو، مشايخو او جهادي مشرانو د اسلامي امارت د زعيم په حيث دملامحمد عمر مجاهد تائيد وکړ له نوموړي سره يې د امير په حيث بيعت وکړ او د اميرالمؤمنين لقب يې ورته اهداء کړ.

دغه ورځ چې داسلامي امارت په رسمي تقويم کې ديوه تاريخي مناسبت په حيث ځای لري، په تيرو کلونو کې يې هم د فرهنګي کميسيون لخوا د ځانګړو مقالو او مطالبو په نشر سره يادونه شوې.

دا چې د اسلامي امارت د زعيم د مکمل ژوندليک نشر د ډيرو ملګرو خصوصا تاريخ ليکونکو او څيړونکو غوښتنه وه، فرهنګي کميسيون وپتيله چې سږ کال ددې تاريخي ورځې ياد د اميرالمؤمنين ملامحمد عمر مجاهد حفظه الله په مکمل ژوندليک خپرولو سره ولمانځي.

ددې لپاره چې د ملامحمد عمر مجاهد دشخصي ژوند او مشخصاتو په اړه د يوشمير دروغجنو ليکوالانو ، تاريخ ليکونکو او مغرضو حلقو د غلطو تبليغاتو مخه نيول شوي او په دې برخه کې ليکوالانو او ټولو عامو خلکو ته يو وضاحت رامنځته شوی وي د عاليقدر اميرالمؤمنين ژوندليک په لاندې کرښو کې درته تقديموو.

زوکړه او نشات يې

ملامحمد عمر(مجاهد) د مولوي غلام نبي زوي ،د مولوي محمد رسول لمسی اودمولوي باز محمد کړوسی، په کال ۱۳۳۹ هجري لمريزکې چې له ۱۹۶۰ ميلادي سره سمون خوري دافغانستان د کندهار ولايت دخاکريز ولسوالی د چاه همت کلي په يوه متدينه اوعلمي کورنۍ کې زيږيدلی دی .دملامحمد عمر(مجاهد) والد مرحوم مولوي غلام نبي صاحب هم په همدې خاکريز ولسوالۍ کې دنياته راغلی دی او د همدې سيمې په مختلفو ديني درسونو اوداتروکې خپلې ديني زدکړې ترلاسه کړې، چې بيا په ياده سيمه کې دتدريس اواسلامي دعوت په چاروکې دزيار او مصروفيت له امله دخلکوپه منځ کې ديو ښه علمي او ټولنيز شخصيت په توګه وځليد.

دملامحمد عمر(مجاهد) له زوکړې دوه کاله وروسته دهغه والد صاحب دکندهارله خاکريز ولسوالۍ څخه ددې ولايت د ډنډ ولسوالۍ دنودې کلي ته ولاړ اوهلته دخپل ژوند ترپايه د سيمې دخلکو د ديني ښوونې اوروزنې په چارو بوخت و،نوموړی په۱۳۴۴هجري لمريزکال کې چې له ۱۹۶۵ميلادي کال سره سمون خوري په همدې سيمې کې وفات او دکندهار ښار دطالبانو په پخوانۍ مشهوره هديره کې خاورو ته وسپارل شو .

ملامحمد عمر(مجاهد) دخپل پلار له وفات وروسته دپنځه کلنۍ په عمر له خپلې کورنۍ سره دکندهار له دنډ ولسوالۍ څخه د اروزګان ولایت دهر او د ولسوالۍ ته ولیږدیده او هلته یې دخپلو ترونوهریو مولوي محمد انور اومولوي محمد جمعه ترسرپرستي لاندې د ژوند لومړنۍ مرحله پیل شوه .

زده کړه اوتعلم یې :

ملامحمد عمر(مجاهد) په اته کلنۍ کې د دیني علومودترلاسه کولو لپاره دروزګان ولایت ددهراودولسوالي دشهرکهنه سیمې ابتدایي دیني مدرسې ته شامل شو. ددغې مدرسې سرپرستي هم دملامحمد عمر (مجاهد) دتره مولوي محمد جمعه لخوا ترسره کیده اوملامحمد عمر (مجاهد) هم لومړنۍ دیني زدکړې له نوموړې څخه پیل کړې.

دملامحمد عمر(مجاهد) دواړو ترونو په تیره مولوي محمد انور دنوموړي په دیني روزنې اوپالنې کې خاص رول ترسره کړی .

ملامحمد عمر (مجاهد) دخپل شرعي تعلیم لومړنۍ اومتوسطه دوره په همدغه مدرسه کې په بریالۍ توګه پای ته ورسوله اواتلس ۱۸ کلنۍ ته له رسیدوسره یې په افغانستان کې دمروجه لوړو شرعي زدکړو په تحصیل پیل وکړ، خو دشرعي لوړو زدکړو دتحصیل مرحله یې په کال ۱۳۵۷ هش ـ۱۹۷۸ م په افغانستان کې د کمونستانو د واک ته رسیدلو له امله نیمګړې پاته شوه.

کورنۍ یې :

له قبیلوي اړخه دملامحمد عمر (مجاهد)تعلق دپښتنې قبیلې هوتکو په تومزي قوم پورې دی .

هوتک د پښتنې قبیلې یو لوی شاخ ، اوهوتکیان دمعاصر افغانستان په تاریخ کې دنومیالي اسلامي شخصیت حاجي میرویس خان هوتک په څیر اسلامپال ،مدبر، ملي اوجهادي اتلان لري .

سترغازي حاجي میرویس خان هوتک رحمه الله چې افغانان یې احتراما د میرویس نیکه په ویاړلي لقب یادوي په کال ۱۰۸۸ هـ ۱۷۱۲م افغانستان له صفوي ظالمانه واکمنۍ ازاد، اودافغانانولپاره یې پکې دیوه خپلواک مقتدر اسلامي حکومت بنسټ کیښود.

دملامحمد عمر (مجاهد) کورنۍ له مسلکې اړخه ټول علماء او ددیني علومو مدرسین دي .هغوئ خپل ټول ژوند دالله تعالی ددین خدمت ،دشرعي علومو تدریس او دمسلمانانو دیني اوفکري روزنې ته وقف کړی ،له همدې امله یې په خپله سیمه کې خورا زیات مقبولیت درلوداوپه معنوي لحاظ دټولنې ترټولو،باوقاره او اجتماعي حیثیت لرونکي اشخاص پیژندل شوي دي. ددادول علمي اوروحاني کورنۍ په ماحول کې د ملامحمد عمر(مجاهد) پیدایښت اوبیا دخپلو علمي اوفکري مربیینو (پالونکو) ترمستقیمې پالنې لاندې دهغه نشونما په جهادي اوفکري لحاظ نوموړي ته د دې صلاحیت ورروباښه چې دافغاني ټولنې دنورو افرادو په منځ کې دیومخلص، مجاهد، زړه سواند،با احساسه اسلامي ، او ملي شخصیت په توګه راڅرګند ، اوپه خپلو جهادي اواصلاحي هڅو سره خپله ټولنه دفساد ،ظلم اوبې عدالتۍ اوګران هیوادافغانستان دحتمي تجزیې له شره وژغوري .

دملامحمدعمر (مجاهد)جهادي کورنۍ ، ورونه او ترونه ټول مجاهدین اوتراوسه پوري یې دخپلې کورنۍ څلورتنه شهیدان شوي دي.

په افغانستان باندې دامریکایي یرغل په لومړۍ ورځ ۱۳۷۹/۶/۱۵ــــ ۲۰۰۱/۱۰/۷ دملامحمد عمر(مجاهد) تره ملامحمدحنفیا لومړنۍ شخص وو چې دامریکایي یرغلګرو په بیرحمانه هوایي برید کې په شهادت ورسید.

جهاد اومبارزه یې.

ملامحمد عمر(مجاهد) دخپل ژوند دریمې لسیزې ته لانه وو ورداخل شوی چې په افغانستان کې کمونستانو دپوځي

کودتا له لارې واک ترلاسه کړ .داهغه وخت و چې نور نو دملامحمد عمر(مجاهد) په څېر دهیواد ټولو زدکوونکوته دخپلودیني زده کړو استمرار ناشوني ښکاریده؛ځکه دملحدوکمونستانو لومړنی مقابله دټول هیواد په کچه له علماوو، طالبانو،محصلینو اومسلمانو منورینوسره وه ، هماغه ؤ چې ملامحمد عمر(مجاهد)هم اړینه وبلله چې خپلې لوړې دیني زدکړې نیمګړې پرېږدي او د خپل شرعي مسؤلیت دترسره کولو لپاره له مدرسې څخه دجهادي جبهې په لوري مخه کړي.

هماغه ؤ چې نوموړي خپل جهادي بهیر د روزګان ولایت ددهراود په ولسوالۍ کې دحرکت انقلاب اسلامي په تنظیم کې پیل کړ.په دغې ولسوالۍ کې له څه وخت تیرولو وروسته نوموړی دروزګان ولایت په کچه دیوه پیژندل شوي زړورجهادي شخصیت په توګه مطرح ،او ددغه ولایت په بیلا بیلو برخوکې یې دکمونیستانو په وړاندې په متعددو پوځي عملیاتوکې فعال رول ترسره کړ؛ هماغه ؤ چې نوموړي ددغه جهادي شهرت اوپه جهادي عملیاتوکې دموفقانه رول له امله په مجاهدینوکې دومره مقبول اوومنل شوچې کله په هغه وخت کې ددهراودپه ولسوالۍ دمختلفوسیمودمجاهدینوله لوري پراخ تعرضي عملیات ترسره کیدل نوملامحمدعمرمجاهدپه همدې عملیاتوکې دټولومجاهدینوپه خوښه دمختلفو جبهاتو دمجاهدینومشر اوتعرضي قوماندان وټاکل شواوښه موفق عملیات یې ترسره کړل چې په همدې عملیاتوکې نوموړی په لومړي ځل زخمي هم شو،نوموړي ترډیروکالوزیات وخت دخپلې سیمې دمجاهدینو سره دیرغلګرو روسانو اوکمونستانو خلاف په ډیرومخامخ جګړوکې ګډون وکړ.

دملامحمد عمرمجاهددجبهې ملګري اومشران وایې چې ملامحمدعمراخندپه هغه وخت یعني جهادپه پیل کې سره له دې چې عمریې کم ووخودهرډول مسئولیت اوکاردترسره کولواستعداداوصلاحیت یې درلوداوډیرښه صحت اوقوت خاوندؤ.

وروسته په کال ۱۳۶۲ هـش ۱۹۸۳ میلادي کې له خپلوجهادي ملګرو سره دجهادي فعالیتونو دانسجام په غرض دکندهار ولایت میوندولسوالۍ ته ولاړ او هلته یې دحرکت انقلاب اسلامي دتنظیم دمشهورجهادي قوماندان فیض الله اخند زاده په جبهه کې دروسي یرغلګرو اودهغوئ دکمونستي تالي څټو په خلاف وسله وال جهاد ته دوام ورکړ .په کندهار ولایت کې هم په بې شمیره جهادي عملیاتوکې دنوموړي دموفقانه رول اوپه پوځي تکتیکونوکې دښې وړتیا اوشهرت له کبله دسیمه ییزو جهادي قوماندانانوپه کچه د وخت دجهادي تنظیمونو دپامور وګرځیداو د مرحوم مولوي محمد نبي محمدي په مشرۍ دحرکت انقلاب اسلامي دتنظیم لخوا دمستقلې جهادي جبهې مسؤلیت ورته وسپارل شو.

له کال ۱۳۶۲هـش ـ ۱۹۸۳ م تر۱۳۷۰-۱۹۹۱ پوري ملامحمد عمر (مجاهد) دکندهار ولایت دمیوند ، ژړۍ ،پنجوایي او ډنډ ولسوالیوپه مربوطاتوکې چې دشوروي قواوو په ضد دجهاد مهم مرکزونه وو او نړ دې هره ورځ به یې مجاهدین له دښمن سره په جګړه بوخت وو همدارنګه دزابل په ولایت کې دشهرصفااومرکزقلات مربوطوسیموکې دکابل — کندهارپه لویه لاره دروسي یرغلګرو په خلاف ډیر موفقانه عملیات ترسره کړل چې په ټولوهغوکې شخصا په مستقیمه توګه سهیم ؤ.دملامحمد عمر (مجاهد) ترټولو خوښه کړای شوې وسله دروسي جنګي شوبلو(ټانګونو) په ضد استعمالیدونکې خوراغېزمنه وسله «R.P.G.V» توغندی وه چې دمجاهدینو په مینځ کې به راکټ بلل کیده او ده یې په ویشتلوکې ځانګړې مهارت درلود،دیادونې وړ ده چې کندهار ځانګړي ډول دمیوند،ژړۍ او پنجوایي سیمې دکمونیزم خلاف جهاد کې هغه سیمې وې چې دروسانو دماتې او شکست محوري نقطې بلل کېدې په دې سیمه کې دکندهارهرات په لویه لاره دکمونسانو دومره زیات ټانګونه اونوروسایط تخریب شوي وچې دسرک پر یوه او بله غاړه دښمن دهغو سوځول شویو

تانګونو او پوځي وسائطو ديوالو نه وهلي وه څو دمجاهدينو له بريدونو څخه ځانو نه پري وساتي .

ملامحمدعمر(مجاهد) له روسانوسره دجهادي عملياتو په مخامخ نښتوکې څلور خله ټپي شوی او په ورروستي ځل ټپي کيدوکې يې خپله ښۍ سترګه هم له لاسه ورکړې ده .

ملامحمد عمر مجاهد دکندهار او همجوارو ولاياتو په سطحه دشوروی يرغلګرو او داخلي کمونيستانو په ضد دجهاد يو وتلی او مخکښ قومندان پيژندل کيده ، چې په خورا ډيرو جهادي عملياتو کې يې ټاکونکې ونده او رول درلود ، دلته به دنوموړي دروس ضد جهاد دمهال دملګرو له قوله يو څو خاطرې او يادوني دبيلګې په توګه رانقل کړو .

١ – دکندهار په ولايت کې ددښمن يوه خورا محکمه پوسته وه چې دبدوانو پوسته يې ورته ويله ددې پوستې سره دښمن په خورا حساس او حاکم ځای کې ټانګ درولی وو چې له انداخت کولو يې مجاهدين ډير په تکليف وو ديرومجاهدينو څوځله کوښښ ورباندې وکړ چې دا ټانګ وولي او مجاهدين يې له شره خلاص کړي خو له بيا بيا هڅو سره سره يې کوم مجاهد په ويشتلو بر يالي نشو بالاخره دسيمې مجاهدينوله سنګ حصار نه دمرستې لپاره ملا محمدعمر مجاهد راوغوښت او همدا ټانګ چې دبدوانودپوستي په ټانګ يې شهرت موندلی وو ملامحمد عمر مجاهد دخپل آر پي جي راکټ په توسط په ښه اوله منځه يووړ چې داپه هغه وخت کې مجاهدينو ته خورا ستره لاسته راوړنه وه .

٢ – له روسانوسره دجهادپه دوران کې دکندهاردمحله جات په سيمه کې په يوه مخا مخ جګړه کې چې دکندهار يوتن بل وتلی اوغښتلی مجاهد شهيدملاعبيدالله اخند چې ورروسته يې داسلامي امارت ددفاع وزيراو دامريکا تر يرغل ورروسته داميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد دنائب په توګه دنده ترسره کوله هم ورسره ملګری و، ددښمن دومره ټانګونه اوموټروسوځول چې په سبا ورځ له ليري نه کتونکوخلکوچې دا سوزول شوی کتار ليد نو ګمان يې کاوه چې قوه اوس هم ولاړه ده ، حال داچې دقوې زيات موټر سوزول شوي او نور يې واپس خپلو مرکزو ته په شا شوي وو

٣ – دروس ضد جهاد په مهال دکندهارهرات په لويه لاره دژړۍ ولسوالۍ دسنګ حصارپه سيمه کې دروسانوټانګونه تيريدل ملامحمدعمرمجاهدچې ملابرادراخند (چې بياداسلامي امارت نا ئب شو)هم ورسره ودروسانو په قوه دبريد لپاره يوازې دراکټ څلورګولۍ (مرمۍ)ورسره وي دوئ له همغوڅلورو ګوليوسره ددښمن په کتارجنګ شروع کړ چې په ترڅ کې يې په همدي څلورو مرميوددښمن څلور ټانګونه وويشتل .

٤ – ملابرادراخند چې له ملامحمد عمر مجاهد سره په جهادي دوره کې نږدې پاته شوی وايي چې ملاصاحب دومره زيات روسي ټانګان ويشتلي چې دکثرت له امله يې له ملګرو څخه شمير ګډوډ ووچې ټول به څومره وو.

په کال ١٣٧١هش، ١٩٩٢ز کې د نجيب دکمونستي واکمنۍ له سقوط اوپه هيواد کې دتنظيمي جګړوله پيليدوسره سم ملامحمد عمر(مجاهد) هم دنوروړښتينو مجاهدينوپه څير وسله له اوږې کوزه اوپه خپله جهادي سيمه کندهار ولايت، دميوند ولسوالۍ دسنګ حصار دګيشانو کلي دحاجي ابراهيم د مسجد ترڅنګ يې يوه ديني مدرسه جوړه اوپه همدي مدرسه کې ميشت شو اوله ١۴ ستونزمنو جهادي کلونو ورروسته يې دخپلو څوتنو جهادي ملګرو په ملتيا دخپلو نيمګريو شرعي زدکړو په پوره کولو بيا پيل وکړ.

دا هغه مهال ؤ چې دپلازمېنې کابل په شمول ټول هيواد تنظيمي بې هدفه جګړوپه سراخيستی ؤ، دخينو تنظيمي جګړه مارانو دشخصي غرضونواوهوسونو دترلاسه کولو له امله د مقدس جهاد سپيڅلي آرمانونه نيمګړي اودافغان مسلمان ولس ديونيم ميليون شهيدانو پاکې هيلې همداسې ترپښولاندې وې.

د فساد په وړاندې پاڅون او د اسلامي امارت تأسيس

د کمونيستي رژيم له سقوط وروسته ددې په ځای چې اسلامي نظام تاسيس شي او په دې توګه د مجاهد ملت د کلونو

کلونو ارمان پوره شي، خپل منځي جګړي پيل شوي،واقعي مجاهدين ديوي منظمي دسيسي له مخي ضعيفه اوياهم بيخي له صحني وايستل شول،څينو پخوانيو مجاهدينو هغه کمونيستان چي بايد محاکمه شوي واى په ځنګ کې ورسره ونيول او ځينو نورو په منظمه توګه دولس په لوټلو، بې آبه کولو او دوطن په چورتالان پيل وکړ.

په دې توګه په درست هيواد کې دهرج ومرج يو داسې تور دوران راغی، چې شايد پخوايي افغانانو ګمونه او بيلګه نه وي ليدلي، دمؤمنو هيوادوالو سر ،مال او ناموس هره شيبه له ګواښ سره مخامخ و، دهيواد په لارو او سړکونو د خودسره ، جاهلو او پست صفته ټوپکيانو ځنځيرونه او پاټکونه خپاره شول ، چې هر يوه د خپل مزاج موافق له بې وسه هيوادوالو نه بيوازې پيسې اخيستې، بلکې د هيوادوالو په عزت او ناموس يې هم صرفه نه کوله، دهيواد،دملي شتمنيو، مادي او معنوي پانګو، دجهاد د غنائمو او حتی د هيواد د ځنګلونو او کانونو داسې بې رحمانه چورتالان پيل شو، چې پخوا يې کله هم بيلګه نه وه ليدل شوې، مؤمن اولس چې څوارلس کاله يې جهاد کړی و نه تنها دا چې د جهاد ثمره يې دضياع له خطر سره مواجه وه ، بلکې ورځنی ژوند يې هم له خطر سره مخامخ و.

د هرج ومرج د فتنې له امله ټولنيز فساد، قتل وقتال، چورتالان، ظلمونه ، وحشتونه او د مسلمانانو رنځونه هره شيبه په ډيريدو و، چې دې حالت رښتيني مجاهدين هغوی چې د افغان مؤمن اولس د سوکالی ، ازادی او سرلوړی لپاره يې مبارزه کړې وه سخت خوړول.

ملا محمد عمر مجاهد چې دغه مهال له خپلو مجاهدو ملګروسره دکندهار په ميوند ولسوالی کې اوسيده، دنورو واقعي مجاهدينو غوندې د دې حالاتو ليدلودی هم ډيرزيات انديښمن کړی و نوموړي ليدل چې دکندهار – هرات په لويه لاره ګام په ګام پاټکونه جوړ شوي، او ټوله ورځ د هيواد مظلوم مسافر، ښځې او سپين ږيري د بداخلاقه ټوپکيانو په لاس لوټل کيږي ، بې آبه کيږي او وژل کيږي، بايد ووايو چې دغه مهال په کندهار کې پاټکونه دومره زيات شوي و، چې د هيواد تجاراننو چې له هرات څخه به يې د کندهار دسپين بولدک ولسوالی دويش بازړ ته مالونه راوړل، ددې په ځای چې په عمومي لاره خپل مالونه انتقال کړي د ډيرو پاټکونو له امله يې له هرات څخه راوړي تجاري اموال په ميوند کې ښکته کول او دريګ له لارې يې په دښتو کې په ډيرو تکالفو تر ويش پورې رسول ترڅودپاټکوالوله شره خوندي وي .

ملامحمد عمر مجاهد او دده مجاهدو ملګرو ته دکندهار ښار وضعيت هم ورمعلوم و، چيرته چې خودسره ټوپکيانو ښار کوڅه په کوڅه ترخپل منځ ويشلی و، د بيت المال ملکيتونه يې مسلسل غصبول او په نغدو پيسو يې پلورل او په دولتي ځمکو يې شخصي مارکيټونه جوړول، په دې سربيره يې تر خپل منځ هميشه جګړې کولې چې ترمنځ يې اولس ځپل کيده.

همدې بې پايه ناخوالو واقعي مجاهدين اړ کړل چې دفساد دورکولو او دمسلمانانو د سراومال د تحفظ په خاطر خپل وس وکړي، مجاهدينو ترخپل منځ مشورې او غونډې پيل کړې، ملامحمد عمر مجاهد او ملګرو يې خپله لومړنی غونډه د پنجوايي ولسوالی د زنګاوات په سيمه کې د سيمې له مشهورو او پيژندل شويو علماء کرامو سره جوړه کړه، ، د روس ضد جهاد په مهال د کندهار د مجاهدينو د عمومي قاضي مولوي سيد محمد صاحب (چې په مولوي پاسني صاحب يې شهرت موندلی و) په مشرۍ، د علماء کرامو دې غونډې ملا محمد عمر مجاهد ته وويل چې بايد د فساد په ضد قيام وکړي او دوی ټول يې ملاتړي دي، له همدې غونډې څخه ملا محمد عمر مجاهد د اسلامي تحريک اساس کيښود او د ۱۴۱۵ هـق کال د محرم الحرام ۱۵ نيټه د فساد او ګډوډۍ په ضد يې د مبارزې بنسټ کيښود.

د ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ اسلامي تحريک د فسادد مخنيوي په خاطر مبارزه پيل کړه، چې داولس اوربښتينومجاهدينو له پراخ هرکلي سره مخامخ شوه، لومړی يې

کندهار ولایت او ورپسې یې دافغانستان زیاتي سیمې له بې بندوباره او فاسدو ټوپکیانو تصفیه کړې،هغه مهال چې دهیواد ډیري سیمې دطالبانو تر تسلط لاندې راغلې وې د ۱۴۱۶ هق کال د ذوالقعدې میاشتې په ۱۵ مه نیټه دافغانستان دعلماء کرامو یو لوی ټولې چې شمیر یې تر ۱۵۰۰ زیات و، په کندهار کې یې د یوې غونډې په دائرولو سره د ملامحمد عمر مجاهد امارت تائید او نوموړي ته یې د امیرالمؤمنین لقب ورکړ، د ۱۳۷۵ هـ ش کال د میزان میاشتې په شپږمه نیټه د افغانستان پلازمینه کابل هم د اسلامي امارت تر تسلط لاندې راغله چې ورپسې د افغانستان د ټولو مرکزي او شمالي سیمو په شمول د هیواد په ۹۵ فیصده خاوره د اسلامي امارت حاکمیت ټینګ شو .

د ملامحمد عمر مجاهد په مشرۍ د افغانستان اسلامي امارت په افغانستان کې د شریعت په اساساتو ولاړ اسلامي نظام رامنځته کړ،له اوږده ځنډ وروسته یې یوځل بیا نړۍ ته داسلامي نظام ژوندۍ بیلګه وړاندې کړه،هیواد یې له تجزیې وژغوره او هم یې دبې مسؤلیته کسانو نه دبیت المال اسلحې را ټولې کړې اوبې مثاله امن یې راووست دا په داسې حال کې چې ټوله نړۍ دملل متحد په شمول دغه کار ته بې وسه او وارخطا وه خو نړیوال کفري مستکبرینو دا شریعت اوامارت ونه شو زغملی نوځکه یې په وړاندې دښمنانه دریځ خپل کړ او بې ځایه بهانې یې ورته لټولې ترڅو یې په پای کې ورباندې په ګډه پوځي برید وکړ.

دملامحمد عمر(مجاهد) قیادي شخصیت :

ملامحمد عمر(مجاهد) دیو قیادي شخصیت په توګه دځانګړي طبیعت اوسلیقې څښتن دی .

نوموړی دنړۍ دنورو چارواکو اولوړرتبه مشرانو برعکس له ځان ښکارونې او تظاهر څخه کرکه لري، له اړتیا پرته خبرو کولو ته چنداني لیوالتیا نه ښیي، خو دضرورت په وخت کې یې خبرې بیا ډیرې پخې، سنجول شوې او معقولې وي .دبیلګې په توګه په افغانستان باندې دامریکایي یرغل په پیل کې چې دامریکا یانو له لوري داسلامي امارت دله منځه وړلو اوپه تبلیغاتي لحاظ دمجاهدینو دمورال کمزوري کولو لپاره امریکایي هڅې ډیرې ګړندۍ رواني وې، او ټولې غربي رسنۍ ،راډیویي اوټلویزوني شبکې ورته وقف وې .

ملامحمد عمر(مجاهد) ددغوټولو شیطاني تبلیغاتي هلو ځلو په وړاندې په خورا مطمئنه او داده روحیه سره په خپلو عام فهمه اوساده خبروکې خپل ملت ته داطمنان او داد ورکولو داسې معنا لرونکی پیغام ورکړ:«الله تعالی په هرڅه قادردی په الله تعالی باندې دامریکا او دیوه میږي (میږتون)دقدرت هیڅ فرق نشته امریکایان اودهغوئ ملګري دي داخبره په غورسره واوري چې اسلامي امارت داسې نظام نه دی چې امیر به یې لکه ظاهر شاه (دافغانستان پخواني پاچا)غوندې روم ته ولاړشي او عسکر (افراد) به یې تاسوته تسلیم شي،بلکې دادجهاد منظمې جبهې دي .

که تاسوښارونه اوپای تخت لاندې، او اسلامي حکومت ړنګ هم کړې زمونږ مجاهدین به وطنونه او غرونه درته ونیسي بیا به تاسو څه کوئ؟ بیابه لکه دکمونستانو غوندې په هر ځای کې وژل کیږئ!

تاسې پوه شئ چې ګډوډې رامنځ ته کول اسانه ده خوبیرته دګډوډۍ له منځه وړل او نظام جوړول خورا ګران کاردی ، مرګ حق دی او هر چاته را ځي نوچې دامریکا په ملګرتیا کې دبې ایمانۍ اوبیغیرتۍ په حالت کې وي دابه ښه وي او که په اسلام کې له ایمانه سره دغیرت په حالت کې به ښه وي؟».

ښایي په هغه وخت کې دملامحمدعمر(مجاهد) په دغه عقیدوي وینا دډیرو ښاغلیو پوره سرنه وي خلاص شوی ،خو اوس چې ددغې نا انډوله حیرانوونکې معرکې له پیل نه قریب څوارلس کاله تیریږي اودامریکایانوپه شمول دناټو ترون اودهغوئ ټول ایتلافیان دملامحمدعمر (مجاهد)دتش لاسو عقیدوي مجاهدینو په مقابل کې له ښکاره ماتې سره مخامخ دي،

دنوموړي د هماغې تاريخي وينا په حقيقت بـه يـې سرخـلاص شوی وي .

دغه رازنوموړي دامريکايي يرغل په پيل کې افغان ولـس تـه ديـوې راډيـويي وينا پـه تـرڅ کـې يرغلګرواودهغـوئ ګوډاګيانوته په اشارې سره وويل چې :«وسلې مرګ کولای شي ،خومرګ ګرځولی نشي »ياده جمله همغه مهال ځينوته يوبې مفهومه ترکيب ښکاريده ،خودادی پـه تېروديارلسـوکلونوکې ديادمضـمون عينـي مصـداق نړيوالـو د سرپـه سـتوګووليدچې يرغلګروځواکونـو دخپلـې پـرمختللې ټيکنـالوژۍ اووسـلوپه زورديرمرګونه وکړل خوله ځانه يې مرګ ونشو ګر ځولی اودا ديـارلس کالـه مسلسـل دملامحمدعمر(مجاهد)پـه مشرـی داتلومجاهدينوپه لاس وژل کيږي ،ژوبل کيږي اونيول کيږي .

او دا يوعيني واقعيت دی چـې اوس پـه پرمختللـو وسـلو اوتجهيزاتو سمبال مغروريرغلګرځواکونه هم په افغانستان کـې دخپلوزرګونوپوځيانودمرګ ژوبلې ښکاره اعترافونه کوي.

دملامحمد عمر (مجاهد) په نظر ترډيرو ويلـو لـر عمـل کول ارجحيت لري ، دنوموړي ژوند له تکلفـي تشرـيفاتو ډيـر صفااوپاک دی ، سادګي اوبي تکلفه حالت يې دژوند پـه ټولـو اړخونو احتواکړې ، ساده لباس ،ساده خوراک، بي تکلفه خبرې ،بي تکلفه ناسته ولاړه يې فطري عادت دی ، تکلـف ،متکلفين اومتکلفانه کړه وړه يې هيڅ نه خوښيږي .

نوموړی قاطع والی ،تدبراواخلاص دکـارونو دپرمختـګ له اساسياتو څخه بولي اودملګـرو لـه منځـه يې هغـه څـوک ډيرخوښيږي چې مدبراخلاصمنداو جدي وي.

همدارنګه نوموړي له مشکلاتو ،مصيبتونو اوکړاونـوسره ښه ځان عادت کړی ،دهرډول لويې حادثې اومشکل پيښيدلو په مقابل کې يې وضعيت کاملا عادي وي ، ويره اووارخطايي يـې پـه زړه کـې نـه ورتيريـږي. دخوښـۍ او مصـيبت، کاميـابۍ اوناکـامۍ پـه مهـال کـې پرخپـل ځـان خورابـه کنـټرول لـري اومطمئن وي.

دعلـماوو او مشرـانو ډيـر درنـاوی کـوي، سـنګيني ، وقار،حياء ،ادب ،متقابل احترام ، خواخوږي ،ترحم اواخلاص يې طبيعي خصلتونه دي ،کلک عزم اوپه ټولو کارونو کې په يوه الله توکل اودهغه په مقدراتو ريښتونی بـاور يـې د ژوند ځانګړي مشخصات دي.

همـدالامل دی چـې ملامحمـد عمـر (مجاهـد) دخپلـو لارويانو او مجاهدينو په زړه کې داسې محبوبيت لري چـې د هغه تعلق نه په ظاهري منصـب پـوري دی اونـه پـه مـادي امکاناتو پـوري، اوس چـې دیرغلګرولـه لـوري دافغانسـتان لـه اشـغال نـه ديـارلس کالـه تيريـږي دهغـه ترمشرـۍ لانـدې عـام مجاهدين ماسوا له دې چې هغه مخامخ وويني يـواځې دهغـه شفاهي اومکتوبي اوامروتـه پـه داسـې احـترام قائـل دي، چـې دتعميل لپاره يې آن دخپل سر په قربانولو هم باک نه کوي.

دنړيوالو اسلامي قضاياوپه اړه يې اهتمام

ملامحمـد عمـر (مجاهـد) دطالبـانو داسـلامي تحريـک دمؤسـس اودمسـلمانانو ديـوه مشرـ پـه حيـث داسـلامي امـت دقضاياوو په اړه خاص اهتمام لري.

دمسـلمانانو دلـومړي قبلـې مسـجد اقصـی او دفلسـطيني مسلمانانو له برحقې داعيې او د نړۍ پـه لراوبـر کـې لـه داسـې نورو اسلامي قضاياوو نوموړي هميشه دفاع کړې اونوموړی له غاصبو صهيونسـتانوڅخه دمسـجد اقصـی ازادول دهرمسـلمان شرعي مسؤليت ګڼي.

ملا محمد عمر مجاهد د اسلامي امت په درد دردمند مشر دی،او لـه مسـلمانانو ورونـو سره اخـوت، همـدردي ، ايثـار او همکاري يې يوازې شعاري نه بلکې عملا يې هـم هميشـه ثابتـه کړې ده .

عقيدوي اوفکري انتماء يې:

ملامحمـد عمر(مجاهـد) پـه عقيـدوي اوفکـري لحـاظ دمسـلمانانو داهـل السـنة والجماعـة دمـنهج لاروی اودحنفـي مذهـب مقلددی .

د خرافاتو اوبدعتونوسخت مخالف دی ،دمسلمانانو ترمنځ يې مذهبي ، فکري اوتنظيمي اختلافات هيڅ نه خوښيږي .خپلو مجاهدينو اوټولو مسلمانانو ته په خپلو منځونوکې داسلامي وحدت اوفکري همغږۍ په ټينګولو توصيه اوټينګارکوي ، دمسلمانانوترمنځ عقيدوي وحدت او يو والی دوخت ترټولو اهم ضرورت ګڼي ، دقرآن اوحديثو په رڼاکې دسلف صالحينو او ائمه مجتهدينو په نقش قدم رفتارکول د اسلامي امت دنجات يوازينی لامل بولي.

شخصي ژوند يې:

ملامحمدعمر(مجاهد) چې د ژوند زياته برخه يې ددينې علومو په زدکړه او مطالعه ،جهاد،دعوت اوداسلام دلارې په خدمت کې تيرکړې دافغانستان دمعاصرو چارواکو په جمله کې شايد ترټولو نيستمن او دبيت المال له شتمنيوڅخه نه استفاده کوونکی شخص و بلل شي ؛ځکه نوموړي نه دتيرجهاد په مهال له خپل جهادي نفوذ څخه په استفادې سره دخپل شخصي ژوند دبرابرولو په اړه څه کړي اونه يې په افغانستان باندې دامارت د«۷» کلنې سرتاسري واکمنۍ په مهال کې.

ملامحمد عمر(مجاهد) تراوسه پورې نه کوم داوسيدلو عادي کور په ملکيت کې لري، اونه هم د بهرنيو هيوادونوپه بانکونو کې نغدې شتمنۍ.

په کال۱۳۷۸هش ۱۹۹۹ م کې چې دملګروملتونو دامنيت شورا له لورې په افغانستان باندې ظالمانه يوطرفه اقتصادي بنديزونه ولګيدل اوپه بهرنيوبانکونوکې دطالبانو دمشرانو دمالي حسابونو دکنګل کيدلو حکم وشو، ملامحمد عمر (مجاهد) دافغانستان داسلامي امارت دامير په توګه دامارت ترټولو لوړرتبه شخص ؤ چې نه يې دافغانستان په داخل کې اونه له افغانستان نه بهر په کوم بانک کې نه په خپل شخصي اونه هم په مستعارنوم مالي حساب درلود.

دامارت دحاکميت په مهال چې دنوموړي استوګنځی ددښمنانو له لورې ترمرګونو بريدونو لاندې راغی اود فاميل دنږدې افرادو په شهادت سربيره دګڼو نوروکسانو دشهادت لامل هم وګرځيده، نو دامارت ځينو چارواکو دنوموړي دحفاظت په مقصد دکندهارښارپه شمال لويديځ کې دباباصاحب دغره دکوتل لاندې سيمه کې چې نږدې خواوشايې کومه ولسي ابادي نه وه دنوموړي لپاره يو استوګنځی اوداسلامي امارت دمقام دفترجوړکړ، چې هغه هم دتصرف په لحاظ دبيت المال له عمومي ملکيتونوڅخه ګڼل کيده نه دنوموړي شخصي ملکيت.

په کال ۱۳۷۵- هش ۱۹۹۶ م کې چې کله دهيواد ديونيم زرعلماوواومخوروله لورې نوموړي ته داسلامي امارت دامير لقب ورکړشو نوموړي ددې په ځای چې دامارت دورسپارلو له امله دخوښۍ احساس وکړي دومره وژړل چې خپل داوږې لوی څادر يې په اوښکو لوند اودغونډې په پای کې يې حاضرو علماووته په خپلې تاريخي وينا کې داسې وويل :«اې علماوو! تاسو دخپل شرعي علم له مخې دحضرت رسول اکرم ﷺ دوارثانوحيثيت لرئ ، تاسوچې نن ماته دغه دروند مسؤليت په اوږوراواچاوه په حقيقت کې دهغه داستقامت اوانحراف مسؤليت ټول ستاسو په غاړه دی!

ای زموږاستاذانو درنوعلماوو! که خدای مه کړه له موږڅخه دمسلمانانوپه دې سترامانت کې څه تقصير اوانحراف پيښيږي دهغه سمونه او اصلاح ستاسو شرعي مسؤليت دی، تاسوبه دخپل شرعي علم په رڼاکې دې طالبانوته داستقامت اوپه حقه لاره دتللو حتمي لارښوونه کوئ ،که چيرې له دې طالبانوڅخه داسلامي احکامو د تنفيذپه اړه کوتاهي يا انحراف رامنځته کيږي اوتاسو هغه وينئ او داصلاح په اړه يې څه نه واياست دهغې پړه به دالله په نزد ټوله ستاسو په غاړه وي او زه به دسوال ځواب په ورځ ستاسو ګريوان ته لاس دراچوم».

طبيعت اوشخصي مزاج يې:

ملامحمد عمر(مجاهد) دخپلې خاموشۍ ترڅنګ يودول خاص ظرافت اوخوش طبعي هم لري نوموړی په هيڅ باندې که څه هم په هر لحاظ ترده کشر وي

ځان لورنه گڼي، له خپلو ملګروسره يې برخورد ډير مينه ناک ،صميمانه، باشفقته اوله متقابل احترامه ډک وي، په مجالسوکې زياتره دجهادپه اړه بيان کوي.

په اوسنيو حالاتوکې يې ورځنۍ مصروفيت:

اوسنيو ستونزمنو امنيتي شرايطو او ددښمن له لوري سخت جدي تعقيب دملامحمدعمر(مجاهد) په معمولي وظايفو اوداسلامي امارت د زعيم په توګه د جهادي چارو په تعقيب اوتنظيم کې کوم تغير نه دی راوستی.

نوموړی خپله کاري ورځ دالله عزوجل په عبادت اودقرآن کريم په تلاوت پيلوي او دفرصت په مهال دقرآن کريم دبېلابېلوتفاسيرواواحاديثومطالعه کوي ، ديرغلګرو په خلاف دجهادي چارو مراقبت په ډيرجديت سره کوي ،دجهادي اوپوځي امورو د ترتيب اوسمبالښت په غرض په معينه طريقه جهادي قومندانانوته اوامر اوتوجيهات صادروي، دجهادي نشراتي منابعواو نړيوالو خبري رسنيوله تعقيب څخه ديرغلګرو خلاف جهادي برياووانوروموضوعاتو جاج اخلي، اوله همدې لارې دهيواداونړۍ له ورځنيو پيښو څان خبروي . دغه مصروفيتونه دنوموړي دورځني ژوند اساسي مشغله ده.

د ملامحمد عمر مجاهدتر مشرۍ لاندې اسلامي امارت

د ملامحمد عمر مجاهد تر مشرۍ لاندې د افغانستان اسلامي امارت چې د ۱۴۱۵هـ ق کال د محرم الحرام د مياشتې په ۱۵ مې نيټه يې ديوه اسلامي خوځښت په حيث بنسټ ايښودل شوی او بيا يې ګڼ پرمختيايي پړاونه وهلي تردې چې د زرګونو علماء کرامو،مجاهدينو او عام مجاهد اولس ملاتړ او دهيواد په ۹۵ فيصده خاوره د اسلامي حاکميت د نفاذ وياړ يې ترلاسه کړی دی، د يوه سوچه اسلامي امارت په حيث لا هم د هيواد په زياترو سيمو سلطه لري او د غرب د کفري يرغلګرو په وړاندې په مسلحه مبارزه بوخت دی.

دافغانستان د اسلامي امارت د اوسني تشکيل په رأس کې اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد د زعيم او امير په حيث قرار لري، د نوموړي تر مشرۍ لاندې د امارت د نيابت مقام، رهبري شوری ، قضايه قوه، نهه اجرائيه کميسيونونه او دری نور اداري جوړښتونه فعاليت لري، چې همدا د اسلامي امارت اوسنی جوړښت يا تشکيل دی .

د امارت د نيابت مقام يا مشرتابه ، د ټولو ماتحتو اداراتو په نګرانۍ او مراقبت سربيره د هغوی کاري راپورونه تر اميرالمؤمنين پورې رسوي او د امارت د زعيم هدايات او اوامر و ټولو ذيربطه ادراتو ته رسوي.

د امارت رهبري شوری د شلو تنو په شاوخوا کې غړي لري، اعضاء يې د اسلامي امارت د زعيم لخوا ټاکل کيږي، او د امارت د نائب په مشرۍ غونډې کوي،دغه شورا د ټولو مهمو سياسي،پوځي،اجتماعي او نورو حادو مسائلو په اړه سلامشورې او پريکړې کوي.

د اسلامي امارت قضايه قوه يو جلا او پراخ تشکيل دی، چې په ابتدايه او مرافعه محاکمو او دتميز عالي رياست باندې مشتمل دی او په خپل کاري برخه کې فعاليتونه پرمخ وړي .

اوسنيو شرايطو او د وخت غوښتنو ته په پام سره د اسلامي امارت په تشکيل کې نهه کميسيونونه جوړ شوي دي، د جهادي جريان ضرورت ته په پام سره د تشکيل له مخې ترټولو لوی کميسيون نظامي کميسيون دی چې په لسو حلقو مشتمل دی،دنظامي کميسيون په تشکيل کې د افغانستان د ۳۴ ولاياتو لپاره نظامي مسؤلين يا واليان ،د ولسواليو نظامي مسؤلين دغه راز د ولاياتو او ولسواليو په سطحه کميسيونونه هم راځي چې د نظامي او ملکي چارو د څارنې مسؤليت په غاړه لري.

نور کمیسیونونه په لاندې دول دي، د تعلیم او تربیې کمیسیون، د سیاسي چارو کمیسیون، فرهنگي کمیسیون، اقتصادي کمیسیون، د صحت کمیسیون، د دعوت ارشاد او جلب وجذب کمیسیون، د بندیانو د چارو کمیسیون او دمؤسساتو دچارو کمیسیون .

د اسلامي امارت د اداري تشکیل پاتې ادارات د ملکي تلفاتو دمخنیوي اداره، دشهداء او معلولینو اداره او د ځینوخاصوعوایدو د راټولولو اوتنظیم اداره دي.

د ملا محمد عمر مجاهد تر مشرۍ لاندې اسلامي امارت د یوه منظم او برحاله نظام په حیث له تیرو څه باندې دوو لسیزو راهیسې د افغانستان په ډیره برخه حاکمیت لري، د خپل واک اوحاکمیت په ساحه کې یې په ریښتیني معنی اسلامي نظام حاکم کړی،امنیت تامین کړی او د مسلمان ملت سر، مال، عزت او ناموس یې په محفوظ کړی دی.

په دې موده کې اسلامي امارت د سیمي د یوازیني برحال اسلامي نظام په حیث له خورا ډیرو ازموینتونو او مشکلاتو سره مخامخ شوی، خوالله الحمد دالله تعالی په فضل او مرحمت تر دامهاله له تولو آزموینو بریالی او ژوندی وتلی او هر ځل یې په سختو شرایطو کې د ثبات او استقامت ثبوت وړاندې کړی دی .

حفظه الله تعالی ورعاه

ترتیب او ټولونه:

دفرهنگي چارود کمیسیون د تاریخ څانگه

د الا الله په زمزمو

استاذ فضل ولي ناگار

ما اذان انځور په شور و شرنګ د زنځیرونو کړ
زوړ ختیځ مې بیا خلمی په مستو تکبیرونو کړ

پرخه مې کوثر کړ د وینو د گل ټندې ته
وړي وړمه وړمه پېغام نسیم ولاړ دی منډې ته

سپین کمربند وتاره سبا راغی تیارو پسې
ځي جوپې جوپې ستوري د لمر په ښاپېرو پسې

شپه په سپیدو وچاوده ځانمرگې شان شپبه راغله
ته گریوان ځیرې د ناقوس د پیر توبه راغله

بیا زموږ رندانو الستي جامونه پورته کړه
بیا یې په شپېلۍ اسرافیلي غږونه پورته کړه

ډک په شومه دم چې وزرونو د جبریل وکړ
ډکه شوه فضا له جلال سور اور رودنیل وکړ

څومره کلک گوزار په ابرهه بیا ابابیل وکړ
ټول بوتان نسکور دي د توحید اواز خلیل وکړ

بیا ترې انگو د زمانې ته رنگیني راغله
بیا د الاالله په زمزمو باندې ځواني راغله

شاهد (غزنیوال)

امریکا ته داشرف غني وروستي سفر په اړه

غربي شنونکي امریکاته د ګډ حکومت د مشر اشرف غني د وروستي سفر په اړه بیلابیل نظرونه لري.

ځیني یې دا سفر د کابل او واشنګټن ترمنځ د ترنګل شویو روابطو ترمیموونکی او له لاسته راوړنو ډک سفربولي، او ځیني نور یې بیا د اوباما له لوري له سقوط څخه د ګډ حکومت د ژغورنې یوه هڅه ګني.

دری لوړ پوړي امریکایي سیاست وال او د پیښو څیړونکي هر یو جیمز ډوبینز (James Dobbins)

د افغانستان او پاکستان لپاره د اوباما پخوالی ځانګړی استازی، آغلې ریبیکا زمیرمان (S. Rebecca Zimmerman) د افغانستان او منځنۍ آسیا د چارو څیړونکې او جاسون کامبل (Jason H. Campbell)

د افغانستان د چارو سیاسي محلل، هم د دغو شنونکو په جمله کې دي چې امریکاته یې د اشرف غني وروستی سفر ارزولی او پر هغه خپل نظر څرګند کړی دی.

راند نړیوالو نشراتي شبکې (http://www.rand.org) له دغو دری واړو محللینو څخه د یاد سفر او د هغه د لاسته راوړنو په اړه پوښتلي، چې هر یوه یې په نوبت سره پوښتنوته داسې ځواب ویلی:

پوښتنه: امریکا ته د اشرف غني احمد زي سفر بریالی بولئ او که پر ناکامیو پرده اچول؟

زمیر مان: زما په نظر واشنګټن د ګډ حکومت د کابینې د نیمګړتیا او په نورو اړونده فعالیتونو کې د پاتې راتلو له کبله ناخوښ دی، په یاد سفر کې به اوباما حتما اشرف غني ته د هغو نیمګړتیاوو یادونه کوي کومې چې له تیرو شپږو میاشتو راهیسې نوموړی د هغو په پوره کولو کې پاتې راغلی.

که څه هم چې اشرف غني به له سپینې ماڼۍ څخه د اضافي مرستو په تیره مالي مرستو غوښتنه تکرار کړي، خو له افغانستان سره به دامریکایانو راتلونکې مالي مرستې د تیر په څیر بلاقید او شرطه نه وي، بلکې هرڅه به په دولتي اصلاحاتو او د فساد په له منځه وړلو پوري مشروطې وي.

جمیز ډوبینز: زه هم پر دې نظر یم چې په دې سفر کې به اوبا ما د ګډ حکومت پر مشرانو غني او عبدالله عبدالله باندې فشار راوړي تر څو د خپلو داخلي اختلافاتو په شاته غورځولو سره نیمګړې کابینه پوره او د حکومت د نورو تشکیلاتو په بشپړولو کې کوښښ وکړي، تراوسه دوی داوړه هیڅ داسې لاسته راوړنه نه لري چې د اوباما په مخ کې یې یادولو ته زړه ښه کړي.

جاسون کامبل: د ګډ حکومت مشران په دې خبره پوهیږي چې د دوئ د حکومت کامیابي او ناکامي په واشنګټن پوري تړلې ده، دوی تر اوسه په خپلو کړنو کې هیڅ داسې څه نه لري چې اوباما ته یې د پرمختګ د بیلګې په توګه وړاندې کړي.

تول هغه څه چې د ګډ حکومت مشران به یې له اوباما او نورو امریکایانو سره په رسمي غونډو کې یادوي هغه به راتلونکي هغه په پام کې نیول شوي

پروګرامونه وي کوم چې له دوي څخه یې په ساحه کې د پلي کیدو ډیره هیله نشي کیدای.

ریښتیاهم چې د ګډ حکومت غبرګ مشران د خپل حکومت په تیرې شپږمیاشتنۍ دورې کې له ناکامیو او نیمګړتیاوو پرته هیڅ د اسې لاسته راوړنه نه لري چې د یادولو ارزښت ولري ، خو دلاسته راوړنو پر خلاف یې نیمګړتیاوې او نواقص تر حساب تیر دي.

د کابینې نیمګړتوب، د ۳۱ ولایتونو لپاره د والیانو نشتون ، په خارجي سفارتونوکې د رسمي سفیرانو نه موجودیت ، د هیواد په مرکز او ولایتونو کې د امنیتي پیښو زیاتوالی ، د لویو لارو پر سر دمسافرینو یرغمل کیدل ، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي زیاتیدل ، اداري فساد ، په ولس کې د بیکارۍ د کچې لوړ والی او... ټول هغه موارد دي چې په تیرو شپږو میاشتو کې د یاد حکومت د یوه ناکاره محصول په توګه افغانانو لیدلي.

ولې په کانګریس کې د اشرف غني د وینا ګرم استقبال وشو؟

هغه څه چې یې هم د ګډ حکومت مشران او هم امریکایي چارواکي د واشنګټن د سفر لاسته راوړنه بولي هغه په امریکایي کانګریس کې د اشرف غني وینا ته بیا، بیا د امریکایي استازیو ولاړیدل او لاسونه پړکول دي ، چې دا کار د اشرف غني له شخصي او فردي تشویق پرته د ملت هیڅ درد نشي دوا کولای.

د شنونکو په باور په کانګریس کې د اشرف غني د وینا تود استقبال

دوه لامله لرلاي شي:

لومړی دا چې نوموړي په خپلې وینا کې ټول د اسې محتویات رایوځای کړي ول چې هغه ټول د امریکایانو لپاره او دهغو د مصالحو په ګټه ول .

دوهم دا چې امریکایي ګانګریس والو غوښتل په دې کار سره اشرف غني ته دکار کولو روحیه ورکړي؛ ځکه په تیرو شپږو میاشتو کې دپرلپسې ناکامیو له کبله خپله اشرف غني هم روحنا ماتي خوړلی مالومیږي ، خو په کانګریس کې د هغه د وینا ګرم استقبال او د هغه هڅونه د دې لپاره وه چې نوموړی پرخپل راتلونکي باوري او هغه ته داسې ذهنیت ورکړي چې تاسو ریښتیاهم په دې نازکو شرائطو کې د افغانستان د ولسمشرۍ وړتیا لرئ.

اشرف غني په داسې مهال کې واشنګټن ته وغوښتل شو چې تر بل هروخت په هیواد کې امنیتي او اداري وضعیت له بحران سره مخ وه.

په همدې ورځو کې د امنیتي پیښو زیاتوالی ، د لویو لارو پر سر د مسافرینو یرغمل کیدل ، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي تر ټولو زړه بوږنوونکي حادثه (د شهیدې فرخندې وژل کیدل) او په لسګونو نور داسې واقعات چې په ټولو مواردو کې د ګډ حکومت ناکامي ، بیواکي او بې کفایتي جوتوي اوج ته رسیدلي .

اشرف غني چې له یوې خوایې اداري واک ویشل شوی ، له بلې خوا د مجاهدینو د پوځي فعالیتونو تر سخت ګواښ لاندې راغلی په دغسې یوه خطر ناک وضعیت کې د خپلو خارجي مدافعینو(امریکایانو) هر ډول مادي او معنوي ډاډ او تشویق ته سخت احتیاج درلود .

هماغه وه چې له دې مضیقې څخه دخلاصون او دامریکایانو لخوا د ډاډ ترلاسه کولو په غرض واشنګټن ته ورو غوښتل شو او هلته ورته همدا د ګانګریس تود استقبال زمینه مساعده شوه .

کنه په حقیقت کې نوموړي د خپلو خلکو او هیواد په خلاف داسې جنایات تر سره کړي چې باید د امریکایانو د تحسین پر ځای د افغانانو لخوا مجازات کړای شي

محمدالیاس عاصم

سفر بی فرجام عین وغین به امریکا

و تبلیغات برده نوازی

چنـدی قبـل اشرف غنـی احمـدزی رئیس اداره کابل بـا دسته و ارکـان حکومـت دو سره اش راهی سفر به امریکا شد.

ایـن سفر کـه از قبل بسیار بـا زرنگـی طراحـی و دیـزاین شـده بـود، از ابتـداء و اغاز آن، تبلیغـات در مـورد، رسانهای غربـی را فرا گرفت.

اشرف غنـی درجریـان سفر بـا خنـده هـا و کـف زدن هـای بی مورد، ایستادن هـای از قبـل ترتیـب شـده، کنفـرانس هـای از گفـتمان تکـراری ووعـدهای میـان تهـی از طـرف امریکایهـا مواجـه گردیـد، ایـن امـر سبـب شـد تـا حلقـه بـه گوشـان را از خـود وعقل بی گانه سازد.

بـرده هـا بـدون اینکـه فکـر کننـد اهـداف امریکـا از ایـن خرخـره کـردن چـه اسـت، خوشبیـن شـدند وچیـزي کـه بـه زبـان امـد در توصیـف امریکـا، اشـغال آنهـا و توصیـف عساکرکشته شده آنها به زبان اوردند.

هـردو سران اداره کابـل گـمان بردنـد کـه همـه مشکلات آنهـا در آینـده حـل اسـت، همـه گـره هـای مغلـق خـلاص شـد و مسـائل مربـوط افغانسـتان دیگـر روی سیاسـت خارجی آنها در سه روز حل گشت.

آنها غافـل از ایـن کـه زمـانی حامـد کـرزی هـم همچـو آنهـا از طـرف امریکـا استقبـال مـی شـد، ولـی اکنـون وضعیـت دیگرگـون اسـت. حامـد کـرزی رئیـس پیشیـن اداره کابـل در زمـان بـوش در اول سـفر رسـمی اش بـه واشنگتن رفت، بـه همیـن نوعـه بـرده نـوازی مواجـه شـده بـود. مگـردر سیـزده سـال گذشتـه بـدون چـاکر بـودن روی هیـچ خیـر را ندیـد و اکنـون از طـرف همیـن ولـی نعمتـان امریکـایی خـود دیوانـه و مـریض روانی خطاب میشود.

زمـانی کـه ببـرک کارمـل بعـد از اشغـال شـوروی سـابق بـه روسیـه در نخستیـن سفـر خـود رفتـه بـود، در آنجـا از طـرف دومـای (پارلمـان) روسیـه بـا کـف زدنهـای مواجـه شـد، کـه یـک چـک چـک آن پـانزده دقیقـه را در بـر مـی گرفـت، ولـی ملـت افغانسـتان میدانـد که کارمل بدون چاکر کسی بیشتری نبود.

اکنـون اشرفـی هـا بایـد از ایـن خرسنـد نه شوند که گویا پارلمان وسنای امریکا با کـف زدن بـه اشرف غنـی وی را از گرفـت ملـت نجـات خواهـد داد، مسائل را بـر روی وی حـل خواهـد نمـود و میـدان جنگـی را کـه از قبـل باخته اند، از سر خواهد بوردند.

پارلـمان، سنـا و تـمام حکومـت امریکـا میدانـد کـه اشرف غنـی را مـردم افغانسـتان نـه، بلکـی جـان کیـری کـه یکـی از مـاموران دسـتگاه امریکـایی اسـت بـه اریکـه ارگ نشانده و به افغانها معرفی نموده است.

قابـل درک اسـت کـه افغانسـتان را کسـانی نجـات داده میتواننـد کـه وارثـین اصیل ایـن سرزمین انـد، زنـدگی انها بـا ملت خـود بـوده، در تـمام دردهـا و آلام بـا مـردم خـود شریـک بودنـد و بخـاطر نجـات کشـور و مـردم بـا جـان وخـون شـان حـاضر بـه قربـانی شده اند.

آنهـای کـه در حیـن اشـغال کشـور خـود از اشـغال بهـره بوردنـد، کشـتن و زخمـی شـدن، بـی خانـه شـدن و مهـاجر شـدن هموطنـان خـود را نظـاره کردنـد و خـود در فضـای آرام مصـروف عـیش و نـوش خـود بودنـد، هرگـز نماینـده ایـن ملـت شـده نـه میتوانند.

مـردم افغانسـتان امریکـا را نجـات دهنـده خـود نـه، بـل کشـور اشـغالگر مـی شناسند کـه بـر حـریم کشـور مـا یـورش آورده انـد، سبب بـه شهادت رسـانیدن هـزاران جـوان مسلمان ایـن کشور شده انـد، و هنوز هـم ایـن ملـت و خـاک را از گلـو گرفتـه، مـی خواهـد تابع میل آنها شوند.

مسـئله اصـلی در افغانسـتان از میـان برداشـتن اشـغال ایـن کشـور و گذاشـتن ایـن ملـت اسـت تـا در چهـار چـوب باورهـای دینـی خـود، دارای نظـام اسـلامی باشـند کـه بخـاطرش میلونهـا شـهید داده انـد، صـدها هزار بیوه و یتم را برجا گذاشته اند.

اگـر امریکـا فکـر کنـد کـه همـه افغانهـا همچو چند حلقه بگوش آنهابـه ایـن بـاور انـد کـه از اشـغال امریکـا قـدرانی کننـد، عسـاکر اشـغالگر کـه کشـته انـد، از آنهـا و خـانواده آنهـا امتنـان نماینـد، ایـن خیـال نادرسـت اسـت، چنیـن افـراد نـه افغانسـتان را درسـت شـناخته انـد ونـه هـم مـردم آزادی خـواه ایـن مرز وبوم را. سپاس

مفتي حبيب الله قاسمي
دديني علومو مدرس اوڅېړونکی

دریمه برخه

دهیواد په مطبوعاتو کې دعالمانو ونډه

٤

دسراج الاخبار دريم قلمي همكار عالم

ګـ مولوي غلام محي الدين افغان:

دهيواد د هغو نوميالیو عالمانو چې دهېواد دژورنالیزم په برخه کې يې زياتې هڅې اوخوارۍ ګـاللي دي څخه يـو هـم مولوي غلام محي الـدين افغـان مرحـوم دی اودنومـوړي لـوم ، هڅې دهېواد د ژورنالیزم په تاريخ کې ځلانـده دی اوهڅـې يـې دهیرولو نه دي .

لنده پېژندنه:

دغه نامتو عالم د ١٢٧٩هق كلونوكې په كندهار زيږيـدلی و ١ پلار يې عبدالرشيد نوميده ، تراتلس کلنۍ پورې په کنـدهار کې لومړنی زده کړې او د ملايـي مـروج کتابونـه ولوسـتل اوبيـا ايران ته مهاجرشو. په ايران کې يې اوه (٧)كاله دمهاجرت ژونـد تېر کړل ،په دې موده کې دزد کړو ترڅنګ دسيد جمال الدين افغان مرحوم له هڅو او د ((وېښتا)) لـه غورځنـګ څخـه خـبر اوترې اغېزمن شو ، اودسيد مرحوم د((افغان)) تخلص يې هـم ځانته غوره کړ.٢

دغه نامتو عالم بيا دهندپنجاب ته له نورو افغانانوسره د راولپنډۍ په سيمه کې مېشت شوه ،په دې مـوده کـې نومـوړي دځپلو ديني زده کړو دبشپړو له پاره هم هڅې وکړې .٣ اودغـه راز يې عصري ښوونځې هم ولوستل خوداښه ځرګنده نه ده چې نوموړي دختيځ (شرقي) پنجاب په کومومدرسو کې زده کړې له کومو استادانو وکړې؟.؛ دغه راز نوموړي په همدې مـوده کـې د ديني زده کړو ترڅنګ په ګنو ژبو کـې هـم مهـارت ترلاسـه کـړ .اود ښاغلی محمود طرزي دمعلوماتوسره سره سـم نومـوړی لـه پښتو او فارسي پرته په عربي اود هند په ډيـرو ژبـو لکـه: اردو، ګورمکهي ساستري سنسکريت ژبـو سره داسـې بلـدتيا ترلاسـه کړه چې له ستونزې پرته يې له دغوژبو ژباړه کولای شوی ٤.

هېواد ته بېرته ستنېدل:

امير عبدالرحمن خان چې په له يووېشت کلنــۍ پاچـاهۍ وروسته د ١٣١٩هـ ق کال جمادي الثاني په ١١مه پـه کابـل ومـړ زوی يې امير حبيب الله خان اعلان وکړ چې : زماد پلار د وخت فراريان په هروطن کې چې وي بېرته افغانستان تـه راتـلای شي .٥ دهمدې تبعيد شويو په ډله کې يوه دغه نامتو عالم و چې پـه ايران اوهند کې له پنځه وېشت (٢٥) کلن مهاجرت وروسته پـه

١ دافغـان يـاد دپوهـنـد رشـد مقالـه كابل پوهنتـون دژبـو اوداديياتـو پـوهنځي ١٣٦٠ال شپږم مخ.
٢ دژورناليزم مخكښان ١٢١مخ.
٣ مخکښي اثر ١٢٤مخ.
٤ په جنبش مشروطيت ٢٢مخ کې د سراج الاخبار ياده مقاله.
٥ مخکښي اخيست ځای ١٢٤مخ.

۱۳۲۴هق (۱۹۰۶م) کې بېرته کابل په داسې حال کې ستون شو چې ښې تجربې اوښې زده کړې يې ترلاسه کړې وې ، اوپه کابل کې يې په علمي حلقوکې ښه تود هرکلی وشو او په ((خانصاب)) يې شهرت وموند .٦

په سراج الاخبار کې د مولوي صاحب محي الدين قلمي مرستې:

ښاغلي افغان تکړه شاعر او دپښتو ژبې ښه کره ليکوال هم و ، او د ادبي سرى و ۷ دنوموړي فارسي اوپښتو ليکنې اوشعرونه به په ((سراج الاخبار)) کې خپريدل . ۸ نوموړي ژوند دمطبوعاتو دخدمت له پاره داسې وقف کړ ، چې ټول ژوند يې په هڅو اوبوختياوو کې داسې ډوب تېر کړى چې واده ته يې هم اوزګار نه شو.

استاد زرين انځور په سراج الاخبار کې دنوموړي پرهڅو داسې رڼا غورځوي اودصحافت په ډګر کې دنوموړي هڅې داسې ستايي : ((غلام محي الدين افغان د سراج الاخبار دپښتو برخې له نومياليو ليکوالو ، شاعرانو اوهمکارانوڅخه و . ... اودددغې جريدې په چلولو کې يې پرله پسې همکاري کړې وه نوڅکه نه شو کولاى چې دوطن دژورناليزم اومطبوعاتو په مخکښو څېرو کې دهغه نوم له ياده وباسو.))۹

دغه راز استاد زرين انځور کاږي : ((غلام محي الدين افغان د فرهنګ په تاريخ کې يو دياداوني اوستاينې وړ ځاى لري . هغه چې ښوونکى و، عالم و ليکوال و شاعر و اودسراج الاخبار دپښتو برخې په عمده کسانوکې ګڼل کېږي.))۱۰

٦ دغلام محي الدين افغان ژوند اوآثار : ۱۶او ۱۷مخونه.

۷ دمولوي مير حسين رادو کتاب (دافغانستان انقلاب) ۹۲مخ دجالندهر چاپ ۱۳۰۹ال کال. دژورناليزم مخکښان ۱۲۱مخ. دغلام محي الدين افغان افکار اوآثار داستاد زلمي هېواد مل ليکنه دکابل پوهنتون دژبو اوادبياتو پوهنځي ۱۳۶۰ال.

۸ جنبش مشروطيت مخ.

۹ دژورناليزم مخکښان ۱۲۱مخ.

۱۰ مخکنی اثر ۱۳۵مخ

مرحوم استاد حبيبي ددغه نامتوعالم پېژندنه داسې کوي: ((افغان دسراج الاخبار له ليکوالانو څخه و اويوښه شاعر هم و له محمودطرزي سره يې قلمي مرسته کوله))۱۱

لومړى: په سراج الاخبار سره د شعر په برخه کې قلمي مرسته:

ښاغلي مولوي صاحب محي الدين مرحوم شعرونه په سراج الاخبار کې خپاره شوى دي نوموړي په دې شعرونوکې يې د خپل وخت ډيرې نوې اوسترې پېښې هم يادې کړې دي. دنوموړي دشعر همدې ځانګړنې اودغه راز په مجموع کې د((سراج الاخبار)) خپاره شويو اشعارو ته پوهاند مجاور احمد زيار داسې کتنه لري :

((دابه ومنو چې په سراج الاخبار کې خپاره شوي شعرونه دومره شعريت نه لري او هنري ارخ يې کمزورى دى :مګر دې ته هم پاملرنه په کار ده چې دغه شعرونه د مضمون د محتوا او د اندو مانا له مخې له تېرو هغوى سره يوجوت بريد جوړوي ، يوشعر و ادب چې پېرى پېرى يې له ګل و بلبل ، مينې ، ښکلا ، ستاينو او غندنو او وياړونو او ويرنو پرته نور څه نه پېژندل ځنګه وکړاى شي چې په يو واريز ډول هم شعر شي اوهم شعار . دا لومړى هڅه ده چې په پښتوکې دنوي سياسي او ټولنيز شعر بنسټ کېښودل شي ...دسراج الاخبار دوره د ...پښتو او دري ادب له پاره يوه تمريني اوآزمايښتي دوره وه ....))۱۲

ښاغلي استاد حبيبي صاحب مرحوم د ((پښتو ادب تاريخ)) کې دښاغلي افغان مرحوم په شعر باندې داسې ځانګړې تبصره لري : ((غلام محي الدين د وطن د آزادى په تحريک کې لويه برخه لرله ، د ده پښتو اشعار انتقادي او اصلاحي خواوي لري ، د وطن د مينې جذبات پکې ښکاره وي ....))۱۳

۱۱ جنبش مشروطيت : ۵۷مخ

۱۲ دغلام محي الدين اثار اوافکار دولسم مخ.

۱۳ دپښتو ادب لند تاريخ دانش خپرندويې ټولنې چاپ.

مرحوم استاد عبدالروف بینوا یې پرشعر داسې کتنه لري: ((افغان ....په خپلو اشعارو کې یې د وطن نوي ارتیاوې څرګندولې ، د مینې او محبت سندرې یې ویلې))١٤

هو ! رښتیاهم د نوموړي په شعر کې د وطن دمینه ، ازادۍ او سمسورتیا هیلې په ښېو دي او د هېواد د علم او رڼا امیدونه پکې په ځلا او د وطن د ښکلا آرمانونه پکې په غورځنګ دي : اودغه راز یې درحمان بابا پرغزلو مخمس هم لري ١٥راځئ یوه شعر ته یې غوږ شو چې که څه هم موږ به پرې له خپلې موضوع وتلي ښکاره شو خو له ښېنې غوښتلو سره سره دنوموړي دشعر هغه ټوټې ستاسو مخ ته ږدم چې په سراج الاخبار کې خپره شوې دي او پورتنیو خانګړې پکې له ورایه ښکاري:

زړه زما ډک دی له مینې د وطن
خپل وطن ماته عزیز دی ترخپل تن
هریوګل مې دوطن پرمادیرګر ان دی
ترکشمیره ترپاربه ترلندن
شیرین ځان مې په شیرین وطن فدا دی
زه خودارنګه فرهاد یمه کوهکن
ګلستان مې د وطن لا درکنار دی
خارستان دی دوطن راته ګلشن
د وطن په حمایت کې ځان مباح دی
په دامینې کې لازم دی سرباختن
چې د چاپه سر سودا د وطن نه وي
سر د ده وي مستحق د بریدن
د چاپه زړه کې چې جنون د وطن نه وي
دهغه زړه خدای همیش لري غمجن
که څه دیر دي په جهان کې عزتونه
دیر عزت دی په خدمت کې دوطن
که څه دیر دي په جهان کې عزتونه
دیر عزت دی په خدمت کې دوطن

١٤اوسني لیکوال ١٨٨و ٨٩مخونه دښاغلي استاد روهیال له زیار سره.

١٥دنوموړي دغه غزلي په اوسني لیکوال کې شته؛ وګورئ: ٨٨مخ.

که څه دیر دي په جهان کې عزتونه
دیر عزت دی په خدمت کې دوطن

یوه بله په زړه پورې ټوټه شعر یې هم را اخلو :

بې کمال دباکمال کله همسر دی
هم قیمت کله ګوهر سره حجر دی

باکمال سړی په مثل دبادشاه دی
په ظاهر که مفلس اوقلندر دی

هو! رښتیاهم :مرغلره اوقیمتې کانې کله دعام کانې دقیمت سره برابر دی دغسې بې کماله سړی کله له باکماله سړي اوډپوهې خاوند سره برابر دی که څه هم دپوهې خاوند نېستمن اوناپوهه سړی دشتمنی خاوند وي قرانکریم هم دغه مضمون ستایي او فرمایي چې : ایا هغه کسان چې پوهه لري له هغو کسانو سره برابریدلای شي چې پوهه نه لري ١٦. څرنګه چې پوهه ستر نعمت دی له همدې امله د وحیې په لومړني پنځوایاتونه کې هم دقلم یادونه راغلې چې د قلم له برکته انسان پوهه ترلاسه کوي اودغه راز د پوهې د نعمت یادونه راغلې ده چې الله پاک په انسان باندې لوروي ١٧

دوهم: دنثر په برخه کې له سراج الاخبار سره قلمي مرسته:

په سراج الاخبار کې دمرحوم مولوي غلام محي الدین نثري ټوټې اودغه راز مقالې په فارسي اوډپښتو ژبو هم خپرې شوي دي چې دفارسي مقالې سرلیک یې داسې دی:((حالات خوشال خان)) او د پښتو مقالې سرلیک یې دی : ((افغانستان

١٦دالزمر سورت ٩ایت ژباړه . په پښتانه شعراء کې ځینې هغه عربي شعرونه دنوموړي دیاد او ویرنې په اړه رانقل شوي دي چې په هند کې دنوموړي دویرنې (مرثیې)په دول ویل شوي دي چې دلوړې کچې ادبي ښکاري ، چې له همدې شعرونو ښکاري چې نوموړي په هند کې هم مخورو پوهانو پیژانده اوله هغوی سره یې علمي رابطه وه پالله.

١٧دالعلق سورت لومړنی پنځه ایاتونه.

دسروزور مرغی دی)) نوموړي دغه راز دسراج الاخبار له پاره ځيني پښتو متلونه هم را ټول کړي دي چې شمېره يې يوسل اوڅلور (۱۰۴) ته رسيږي

دريم: دسراج الاخبار له لارې لومړني فرهنگي اعلان خپرول:

دغه نامتو نه يواځې داچې په سراج الاخبار سره قلمي همکاري کوله بلکې ددې ترځنگ دپښتوژبې دپرمختگ اوسوچوالي غم هم اخيستی واودپښتوژبې دپرمختگ له پاره يې زياتې هڅې کولې په همدې لړکې يې دسراج الاخبار د ۱۲۹۶ل دسرطان په گڼه کې يوه خبرتيا خپره کړې وه چې متن يې داسې و:

اول مقصد مو داعلان دادی چې زموږ مبارکه ژبه رواج پيدا کي او هرڅوک دي په باب کې دترقی دپښتو ښه ښه مضامين په افغاني کې وليکي اوپه واسطه ددې اعلان ټولوپښتنو ته خبر ورکوم که څوک زما يادبل چا دپښتو په مضامينوايراد (نيوکه) لري هغوی دې خپله مدعاء په پښتو کې وليکی ،که بنده دهغو له جواب عاجز شه هغه ته به پنځوس روپۍ په طور دانعام ورکړم . اووعده هم شپږ مياشتې ده .

احقر العباد غلام محي الدين افغان ۱۸

دغه کره کتونکي ډير ارزښناکه خبرتيا گڼې او دښاغلي پوهاند کاظم آهنگ په اند دغه لومړنی مطبوعاتي اعلان و چې نوموړي په پښتوژبه کړی دی ۱۹ اودښاغلی .پوهاند زيار.په اند ددې اعلان کې دپام وړ ټکی دادی چې : ((زموږ ليکوال او شاعران يې دانتقاد له پاره رابللي دي اوهغه داچې دوی په سراج الاخبار انتقاد وکړي)) ۲۰ او د ښاغلی استاد زرين انځور په اند: ((داز موږ په مطبوعاتوکې دنقد په هکله درواجولو لومړنی خپره شوې منظمه هڅه هم گڼل کيدلای شي)) .۲۱

۱۸دپښتو ادبياتو اوسنی دوره ۶۵مخ

۱۹ په افغان ياد کې دښاغلي کاظم مقاله ۱۰۸او ۱۰۹مخونه

۲۰ دغلام محي الدين افغان افکار اوآثارپنځه ديرشم مخ

۲۱ دژورناليزم مخکښان ۱۳۳مخ

له دې خبرتيا يوه بله گټوره تجربه هم اخيستلای شو اوهغه داچې : زموږ مشرانو نقد ته څومره په درنه سترگه کتل تردې چې دنيوکې په بدل کې يې جايزه هم ورکوله اودجايزې ورکولو له پاره وخت هم اوږد ټاکي داهغه ښکلی عادات دی چې زموږ دمسلمانانو مشرانو هم درلود ، دحضرت عمرضي الله عنه په سوانحو کې مورخين داخبره را نقلوي چې نوموړي به ويل : پرهغه چا دې خدای پاک خپله لورينه وکړي چې زموږ عيبونه رابنيي .

هو ! داسې ده چې ځيني نقدونه له ښه نيت نه وي ؛خوبياهم هر نقد ته بايد په بده سترگه ونه گورو اونه يې بايد په بد نيتي تعبير کړو ځکه د نقد له برکته وروسته ديوه کار پرمختگ شونی کيږي اوتکامل اود بشپړتياوو پړاوونو ته رسيږي. اونه هم بايد داسې وشي چې نيوکي موږ له خپل کاره ناهيلي کړي .

څلورم: دسراج الاخبار سره دقلمي همکاری ترځنگ تدريسي خدمتونه:

ښاغلي مولوي غلام محي الدين چې کله وطن ته راستون شو نوموړی دغه مهال د((حبيبه مدرسې)) دتاسيس څلورم کال و اوپه لومړی سر کې نوموړي د همدې مدرسې مدرس وټاکل شو .۲۲ بياد((حبيبه مدرسه))کې مشر-(صدر) مدرس و ۲۳. اودمدرسې تدريسي چارو څارنه به يې کوله، وروسته چې داستادانو دروزنې له پاره دارالمعلمين جوړ شو چې تاسيسې دچوپ فروشي په مدرسه کې وشو ؛ نو ښاغلی مولوي صاحب

۲۲ جمريانې افغان دپوهاند رشاد مرحوم مقاله : ۲۰نه تر ۲۳مخ پورې .

۲۳اوژورناليزم دتاريخ په کتابونو کې دنوموړي دهمدې ستر خدمت له پاره دمفتش کلمه کارول شوې ده . سره له دې چې په علمي حلقو دمفتش اودغه راز دصدر مدرس د علمي مقام ترمنځ زيات توپير شته اوهغه داسې چې صدرمدرس پخپله هم په تدريس کې اوږده تجربه لري اوپه تدريس هم بوخت اوله دې سره په خواکې دنورو مدرسينو دتدريس چارې هم څارې اودغه لقب ددېوبند په مدرسه اودغه راز دهند په نيمه کې وچې دنامتو عالمانو له پاره کارېده چې ډير وخت به يې دتدريس په ميدان کې اوږده تجربه لرله .

افغان دهمدې درالمعلمين مشر وټاکل شو اوشپاړس کاله یې په پرله پسې ډول د هېواد د بچيانو روزنې ته ورکړل.

يو محقق ليکوال دنوموړي دعلمي خدمتونه په هکله ليکي : ((مرحوم افغان له ۱۳۲۴ نه تر ۱۳۳۹ ق پورې دهېواد په تعليمي موسسو کې دښوونکې ، پلټونکې مدير اورئيس په رتبو کار کړی دی اوپه څوارلس پنځلس کالو کې یې د وطن ډيرو بچيانو ته دعلم او پوهې فيض ورپه برخه شوی دی.))۲٤

لکه څرنګه نوموړي نوم (محي الدين ۲۵) رښتياهم نوموړي هغسې ددين دژوندی کولو له پاره یې له کوم الايش او دنياوي موخې پرته ستر خدمتونه ترسره کړل ، له هېڅا یې دخپل خدمت بدل وله غوښت .

پوهاند رشادمرحوم دنوموړي په اړه ليکي : ((مولوي غلام محي الدين ترپواوړده ادبي علمي اوسياسي جد اوجهد وروسته موفق شو چې په وطن کې ډير فکر اوعلمي ملګري ومومي اودخپلو ښو افکار و په رڼا ډير دماغونه منور کړي نوځکه دافغانستان دتجدد په نهضت کې لويه برخه لري.))۳٦

مړينه:

وفات : دغه نامتوعالم ددوشنبې په ورځ داسد ۱۱مه ۱۳۰۰ل دذي قعدې ۲۸مه ۱۳۳۹هـ له دې نړۍ سره مخه ښه وکړه.

نوموړي ساده ژوند لاره او شپاړس کاله یې دشور بازار دپېښاوريانو په سرای کې اوسيده د مرګ تروخته پورې دکرايې په يوه ساده کې خونه کې وه او سېده او له وفات وروسته یې د خونې کرايه هم ملګرو پرې کړه ۲۷ .

ساده اوبې وزلی ژوند:

دنوموړي دساده ژوند په اړه پوهاند رشاد په پښتانه شعرا کې ليکي: ((افغان يو منور، زړور اودملګرو خواخوږی زلمی و . په ژوندانه کې یې تکليف نه درلود..... دخپل عصر- مفکر اودتجدد محرک و دوطني پرستي احساسات یې ډير تاوده اوشد يد و ، ټول عمر یې ملي کالي اغوستل، دغربي طرز لباسونه یې بد، ليدل (ښه نه اېسيدل))۲۸

په ژوند کې یې که څه هم په سترو حکومتي څوکيو کار وکړ خوبيايې هم دزهد اوقناعت ژوند غور کړ ، خوپه بيت المال کې یې هېڅ راز لاسوهنه ونه کړه او نه یې هم ددنياوي ګټو ترلاسه کولو هڅه وکړه دبې وزلي اوبې وسۍ داسې حيرانوونکی ژوند یې تير کړ اوپه داسې بې وزلي کې یې له دې دنيا سره مخه ښه کوله چې دخپلې کرايې خونې کرايه یې هم نه لرله. خدای پاک دده هڅې ورته قبولې اومونږ ته همداسې لوړ همت اودده په څير دښکليو تل پاته خدمتونه توفيق راپه برخه کړي.

---

۲٤ دافغان ياد مخ. ا و ژورناليزم مخکښان ۱۲۵مخ

۲۵ ددې معنا ده چې ددين راژوندی کوونکی . دغه نوم په اسلامي تاريخ کې داسې نامتو عالمانو ته دلقب په ډول ورکړل شوی دی چې په ژوند کې یې ستر ديني خدمتونه ترسره کړي و .

۲٦ پښتانه شعرا : ۶۹۸مخ نوی چاپ داستاد روهيال په زيار .

۲۷ ملي مبارزي داستاد محمدولي ځلمي ليکنه ۱۰۶مخ

۲۸ پښتانه شعرا دريم ټوک ۷۷۴پښتوټولنه د ۱۳۴۲ش کال چاپ او د ښاغلي روهيال په زيار اونوښت چاپ شوی پښتانه شعرا ۶۹۷مخونه. هيره دې نه وي په هغه انځور کې چې استاد حبيبي د جنبش مشروطيت ۲۱۷مخ کې خپور کړی د ښاغلي افغان وطني پګړی په سر ده اوساده وطني کالي په تن دي ، د نوموړي له جامې او څېرې یې دتواضع اوخاکساري ښېې له ورايه ځليږي مير صاحب محمد قاسم مرحوم یې هم ترڅنګ ناست ، چې په دې انځور کې یې ښکلې پګړی په سر لري او د عالمانو چپنه یې اغوښتې ده اوښکلې ګڼه ږيره هم لري .

لیکنه: (الف لام)

په جهادي بهیر کې

دچاپي خپرونو ونډه او مؤثریت

- ✓ که برېښنايي وسایل رابانديې بندکړای شي، بدیل به یې څه وي ؟
- ✓ دیوې مجلې ظاهري صحافت به ډېر مهم وي که محتوا ؟
- ✓ یوه خپرونه مثبته گڼل اوپرمغې دمؤثریت حکم کول دچا کار دی ؟!!
- ✓ یوه رسنۍ باید دهمفکره خلکو لپاره وي، که نه نور له ځان سره همفکره کړي ؟!

یوځل بیا دشهامت جهادي خپرونه دکالگنۍ په مناسبت دمقالو په تسلسل کې برخه راکوي او دادی له دې علمي خپرونې سره دزړه تړاو او تعلق دپورته عنوان په انتخاب دمجلې په مخ ځای نیسي، شايي چې مطلوبه نتیجه یې هم په همدې تړاو بنا وبولئ .

دلته دیوتمهید اودموضوع داهمیت په غرض دنبوي سیرت یوه لنډه واقعه اونبوي لارښوونه وړاندې کوو چې اصلاً دلیکنې غرض هم هغه څه دي چې په دې واقعه کې راغلي :

امام بخاري/ حافظ ابن حجر، ابن عبدالبر او ابن اثیر رحمهم الله ټولو دغه واقعه را اخیستې :

دخندق له غزوې وروسته رسول الله ﷺ په نبوي جومات کې صحابه ووته وفرمایل : دکفارو وروستی جنگ همدا و چې دعربو له مختلفو قبیلویې ایتلاف جوړ کړاوپرمونږ یې حمله راوړه اوهغه هم دادی مات شو، له دې وروسته به دوی دجنگ ډگر ته نه راځي، که ورځو، نومونږ به ورځو، خو اوس به دوی دژبې جنگ پیلوي .

دتورې په جنگ کې تاسې ټول راسره وئ ، دغه دژبې (شعروشاعري، خطابې، مدحې اوذم) (رسنیو) په جنگ کې به څوک برخه راسره اخلئ ؟!

کعب بن مالک، حسان بن ثابت او عبدالله بن رواحه ﵃ دری واړه پورته شول او ویې ویل : یارسول الله ! داجنگ به مونږ په مخ درسره وړو، هماغه و چې هریوه یې بیا په خپل خپل وار په دغه جگړه کې برخه هم واخیسته ...

کعب بن مالک ﵁ به خپله وړتیا په خطابه کې ښودله ، حسان بن ثابت ﵁ به درسول الله دمدحې او دکفارو ځوابي شعرونه ویل او عبدالله بن رواحه ﵁ به رزمي شاعري کوله .

دعمرة القضاء په ورځ چې رسول الله ﷺ له خپلو ټولو یونیم زر صحابه وو سره احرام تړلی او تلبیه یې ویله ، عبدالله بن رواحه ﵁ درسول الله ﷺ داوښ مهارنیولی اودا اشعار وایي :

ای دکافرو اولادې لـه مخـې يې لرې شئ

په هغه د نازل شوي قرآن له مخې به مو دا سې ووهو چې سرونـه بـه مـو لـه تنـو جلاکړو،

دوسـت بـه مـو لـه دوسـته هيرکړي ....او...

دحضرت عمرﷺ ورته پـام شـو، راغـی او ورتـه يـې وويـل : عبدالله ! څه کوې ؟! په احرام کې دتلبيې په ځای اشعار وايې ، اوبيا په داسې حال کې چې درسـول الله ﷺ داوښ مهار دې هم نيولی ؟!!

دپيغمـبرﷺ وربانـدې پـام شو ، ويې فرمايل : عمره! پرې يې ايـږده! دده داشـعرونه پـردوی ترغشو هم تېز لګيږي ....

درسـنيو دنـنـي ارزښـت اومؤثريت په برخه کې دې واقعې او نبـوي لارښـوونې تـه پـه پـام دخپلـو روانـو جهـادي مطبوعـاتي هڅو دلامؤثريت په پـار دکـالګنې لـه شـامته يوځـو تکـي راسره دي غـواړم لـه تاسـو سره يـې شريـک کړم.

له نيکه مرغه زمـونږ دګـران هيواد دخاورې امتزاج داسې دی چې هيڅ ناپاکه عنصرېکې وده نه شي کـولای اوپـــــه دې هيـــوادکې چـــې جهادي روحيه يې تـل دحقپالو علـماوو پـه حق پـالونکو وينــاوو اوقربــانيو تغذيه کيږي په هـيڅ وخـت کـې بـه يـې هـم مسلمان ولس دکـوم طـاغوت پـه ورانـدې لـه بيـا بيـا قربـانيو اوسرښندنو دريغ ونه کړي، اولکه څنګـه يـې چـې ثابتـه کړې بيا به هم دلته دجهاد نداته دمنـادي او لبيـک ويـونکي لـه نـه شتون سره مخ نه شو. ان شاءالله

خودجهاد اومقاومت په صف کې دقلـم، قلموالـو، اومطبوعـاتو پـه ونـډه کـې خبره اوږدولی شو په تېره دچاپي خپرونو په اړه چې زمونږ دهيواد لـه شرايطـو سره يې لاهم اثر په ځای دی اوټولو خلکو ته دبرېښنايي وسايلو دنـه لاسرسي لـه کبلـه اغېزمنې ثابتېدای شي، بلکې دخپل بېل نوعيت لـه املـه يـې ويلـی شـو چـې دنـه مؤثريت لامـل يـې دنويوووسايلوترموجوديت تـراو نـه لـري، مـونږ وينـو پـه کومـو هيوادوکې چې تقريبا ټولو خلکو تـه يـې يـادې اسانتياوې پـوره دي؛ بيـا هـم دغـو خپرونو خپل حيثيت ساتلی او ارزښت يې له لاسه نه دی ورکـړی، خـوداچې زمـونږ چاپي خپرونې په دې کچه برابرې دي اوکه نه ؟ ° شايد يوڅه تأمـل اوتوقـف وکـړو، داپه داسې حال کې چې اړتيايې دبل هرچا په پرتله په جهـادي بهيرکـې ډېـره حـس کيږي، ځکه چې دمرئي او برېښنايي وسـايلوواګې ددښمن پـه لاس کـې دي اوهـر وخت يې له منځه وړلای شي، خوچاپي خپرونې بيا زمونږ په خپل لاس او له هـر راز مداخلې بې باکه دي .

ديوې رسنۍ يا مجلې اوخپرونې بنياد چې دخلکـو داذهـانو د روښـانولو اولـه واقعيتونو يې دخبرولولپاره ايښودل شوی وي، ډېره اړينه ده ترڅو يـې چلـوونکي او مسؤلين معلومه کړي چې ايا مونږ خپلې غايې ته رسيدلي يواويا لااقل څو سلنه بـه خپل مقصد ته نږدې شوي يو؟ !!

بيخي ښکاره ده چې غايې ته درسيدو لپاره به لومړی خپرونـه پـه خلکـو منـل کيږي بيا به دمقصود په لور لوستوال له ځان سره بيايي، همدلتـه ده چـې دهـرې

خپروني چلوونكي چې دخپروني په بريالیتوب كې هيڅ كمی نه ويني اوفكركوي په دې لاركې يې هيڅ نه دي سپمولي °په خپله مجله اوخپرونه هيڅكله دنه مؤثريت، نيمګړتيا اوكليشه توب حكم نه شي كولای، ځكه به نوداحكم اوپرېكړه له دريم او بې طرفه كس نه خانته معلوموي اوبيا به په خپله كړنلاره كې بيا كتنه اودنوښت درامنځته كولو لاره چاره سنجوي .

كه كومه خپرونه په دې معيارنه وي عياره شوې شايد هڅې يې بې نتيجې وي اوډېرې قيمتي ليكنې هم پكې هدر تللې وي، چې هيچا به ترې كومه ګټه نه وي پورته كړي، يابه يې په قيمت نه وي پوه شوي ، دغه راز يوه خپرونه خو ددې لپاره نه وي چې له خپل همفكره اوهم نظره خلك له خپلو مطبوعاتو محروم نه كړي، بلكې ديوه فكر او نظريې مطبوعات خو دنورو خلكو دراخپلولو لپاره وي، نو ځكه به ددې خلكو دا حكم چې مطبوعات يې په ټولو معيارونو برابر، مثبت او مؤثر دي هيڅ اعتبار ونه لري.

نو دمؤثرو مطبوعاتو او مجلو لپاره دا ډېره مهمه ده چې د ظاهري صحافت او ښكلاپه پرتله يې محتوا ته ډېره پاملرنه وشي چې دا بيا ديوه سړي او يوفكر كارهم نه دی، بلكې په دې برخه كې دډېرو فكرونو او ذهنونو تجربو او همكاريوته اړتيا ده.

ماداسې نشريې ليدلې چې په ډېر ساده كمزوري كاغذ اوبې دوتنې به چاپېدلې ، خوكله به چې بازارته عرضه شوې ډېر ژر به پورته شوې او لا له ورانده به خلك ورته ترې وو، داځكه چې ځان يې په خلكو منلی و، لوستوال يې هم يوې طبقې او نظريې ته منسوب نه وو، هرچا خوښوله له اخلاقي معيارونو يې تجاوز نه كاوه اوسياسي تحليل به يې ډېر په زړه پوري وو.

هره خپرونه او چاپي خپرنيزه وسيله چې په پورته معيارونو برابره نه وي اودغه نكتې په پام كې ونه نيسي، هيڅكله به دامتياز دمالكينوداهدافو ښه نمايندګي ونه كړای شي اونه تنها داچې چاپ به يې ضياع او بې ځايه لګښت وي، بلكې كه نن دتنقيد له ګوتو پټه وي سبا به يې هرو مرو يوځوك د فن او قلم ځښتنانو مخته دقضاوت له پاره اچوي او هغوی به يې دمنل شويو قواعدو او ضوابطو په رڼاكې ارزوي اوحكم به پرې كوي، چې دنن دغه نه پاملرنه به بيا دسباورځې نه جبرانېدونكې ربړه وي .

په جهادي مطبوعاتي هڅوكې دنيمګړتياوو په مخنيوي كې له ټينګار نه مو تل موخه همداوي چې نه بايد ؛ زمونږ خپل مطبوعات زمونږ دمدعالپاره ناقض شي ، داپه داسې حال كې چې له وخته نه اغيار او غمازان په دې هڅه كې دي څو وښيي چې علما او ملايان نه شي كولای مطبوعات په مطبوعاتي اصولو اومؤثر ډول وچلولی شي ، سره ددې چې په افغانستان كې دمطبوعاتو ترويج علماوو كړی خو نومونه اوس دنورو يادېږي ، په افغانستان كې كه دمطبوعاتو دتأسيس تاريخي مخينه وكتل شي ؛ په دغه هيواد كې دمطبوعاتو لومړی بنسټ علماوو ايښی اودغه وياړ هغوی ته ورپه برخه دی .

ځكه نو زمونږ په ننيو جهادي مطبوعاتواوپه تېره چاپي خپرونوكې ادنی نيمګړتيا اوكجروي زمونږ دسبا ورځې لپاره لوی سندګرځېدلی شي ، داځكه چې كه څه هم دبرېښنايي مطبوعاتو مؤثريت ډېر زيات دی، خو سباورځ يې هيڅ نه دي پاته اوله دغه ټول مؤثريت سره ددغو برقي ذراتو عمر ډېر لنډ دی، نو كه سبا حساب كيږي په همدې چاپي خپرونو به كيږي اوبس .

داسلامي مقدساتو دسپکاوي بوږنوونکې څپې!

له کله نه چې غرب مشر به (اشرف غني احمدزی) دکابل ارګ ته پرغلګرو سره له یوې معاملې نه وروسته ننوتی ،له هماغې ورځې وروسته، نه یوازې کابل، بلکې ګرد هیوادکې داسلامي مقدساتو اهانت ، ملي دودونواو ولسي۔ عنعناتوته دسپکاوي یوه توره څپه پیل شوې اوښدي هره اوونۍ بلکې هره ورځ ولسونه دیوه داسې بوږنوونکې تراژیدۍ خبر اوري، چې غوږونه یې زیږوي!

داشرف غني دارګ دکوربه توب په لومړي وهلت کې دیوه تاریخي جرم دارتکاب په اساس یې یوازې په څلیروشتو ساعتونو کې دشمال دخونکارې تلوالې دیوه مشر۔ ډاکتر عبدالله په ملتیا له امریکایانو سره ددوی دپوځونو ددایمي هدو معاهده لاسلیک کړه او دټل لپاره یې افغانستان غونډې یو خپلواک هیواد دامریکایانو په مستعمره بدل کړ، ډیر نږدې وریپسې۔ داشرف غني امنیتي سلاکار او زاړه کمونیست (حنیف اتمر)په یوه ویدیوي کنفرانس کې د تلې ۲۵مه، ۱۳۹۳ل نیته جنوبي آسیا کې دیني مدرسې دترهګرۍ خالې یا مرکزونه وبلل او هغه هیوادونه یې پردي ملامت کړل ،چې دې دیني مدرسو ته وده ورکوي ،چې له امله یې په سیمه ایزو هیوادونو کې پر دیني مدرسواو دیني علماوو او دیني طلبه وو باندې. دځمکې ارته کره تنګه شوه او دزیاتوزدکړیالو طالبانو دروان تعلیمي کال په نیمایي کې مدرسې ترک او کورونو ته رخصت شول، خوعصري ښوونځي همداسې په کمال قوت سره شروع او چایي شاګردانو ته ترخه خبره هم لا تردې دمه ونکړه !

دیوې بلې اسلام ضد توطئې په صورت کې وریپسې۔ جوخت دمرتد (عبدالرحمن پنجشیري)غونډې، یو بل ارتداد رامنځته شو ،چې د کابل څخه په انګریزي ژبه خپریدونکې **Express** ورځپاڼې په ۴۵۱ ګڼه کې ددې عنوان لاندې چې **(The Islam of Taliban and ISIS)** ددې ورځپاڼې یوه لیکوال (**A.J.Ahwar**) (اهوار)، په ډیره بې باکانه لهجه دمخلوقاتو خالق جل جلاله په وړاندې ګستاخانه لهجه وکاروله، دقرآن کریم او حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارک شخصیت پسې یې بې حقیقته او نا درستې خبرې ولیکلې ،خوددې پرځای چې ددې ورځپاڼې چلوونکې دخپل مجرمانه کردار په لامل دکابل چارواکې علني محاکمه کړي، بدبختانه ، هم کابل ایکسپریس چلونکیو او هم یې مرتد شوي لیکوال (اهوار)ته نجات ورکړل شواوچې خلک پرې خبریدل دمرتد شوي عبدالرحمن پنجشیري غونډې اهوار مرتد هم دلویدځ دکنګرو دروازې خلاصې شوې اوسپین بازان ترې جوړ شول ،عجیبه خبره داده، چې کابل کې کوم څوک داسلام سپکاوی وکړي او ولس پسې لرګې راواخلي، چارواکې اوغرب پالې رسنۍ ورته دخلاصون لپاره دلیوني نوم ورکړ ي ،او دلیونې په نوم یې له محاکمې نه خلاص کړي .

دې هنګامې لا دولسونو غوږونه کړنګول ،چې په اصطلاح دافغانستان مشرې میرمن (لاراغني /بي بي ګل)د لړم ۹مه ۱۳۹۳لنیټه دپاریس حکومت لخوادمسلمانوښځو دحجاب دبندیزخبرخپور شو، ددې بشري او شرعي حق دسلب دغندنې پرځای ترې مشرې میرمن ننګه اودفرانسویانو دحجاب ضد حرکت یې وستایه او ویې ویل: چې څادرې کې ښځې

رندې ښکاري ، دفرانس پریس خبرې اژانس سره يې په یوه مرکه څرګنده کړه ، چې حجاب او برقعوسره ښځې تکلیف دي اوورته ارتیا نلري ،چې داپخپله دیوه اسلامي اصل او افغاني روایت هتک او اهانت دی دا چې نوموړې پخپله عیسوی میرمن ده، نو داسلامي مقدساتو سره يې دخپل ضدیت څرګندونې د دعقیدې او ضمیر استازولې کوله .

دځه وخت لپاره دا سلامي مقدساتو دسپکاوي څپه خاموش شوه، چې پاریس کې دیو شمیر مسلمانوخوانانولخوا دطنزي مجلې (چارلي ایبدو) ،(هغه چې داسلام دستر پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم کارتونونه یې دیوې دنمارکۍ ورځپاڼې په څیر چاپ کړي وو)په دفتر برید وشو،چې له امله یې ددې مجلې نږدې (۲۰)چلوونکې او کارتونستان ووژل شول او سمدستې ددې مجلې نورو چلوونکیو په زرګونه نور داسې اهانت آمیزه کارتونونه چاپ او دعامو مسلمانانو احساسات یې راوپارول ،یوځل بیا کابل کې هم په ورته ډول دیهودواو نصاراووپه لمسون یوشمیر نا افغانانو بیا داسلامي مقدساتو اهانت پیل کړ .

دیوځه خند نه وروسته بیا دکابل فضا یولړ اسلام ضد اودتوهین آمیزو تحرکاتو ګردونو خره پره کړه اودخینو لویدیځو کړیو په لمسون داسې پاروونکې اعمال ترسره شول، چې ورسره خوجت داشرف غني احمدزي او عبدالله دحکومت اصلي څیره برملاشوه ،دې اواخرو کې دکابل یوې مؤسسې دخر(حمار)دحقوقواو خره ته ددرناوې لمانځغونډه جوړه کړه او(خر)یې دتولنې دیوه فرمانبرداره خادم په توګه وستایه، چې حقیقت کې کابل غونډې خای کې د(خر) په باب غونډه پداسې حال کې ترسره شوه ،چې اشرف المخلوقات انسان په بشپړدول له حقوقومحروم او دپردیو لخوا تحقیرېږي .د(خره) په باب دستاینې غونډې، دیهودو دهغه رسم او مذهبي دود څخه سرچینه اخلي ،چې هغوی کال کې یو کرت د(خره) اعزاز غونډه جوړوي او بیا پکې خر په اوږو پورته کوي ،که نه د(خره) غونډې نور حیوانات هم شته ،چې آن غوښه يې خوړه کیږي ،شیدې ورکوي او بچې يې هم لوړ ارزښت لري، خو ددې سربیره درناوی دهغه حیوان (خره)کیږي چې یو ډول ارزښت هم نلري .

وړاندې دننګرهارولایت دغني خیلو ولسوالۍ دګولاهي په کلي کې دکابل داداري عسکرو دقرآنکریم نسخې په تبرونو او چاړو ووهلې او ویې شلولې ،عسکروته د عدم مجازات په لامل ویل کیږي، چې ددې ولایت والي عطاءالله لودین دشنبه په ورځ د وری ۱، ۱۳۹۴ ل نیټه له ولایت نه استعفاء ورکړې او کار یې پریښی.

دفتنې دیوې بلې څپې په شکل همدې ورځو کې پسې یوه ښځه دکابل واټونو ته پداسې حال کې لوڅه راووته چې دحجاب اندامونوته یې اوسپنیزې جامې اغوستې وې او دستر خایونه یې خلکوته په اهانت آمیز صورت څرګندول ،داددې لپاره چې دستر او شرعي حجاب پرضد غبرګون وښیي، دبهرنیانو په هڅونه یې داډول توهین آمیزحرکات وکړل، پدې تعاقب لا دافتنه قرارنه وه، چې دمدني تولنو نږدې د شلوپه شاوخواکې په اصطلاح مدني فعالانود کب میاشتې په ۱۴مه ۱۳۹۳ل نیټه دښځو شین رنګه څادرې اغوستې وې او دکابل ښار په واټونو کې یې دحجاب پرضد مارش کاوه، څو چې دبشر۔د حقوقو سازمان دفتر ته ورسیدل اوهلته یې دښځو داسلامي اوملي حجاب پرضدپریکړه لیک ولوست ،او دیوې بلې فتنې درامنخته کیدو په موخه، دادی دې وروستیوکې دکابل په شاه دوشمشیره زیارت او جومات کې د(فرخندې) په نوم یوه ښځه چې ،چا ویل قرآن کریم یې وسوخاوه او چاویل چې دا ددې پرضد کومه پلان شوې دسیسه وه ،ووژل شوه او وسوځول شوه، چې خینو تحلیلګرانویې پره پر مدني تولنو او غرب مشربه عناصرو لدې امله واچوله، چې داسلامي مقدساتو پرضد دې وروستیو کې همدې مدني تولنو او خارجي موسسو یو لړ پاروونکې حرکات وکړل او دمسلمان ولس ذهنیت کې يې دمقدساتو دسپکاوي دانتقام اخستلو روحیه تقویه کړه ،او افغانان یې دومره په رواني او ذهني ډول وخپل ،چې نور که هر څوک داسې توهین کوونکی حرکت کوي، نو په طبعي ډول به دداسې یوه ترخه انجام سره هرو مرو مواجه کیږي ، چې دادی د(فرخندې) دوژنې او سوځونې پیښه یې ښکاره تصویردی ،که

مخکې داډول سپکاوی مقدساتو تـه نـوی شـوی، شـاید ولسـونودومره ژر دیوې داسې پیښې پرضد دومره کلک غبرګون نه وی ښودلی .

اوس دا خبره چې داشرف غني په مشرۍ دګډ حکومت په وخت کې ولي داسـلامي مقدسـاتو ضـد دسیسـې د(حامدکرزي) دواکمنۍ څخـه څـو واړې ډیـرې شـوي؟ اوولـې هـره ورځ خلک داسلام پرضد هیـواد کـې دیوې ورتـه دسیسـې نـه ویـره لـري ؟ښـایې خـــواب یـــې دیـــر روښــانه وي ،او هرڅوک پـرې وپوهیږي، چـې دا لـه اشرف غني او عبدالله څخه دامریکـا پـه سـفارت کـې دامریکـا دخارجـه وزیر(جان کیري) هغه ژمنه اخستل وي ،چې ارګ ته له ننوتلو وروسته بـه دمګـړی داسـلامي مقدسـاتو پرضـد دتـوهین پلانونـه پیلیـږي او دوئ بـه یې مرتکبین نه مجازات کـوي ،بلکـې دنجات لاره به ورکوي .

اشرف غنـي او عبـدالله چـې دواړه پـه نفسـیاتي لحـاظ ضـعیف النفســـه څیـــري دي،او دتـــل لپـــاره دپردیـو پـر اخـور لـوی شـوي دي ،دارګ قیمت له اسلام څخه ستر بـولي اود خـدای تعـالی او خپـل ولـس نـه ورتـه دخـارجي بـادارنو خوشـحالي او رضا ډیر ارزښت لري ،که نه نوولي پـه یـوه کفـري هیـواد کـې داسـلامي مقدساتو داسې پرله پسې اهانت نه کیږي! ښنګه چې دافغانستان په څیر یوه اسلامي هیواد کې کیږي ! .

اشرف غني که یو ې خواته له خپلې عیسوي میرمن (بي بي ګل) نه مجبور دی، نو بلې خوا ورتـه امریکایـانوجنرال دوستم غونـدې کمونسـت خونکـار دمرستیال او دعبـدالله غونډې مذبذب او متنازع فیه کس اجرائیه رئیس ټاکلی ،احمدزی دپاڼ او پرانګ منځ کې ګیر دی ،ددیني مقدساتو پرخای ورته دیموکراتیک اصول او دافغانیت پرځای ورتـه دځپلو محسنو بادارنوراضي کول ،دوخت یـو غـوراوی ښـکاري، نـو یـې نتیجـه کـې هیـوادکې دې دینی یا علمانیـت دروازې خـلاصي کـړي او خلـک یـې دبرخلیـک پـه څلورلارې کـې پـه هیښونکې ډول ودرولي دي !

آندونه او اټکلونه داسې دي ،چې دګرد هیواد او دکابل پـه سـطحه داسـلامي مقدسـاتو دتوهین توده څپه ،دنصاراوو او یهودو داسلام ضد دسیسـو هغـه برخـه ده، چـې لـه املـه یـې دځپلو یرغلګرو زرګونو عسکرو دوینو په نذرانودې یرغل او هیوادنیونې ته زړه ښه کړی و، او دا د دوئ هغه ارمان و،چې له کلونو کلونوورته لیوال وو،نن چـې دهمـدې هـدف لپـاره پـه سیمې کې پوځي او سیاسي حضور لري، نوچې نن داسې تخریبـي اعمـال تـرسره نکـړي، نـو کله به یې سرته ورسوي !

لویدیځوال غواړې چې دولسواکۍ تر نامه لاندې، په تدریجې ډول داسـلامي مقدسـاتو پرضد همداسې پروژې مخکې بوځي،څو دیـوې خـوا ولسـونه ددې مقدساتوله سپکاوي سره عادت کړي او نور یې په غبرګون ستومانه کړي او دبلې خوادځینو عیسـوي مؤسسـو او مـدني تولنوترپوښښ لاندې عیسوي دعوتي کمپاین دومره تشدید کړي، څـو راتلـونکې پـه اصـطلاح دیموکراتیک افغانستان کې که فرضاً امریکایان ترې ووځي هم ،نو چې ترښا یې دعیسـوي او یهودي لړکیوتر عنوان لاندې یو شمیر داسې مرتد شوي، نـا خلفـه افغانـان پریښـې وي، چـې پارلمان او حکومت کې ورته داقلیتونو حقوق ورکـړي شي او دا دعوی دامریکایـانو صـحیح شي ،چې افغانستان کې نا مسلمان اقلیتونه هـم شـتون لـري، نـو بایـد چـې افغانسـتان ورتـه نړیوال منل شوي حقوق ورکړل شي!

په لنده توګه به ووایو، چې کابل کې داسلامي مقدساتو داهانـت روانـې توپـاني څپـې، په شعوري بڼه سنبال شوي او کومه تصادفي پیښـې نـدي ،کـه څـوک ورتـه داتفـاقي پیښـو لـه عینکو ګوري ،یوه ستره اشتباه او ننګونه به وي ،څو حالاتوته په کتو او څومره چې له اسلام سره دافغان قوم دمینې او خواږۍ کچه ده،هغـه داده چـې کـه بهرنیـان داسـې نـورې تـوهین آمیزې پروژې هم په لاره واچوي امید دی، چې خپلو شومو ارمـانونو کـې بـه کامیـاب نشي، اونه به یې دا وړۍ شړۍ شي!!

خلیل ـ عزیز

غلام دبادار په درشل کې

له اسلامي ارزښتونو او افغاني جوړښتونو سره په داشرف غني دحساسیت او دښمنۍ تردې لوی مثال او ښکاره دلیل بل څه وي چې هغه په ټول افغانستان او ګرده اسلامي نړۍ کې خپله میرمن یوه عیسوی انتخاب کړه، هغه هم هغه شعوري عیسوی چې دخپل ټول ژوند محصول او ارمان په اسلامي ټولنو کې دهغو اساساتو نړول ښیي چې دمیرمنو په اړه موجود او دهغې په فکر لوی ظلم او زیاتی یې بولي.

داشرف غني دمیرمنۍ هغه څرګندوني چې دفرانسې دخبري اژانس سره یې وکړي، هرچا واوریدلي چې دخپل خاوند له تاکل کیدو وروسته یې دمرکې په مهال وویل: هغه غواړي دافغاني میرمنو له اذهانو هغه تو پیرونه او محدودیتونه لیري کړي چې په مغ کې یې پراته دي، په خاص ډول ددین او عقیدې په برخه کې، په دې معنا چې افغاني میرمني باید داسې شرایط په مغ کې ولري چې وکولای شي، په خپله خوښه خپل دیني تګلوري، که هغه اسلام اوي یا عیسویت وي ومني!!

همدارنګه داشرف دمیرمنۍ، هغه څرګندوني چې داسلامي او مروج حجاب په برخه کې یې وکړي او دفرانسې له اسلام دښمنه پالیسۍ سره یې ښکاره ملاتړ وښود هرچا واوریدي.

نو ددغسې یو شخص اوبیا په اصطلاح ولسمشر! څخه چې په خپل کور کې یې دعیسویت دتبلیغ لویه دستګاه فعالیت ولري او دافغانستان په تاریخ کې په رومبي ځل په ارګ کې کلیسا جوړیږي اودده په ګوتو پرانیستل کیږي، نو له هغه څخه به دخیر او دافغاني ټولني دفلاح تمه او امید کول لویه اشتباه او څرګند حماقت نه وي؟

اشرف غني، امریکایانو اوغربیانو ته دخپلې غلامۍ ثبوت، که څه هم دخپلې، دلوړي په دریمه ورځ دامنیتي تړون په لاسلیک ثابت کړاو داخبره یې جوته کړه چې هغه دکومې موخې اوماموریت لپاره ټاکل شوي او دکاراو دوري لمړي تو بونه یې څه دي!!

خو دادی له کابو شپږو میاشتو وروسته یې امریکا ته په خپل رومبي سفر اوله امریکایي چارواکو سره په کتني او کانګرس ته په خپله وینا کې نورهم له خپلې ځیري څخه پرده پورته کړه او امریکایي ولس او واکمنو ته یې ځان وروپیژانده چې هغه څوک اودچا دمصالحو او منافعو لپاره په افغانستان کې دنده او مصروفیت لري.

لکه څنګه چې توقع کیده، هماغسې د امریکا په کانګرس کې اشرف غني هغه ټکي له خولې راوویستل چې سراسر چاپلوسی، تملق او دبادار په حق کې دیوه غلام ځای او حیثیت په ګوته کول دي، هغه وویل: افغانستان ځان د امریکا او دهغې د ۲۳۰۰ تنه پوځیانو د وژنې سخت پوروړی بولي؛ کوم چې د خدمت او آزادۍ په لاره کې قرباني شوي دي. هغه زیاته

کړه: ((د افغانستان خلک، ستاسو د سرتېرو او د هغوی د قربانیو تقدیر کوي، کومې چې د افغانستان د آزادۍ په لاره کې ورانديې کړي دي)). نوموړي پر دې هم بسنه ونه کړه او ویې ویل: ((موږ ځانونه د هغو پوځیانو پوروړي ګڼو چې د خپل بدن غړي یې د ځای پرځای شوو بمونو د انفجاراتو په ترڅ کې له لاسه ورکړي دي، ځانونه د هغو زړورو متخصصینو او کورنیو مدیون ګڼو، چې خپلې د زړه ټوټې یې دده په کرغیړن برداشت د تروریستانو په وحشیانه بریدونو کې له لاسه ورکړي دي.

هغه وویل، موږ باید درک کړو او په عین وخت کې دا باید وستایو، چې دا د امریکا خلک وو، چې د خپلو عوایدو د مالیاتو له امله یې د دغو دوارو هېوادونو ترمنځ همکاري دومره ژوره کړه، چې په کانګرس کې زما د نن ورځې وینا به د هغې بیانوونکې او څرګندونکې وي!

کانګرس ته د اشرف غني خبرې او له وحشي یرغلګرو څخه د هغه مننه او قدرداني وه، چې دده د هرې ګوډاګي ادا او دروغجنو جمل په ویلو سره به د مجلس حاضرو کسانو او د دوارو ګوندونو؛ ډیموکرات او جمهوري غوښتونکو له خوا لاسونه پړکېدل.

د کابل د اجیر رژیم مشر، دامریکا کانګرس ته په خپلې ورستۍ وینا سره په اثبات ورسوله چې امریکایان د هغو دوه نیم لکه افغانانو چې وحشي لښکرو یې د تیرو ۱۴ کلونو په اوږدو کې شهیدان او یو نیم میلون یې شکنجه کړل او په کراتو مراتو یې داسلامي اوافغاني ارزښتونو او مقدساتو قصد دي سپکاوی وکړ، له امله یې هیڅ ډول جرم او ګناه نلري !!

موږ له اشرف غني څخه پوښتنه کوو، لکه تا چې په امریکا کې له cnn تلویزون سره په مرکه کې وویل چې هغه دامني چې تراوسه افغانستان ثبات او استحکام نلري او طالبان لاهم یولوی ګواښ دي، خو دافغانستان جګړه او هلته دامریکایانو مداخلې خپله امریکا ته امن او استحکام ورو بښه او له یولسم سټمبر ورسته هیڅ داسې لویه پیښه امریکایانو ته مخې ته رانغله چې هغوی تهدید او یا یې له خطر سره لاس او ګریوان کړي.

نو که رښتیا هم ته (اشرف غني) دامریکا او غرب لوی ګوډاګی او دهغوی دګټو دخوندیتوب او تمثیل متفکره څیره ونه اوسې، نو دیو افغان او یا دولسمشر په ډول دغه رنګه توري او جملې له خولې راویستل کومه معنا او مفهوم لري؟

یعنې ته په صراحت وایې او همدغه دې ستراتیژي هم ده، چې افغانستان دې دجګړې په اور اوباروتو کې لولپه شي او له ۱۴ کاله ورسته دې هم دغه مظلوم ولس دامریکا دخاصو استعماري هوسونو او ستراتیژیکو ګټو په تنور کې وسوځیږي، خاص ددې لپاره چې امریکایان دارام ساه واخلي.

نواوس دې باضمیره افکار قضاوت وکړي، چې په دغسې یو افغان اولسمشر! باور لرل او اعتماد کول به لویه او تاریخي تیروتنه نه وي اوایا مناسبه نده چې په دغسې څېرو زرګونه ځله نفرتونه او بیزاري وویل شي؟

الله تعالی دې ددغه ډول بې هویته اوبې رحمو واکمنو له شر او دسیسو څخه افغان ولس په خپل فضل اومرحمت نور خلاص او عاجل نجات ورکړي.

امین

دامريكا ددوه مخي سياست بله بېلګه

او دروان جهادي بهير د بدنامولو ناکامې هڅې

د امريکا له لورې د هېوادونو د اشغالولو او د نورو سيمو د غصبولو د شوق په اړه د فوکس نيوز په يو نوي خپور شوي راپور کې داسې راغلي دي ,, بديو کې امريکا له هرچا وړاندې ده ، د اړتيا پـه صـورت کـې دفريـب، دوکې، نورو ولسونو او هېوادونو ته د اخطارونو، وژنو، ددولتو د ړنګولـو او د بربندو فوځي يرغلونو په شمول ټول ناوړه کارونه کوي او کـړي يـې دي؛ نن هم د نړۍ په ۸۰ هېوادونو کې د امريکا ۷ سـوه فـوځي اډې شتون لري؛ په تېرو ۵۰ کلونو کې امريکا ۶۵ فوځی او نيمه فـوځي عمليات تـر سره کـړيدي چې پکې ۱۰ مکمل جنګونه هم داخل دي ؛ په تېرو ۳۰ کلونو کې امريکايي فوج په يو ځای نه يوځای کې مسلسـل د جنـګ پـه حالـت کې و؛ په دې ۳۰ کلونو کې ۱۳ کلونه داسې وو چې امريکايي فوځونه پـه يو وخت کې په دوه هېوادونو کې په جنګ مصروف وو؛ د ۱۹۶۰ نـه تـر ۱۹۷۰ م پورې امريکايي فوځ په ويتنـام،لاوس او کمبوديـا درې هېوادونـو کې په پراخ ګرم جنګ ګې اخته و،پـر يادوشـويو درې واړو هېوادونـود لويديځ او پانګوال نظام د برلاسۍ لپاره جنګونه مسلط کړای شوي وو،پـه ۹۰ يمې لسيزې کې امريکا د آسيا،افريقا،جنوبي امريکـا او اروپـا کـې پـه مختلفو سيمو کې عمليات ترسره کړيدي؛ پانامه،عراق، کويت، صـومالیه، شرقي تېمور کې يې ناروا فوځي مداخلتونـه کـړيـدي اود۱۹۹۰م نـه پـس د جنګونو پيل شوې لړۍ يې په ښکاره د تم کېدو نوم نه اخلي ؛د سوړ جنګ په زمانې کې او د سوړ جنګ نه وروسته پـر ټـولې نـړۍ د واک راوسـتلو شوق او مينه د امريکا لـه فکـره نـده وتلې او څه چې کوي د همدې مينې د پوره کولو په موخه يې کوي"

د امريکـــا د جنګونـــو او پرکمـزورو هېوادونـو او ولسـونو د يرغلونـو او ظلمونـو تـاريخ ډېـراوږد اودبديو لړليک يې ډېـر سـتر دی خـو چې پـورتنی اعتراف د دوئ د خپلې لويديځوالي رسنۍ دی نوپه همدې مې بسـيا وکـړه او پـه هماغـو الفاظومورااخست په کوموالفاظويې چې کړی دی.

امريکـا دنفـاق نـه ډک دخپـل بدخصـلت لـه مخـې دافغانسـتان نـه دخپلـو فوځونـو دويسـتلو پـه اړه پـه ډېرې سپين سترګۍ دوه مخې پاليسي مخ په وړاندې بيايي ؛ په ۲۰۱۲ م کـال کـې چـې امريکـا يـې ولـس تـه دافغانسـتان جنـګ کـې دامريکـا

شکست نه روښانه شوی و او ددې جنګ ګټلو په اړه په ټول ولس کې ناهیلي خپره وه ولس دواکمن جمهوري غوښتونکي ګوند واک پای ته رسېدل غوښتل،دوال ستریټ حرکت رامنځته شوی و اوپکې شاملو امریکایانو په یو اواز ددولت نه غوښتنه کوله چې بې ګټې جنګ دې بند او د جنګ میلیاردونو ډالر دې په امریکا کې دننه دولس دژوند په ښه کولواو اړو خلکو داړتیاوو په پوره کولو ولګول شي.

د۲۰۱۲ م په همدې شپو ورځو کې دولسمشرۍ دانتخاباتولپاره کمپاین روان و، پدې انتخاباتو کې اوباما هم ځان کاندید کړی و نو دولس درایو دراجلبولو په موخه اوباما دافغانستان په اړه دنوې پالیسۍ اعلان او ویې ویل چې ۲ کلونو کې به له افغانستان نه خپل فوځونه ورغواړي ؛ دویستلو لپاره یې د۲۰۱۴ م کال ددسمبر ۳۱ مه نېټه اعلان کړې وه، یاده نېټه تېره شوه خو امریکا په خپلې ژمنې وفا ونکړه او نه یې کوم فوځي له افغانستان وویست بلکې د نړۍ له سترګو دخپلې شرم نه ډکې تاریخي ماتې او تیښتې دپټولو په موخه یې د امنیت دسند ترچتر لاندې دلته دپاتې کېدلو بله لار رامخې ته کړه او دنوې اداري درامنځته کېدلو سره سم دامریکا برېځو ددې سند رامنځته کېدو ته لبیک وویلو؛ تر هرڅه وړاندې په ډېرې بېړې په ۲۴ ساعتونو کې دننه دکابل او واشنګټن تر منځ دا شرمناکه معاهده رامنځته شوه ؛ ددې معاهدې له مخې په افغانستان کې د ۱۰۸۰۰ امریکایي اشغالګرو فوځیانو شتون تضمین شوی و او دامریکا ولسمشر بارک اوباما ژمنه کړې وه چې دا پاتې ۱۰۸۰۰ فوځیان به هم د۲۰۱۶ م ترپایه بې له کوم قید او شرطه له افغانستان نه وباسي خو د نوي ۲۰۱۵ کال د را ډبره کېدو سره سم یې دخپل عادت او خصلت سره سم یې یو ځل بیا دنفاق نه ډکه دوه مخې پالیسي په کار اچولې ده ؛کړې ژمنې یو ځل بیا ماتوي او دشومو اهدافو دترلاسه کولو په موخه دخپلو فوځیانو دایسارولو او خپل فوځي اشغال ته دطول ورکولو لپاره حیلې او پلمې لټوي، دامریکا نوي دفاع وزیر ((اشتون کاټر)) ویلي چې له افغانستان نه دامریکایي فوځیانو ویستل په وخت او حالاتو پورې اړه لري ؛ اوباما هم داشتون کاټر له نظر سره سرښورولی دی او د سپینې ماڼۍ ویاند ,,جن ساکی،، هم ورمه ورځ ویلي دي چې ,,که څه هم پدې اړه وروستۍ پرېکړه نده شوې خو ښایي واشنګټن ته د افغان ولسمشر۔ اشرف غني دسفر پرمهال دامریکا ولسمشر۔ پدې اړه خپله وروستۍ پرېکړه وکړي ''

دا په داسې حال کې ده چې اشرف غني لا له وړاندې ویلي وو چې ولسمشر اوباما به دافغانستان نه دپاتې امریکایي فوځیانو په ویستلو له سره غور وکړي.

ددې ترڅنګ په افغانستان کې دناټو نوې امریکایي قوماندان جنرال کمپل د(۲۳۰۰) نورو امریکایي فوځیانو داستولو غوښتنه کړېده.

د۲۰۱۶ م کال نه پس هم په افغانستان کې د امریکایي فوځیانو د پاتې کېدو خبرې په داسې وخت کې رامخې ته شویدي چې په نړیوالو رسنیو کې دطالبانو سره دمذاکراتو بې اساسه خبرونه هم ښکته پورته کېږي او پدې اړه ډېر ګرم تبلیغات روان دي سره له دې چې دمذاکراتو لپاره دافغانستان نه دټولو اشغالګرو فوځیانو وتل دطالبانو اساسي شرط دی، نو داشغالګرو فوځیانو له لورې دوتلو لپاره داعلان شوي ۲۰۱۶م کال

نه پس هم دلته دېاتې کېدلو اوخپل اشغال ته دوام ورکولو سره سره څرنګه
کېدای شي چې طالبان دې مذاکراتو ته راضې شوي دي؟

لکه په تېرو وختونو کې چې څو ځلې امریکا په ډېر مهارت او مکارۍ د مذاکراتو خبرې ته ډېره هوا ورکړیده او ورسره یو ځای یې دنړیوالو رسنیو له لارې داسې ډېر څه خپاره کړیدي چې پرې روان جهادي بهیر ته دتاوان او پرطالبانو دخپل ملت او اسلامي امت دبدګومانه کولو ناکامې هڅې شویدي داخل یې چې په رسنیو کې دمذاکراتو خبره ډېره ښکته پورته کړه نو ورسره یو ځای یې د سنجول شوي پلان له مخې پرمجاهدینودټول مسلمان ولس دبدظنه کولو په موخه ډېر نهایي اقدامات وکړل؛ امریکا داخل تر دې حده ولاړه چې ددوئ په اصطلاح دتروریستانو دلست نه یې دطالبانو دویستلو پرېکړه هم وکړه، زمونږ دځنې ګاونډیو هېوادونو دمنځګړیتوب خبرو ته یې هم ښه زور ورکړ او دخپلو غلامو نړیوالو رسنیو له لارې یې دا تبلیغات هم ښه زیات وکړل او کوي یې چې ګواکې له طالبانو پرته کوم بل جهادي غورځنګ په سیمې او افغانستان کې قوت مومي چې دا طالبان ،د کابل اداره او امریکا درې واړه دځان لپاره خطره بولي او همدې ګډ خطر درې واړه یو بل ته سره نېږدې کړیدي، دښمن دا ځل درسنیو له لارې دا زهرجن تبلیغات هم وکړل چې شاید دافغانستان په جنوب کې څو ولایتونه هم پرېښودل شي.

زمونږ ټول مسلمان ملت په دې ډېر ښه پوهېږي چې دا ټولې خبرې زمونږ روان جهادي بهیر ته دتاوان رسولو داسې شیطاني دسیسې دی چې دحقیقت سره هیڅ تړاو نه لري.

ترکومه چې دتروریستانو دلست نه دویستلو خبره ده نو طالبان نه تروریستان وو او نه دي، تروریستان خو هغه بهرني اشغالګر دی چې دافغانستان په حریم یې تېری کړیدی، په سونو زره بې ګناه افغانان یې شهیدان ،ټپیان او زندانیان کړل؛ تروریستان خو هغه امریکایان دي چې په تورو شپو کې دافغانانو په کورونو دورواوړېدلو او په بمونو یې ددروازو او دیوالونو دالوزولو له لارې دهېواد په هره برخه کې په تولو افغانانو او په ځانګړې ډول په کوچنیانو او مېرمنو کې سخته وېره او ترهه خپره کړیده.

طالبان دخپل دین عزت، ملت، او خاورې نه ددفاع په خاطر ددې اشغالګرو تروریستانو پرضد جنګیږي ؛ دا جنګ ډېر مقدس جنګ بولي پرې وياړي او ترهغې به یې جاري ساتي ترڅو چې یې دخپل ګران هېواد نه دا ناولې نه وي شړلي ؛ اسلام او مسلمان دښمنه نړۍ چې طالبان په هر نوم نوموي ورته بې تفاوته ده که تروریستان یې بولې پروا یې نه ساتی او که ددوئ په وینایې دتروریستانو دلست نه وباسي هم دا اقدا م یې نه استقبالوي.

او طالبانو ته دڅو ولایتونو دسپارلو خبره خو داسلامي امارت دبدنامولو ډېره ستره حربه ده ؛ طالبان دیوموټی او واحد افغانستان دلوېشت لوېشت نه دوینو او سرونو په قرباني دفاع کوي او دقدرت هغه وږې څېرې به هیڅکله ونه ښيي چې دهېواد

دتجزيې هلې ځلې کوي، طالبان دقدرت دترلاسه کولو نه بلکې دهېواد نه دبدبخته اشغال دتغر ټولولو او دسوچه اسلامي نظام دنفاذ لپاره ددښمن پرضد جنګيږي او ترهغې به جنګيږي چې ترڅو ټول بهرني عسکر نه وي وتي او ترڅو چې شريعت نه وي نافذ شوی ؛ طالبان دې هدف ته څه په سوال ځانونه نه رسوي نه دا په سوال کېږي او نه دا دښمن داسې دی چې په سوال او زارو به پکې يوه زره نرمي راشي يا به مو دهېواد اشغال پرېږدي؛ دا دښمن يواځې دزور په ژبه پوهېږي او چې زور وويني نو بيا خامخا شکست خوري او تېښتې ته اړ کيږي نو ځکه طالبان ددې ښمن سره مذاکرات بې ګټې بولي او ديو بهرني فوځي دشتون په صورت کې هم بيا بيا دخپل جهاد دجاري ساتلو هوډ ښکاره کوي اوخصوصا بيا په داسې حال کې چې دښمن دسخت منافقت نه کار اخلي، دوه مخې پاليسی يې په کار اچولې ده دنړيوالو په سترګو کې خاورې اچوي او هر ځل دخپلې کړې ژمنې نه اوړي.

موږ په دې ښه پوهېږو چې دښمن دمذاکراتو په ډرامو او دخپلو فوځونو دويستلو لپاره دنېټو په اعلانولو دروان جهادي بهير کمزوري کول غواړي ؛مذاکرات يا دافغانستان نه تلل پدې يوې خبرې کې هم امريکا اخلاص نه لري نو ولې به پرې اسلامي امارت باورکوي اوپرې به غولېږي؟

زموږ جهادي مقاومت شعوري دی او ددې مقاومت اهداف ډېر عالي دي ؛ دښمن دژروتلوپرېکړه کوي اوکه داوږدې مودې لپاره دپاتې کېدلو لپاره پلمې لټوي داجهاد به دخپلوعالي اهدافوترحصوله جاري وي ؛ داميرالمؤمنين ملامحمد عمرمجاهد حفظه الله ترقيادت لاندې دا بهير په ډېرې کاميابۍ مخ په وړاندې روان دی؛ دنړۍ ټول مسلمانان ترې مطمئن دي او دټولو پرې اعتماد دی؛ نه دنورو جهادي غورځنګونو په راپيداکېدو کې خير شته ؛ نه شرعي جوازلري او نه ورته دلته اجازه ورکول کېږي نو امريکا بايد دا له ياده ونه باسي چې زموږ ددې شعوري مقاومت قيادت به نه دخپلو عالي اهدافو نه تېر شي ؛ نه به دمقاصدو په سرله چا سره سودا وکړي او نه به دښمن په فريبونو وغولېږي ؛ ترڅو چې بهرني اشغالګر وتي نه وي او دجهاد غوښتنه موجوده وي ترهغې به مو جهاد جاري وي موږ دخپلو جهادي کوښښونو نتايج الله تعالی ته سپارو، پدې جهاد باندې الله تعالی ډېر ستر نتايج مرتب کړيدي؛ دمقدس جهاد په مقابل کې ددښمن ټولې توطئې شنډې شويدي موږ يقين لرو چې شکست خوړلي دښمن ته به فريب ،منافقت اودوه مخيتوب هيڅ ګټه ونه رسوي ؛ دښمن به مو ډېر ژر دشرمېدلې ماتې سره يوځای له دې خاورې نه تېښتې ته اړشي دا اوس په دوئ ده چې ژر ددې هيواد نه دتللو پرېکړه کوي او که لازيات ځان شرموي.



ليکوال: (داسلامي نړۍ مفکرعالم مولانا سيد ابو الحسن علي ندوي رَحِمَهُ اللهُ) ژ: ابوظهير

په اسلامي هيوادو کې داسلاميت او مغربيت ترمينځ کشمکش

ايران

ايران دترکيې په پل – دپل اينبودو کوښښ کوي، څو داصلاحاتو په پلمه دخپل هېواد په ذهني او کلتوري قالب کې ژور بدلون راولي. دغه لړۍ د ايران دپخواني پاچا "رضا شاه پهلوي" (١٩٢٥ـــ ١٩٤١ز) دواک له دورې راهيسې دوام لري، چا چې په ايران کې ددې لپاره په لومړي ځل عملي ګامونه پورته کړي و ،دکومو پايلې هلته (په ايراني ټولنه کې) تر لرې وغځيدې، دکومو په اړه چې دکيلي فورنيا "پوهنتون" پروفيسر((George Lenzowskiپخپل کتاب (منځنى ختيځ د نړيوالو لانجو په منځ کې) The middle east (in world affairs) کې د تاريخ د ليد له زوايې دا څېړنه کړې:

"د رضاشاه اصلاحي پلان يواځي دايران د صنعتي پرمختګ ترپولې محدود نه و، بلکې ترڅنګ يې په تعليمي او ټولنيز ميدان کې هم کوښښ کاوه څو خپل هېواد عصري او مودرن (Modern) هېواد کړي، تردې چې په ١٩٢٧ز کې هغه په ايران کې فرانسوي قضايي قانون پلى کړ! او په دې سره يې په ښاري اوټولنيزو چارو کې دهېواد دمحاکمو اهليت ونتګاوه او دسيکولرزم په خوا دايران بوتللوته يې جدي کار وواېه ،البته په ښکاره هغه و نشواى کولى چې د سيکولرزم نوم واخلي! څنګه چې په ترکيه کې سيکولرزم په ښکاره و منل شو ، ولې نوموړي احساسوله چې دقدمت پالو شيعه عالمانو اثرو رسوخ دغربي تهذيب قالب ته دايران غورځولو د هوډ په وړاندې خنډ دى! له دې وجې يې په احتياط قدم اينبودو اوبيا دهغه هنګامې او احتجاج د ناکامى وروسته چې په ١٩٢٤ز کې دجمهوريت په ملاتړ شوى و،او د ګاونډي هېواد(افغانستان) دنته داصلاحاتو په نوم د غربي مفکوري اوژوند په منلو کې داميرامان الله خان ناکامې هم د نوموړي لپاره يو له عبرت ډک سبق و، لنډه دا چې هغه څه چې په نيمه غربي هېواد ترکيه کې و شول، په ايران کې دهغو سرته رسول يومخ ناشوني و او په دې سربيره دايران په اساسي قانون کې دا ښه په صراحت ليکل شوي و" چې دايران رسمي دين اسلام دى"او مستنده فرقه "جعفريه"ده، دايران دپاچا لپاره ضرور وه چې هغه به دجعفريه عقيدې مبلغ او پيرو وي! هم داشان د اساسي قانون له مخې:دايران مجلس(پارلمان) دهيڅ داسې قانون د منلو واک نه لاره،کوم چې داسلامي اصولو سره ټکر پيښوي او دهرقانون منلو لپاره ددينې پوهانو او عالمانو ګډون او شتون خامخاو، له دغو ټولو مرحلونه دپوريوتو وروسته لازمه وه، چې پاچا هيڅکله له دغو قانوني بندرونو څخه په سرغړونه

کولو پورې نه وزي ، هم دا وجه وه چې تل دمخامخ حملې پرځای له سیاسي تیراېستونو یې کار اخیست او له دیني مشرانو سره دمخامخ اوښکاره ټکر پر ځای یې دهغوی د ټولنیز رول اومؤثریت کمزوره کولو لور ته یې پام واړ وو.

دنوي عصري تعلیمي نظام د جوړولو اوپه میرمنو کې دازادۍ او بیدارۍ پیدا کولو هر کوښښ چې کیده، ترکیز به یې په دې و چې په ټولنه کې ددیني مشرانو اثر رسوخ څنګه کم شي؟ خو په دې میدان کې دجنګ پرمهال یې ډېر کار وکړ.

د۱۹۳۰ را دیخوا په ابتدایه، او منځنیو ښوونځیو کې دیني زده کړې لازمي نه وې او په تعلیمي نصاب کې دهېواد سره مینې او دقومیت احساس ته پام زیات و، هم د لوبو په لور میلان د حد له ورروستیو کړښو هم پسې- اوریدلی و، په ټولو لوبو ښارو نو کې ګڼ نوي ا ستدیومونه جوړ شول،حکومت دهلکانو او انجونو لوبو خاصه توجه ورکوله ، څو په دې توګه د نوي نسل دننه دملت پالنې روحیه تقویه کړي ، په نتیجه کې یې دهېواد خوانان له دیني سوچ او دیني مصروفیتونو لرې پاته ول اوپه ۱۹۲۸ زکې په ختیځوال کالیو هم بندیز ولګا و ، دکوم له امله چې دمذهب او دین په اثر رسوخ دروند ګذار وشو ،دترکې خولۍ او پګړۍ ځای لا پخوا پهلوي هیټ نیولی و، څه وخت پس اروپایي هیټ راغی، پاچا په میرمنو کې دازادۍ او بیدارۍ لپاره ښلابښلې لارې چارې غوره کړې او دهغه په اشاره او اثر پارلمان دطلاقو واک چې یومخ (په کلي توګه) دنارینه حق دی، محدود اومقید کړ، میرمنې یې په رسمي دفترونو کې په کار ونو وګومارلې،که څو هم میرمنوته دکار اجازه ورکړل شوه خو په سیاسي مجلسونو او غونډو کې دهغوی نماینده ګې په نشت حساب وه، پو ځې افسرانو او دولتي مامورینو ته یې دغربي کالیو اغوستلو په اړه فرمان ورکړ چې هغوی دې دغربي لباس په اغوندلو کې دمیرمنو سره مرسته وکړئ دهغوی مورال لوړ کړئ ، په ۱۹۳۵زکې پخپله د ایران ملکه اوشهزادګیانې په غربي کالیوکې یوې سترې غونډې ته راغلې اله هغه مهال را دیخوا د چادرې په اغوستو بندیز پلی شو ، دکوم له امله چې ځینې فسادات هم پیښ شول، خو داچې د حکومت انتظامات خورا کلک و، بالاخر ټولو قانون ته سرونه ښکته کړل.

دپاچا له لوري په فارسې ژبه هم دبیا کتنې هڅه و شوه، موخه یې دعربې د اثر نه دفارسې ژغورل و، او ددې کار څارنه یې دایران دهغه ادبي مجلس (Academy of literature) دنده وګرځوله، چې په کال ۱۹۳۵ز کې جوړ شوی و، دا سربیره په دې چې عربې رسم الخط دفارسې ارتیاوې ته پوره کولې،البته دترکیې په خلاف ایران کې درسم الخط اصلاح په نامه کوم ګام پورته نشو، په کال ۱۹۳۵زکې په رسمې توګه د"فارس" یا "پریشا" نوم په ځای (چ دې یونیانو ایښی نوم دی او پخوانو عربې تاریخونو او اسلامي لیکنو کې هم یاد شوی) رسماً "ایران" نوم غوره کړ.

په دې سره محمدرضاپهلوي (دایران شهنشاه) و فهموله چې د اصلاحاتو اویدلون وخت راغلی دی، کوښښ یې وکړ او ځینو نویو قوانینو ته یې دستوري بنه ورکره، هغه دزمکو دښتنانو حقوقو دختمولو او میرمنو ته درایې حق ورکولو او کاندویدو حق ته قانوني بنه ورکره، ددې پرضد دایران علماوو او مجتهدینو سخت احتجاج اولاریون وکر او په هېواد کې هنګامې او

فسادونه پیل شول، خو بیا هم دحکومت په پریکړه کې کوم تغیر رانغی....

درنا څرک:

داچې ایران هر وخت داسلامي علم،ادب او داسلامي فکر اوتجربې لپاره ستر میدان پاتــه شوی او هم دڅپلــو هغــو شــاعرانو، ادیبــانو، فلســفیانو، مفکرانــو، او صوفیانو په وجه چې شهار ل یې ګران دي، پرځای ده چې داســلامي مشرق پــه یونــان ونومــول شي او پکــې دځینو غالي مذ هبي اندونو د شتون سربیره، کوم چې دایران دپخواني تاریخ طبعي پایله ده داسلامي ژوند انه او اســلامي پــووالي خوځښــت هــم ترســتر ګــو کېــږي او دهــرې ورځــې پــه تیریــدو پکــې مــورال بښــونکي او روح بښونکي اسلامي ادب ته مقبولیت په برخه کېږي.

د ایران اسلامي انقلاب:

ایــران کــې دپاچــا پرضــد دســیاسي هلوځلــو پــر اســبابو که غور و شي، په هغو کې عمده سبب هغه و، چې دایران پاچــا د ایــران د خلکــو د دینــي او کلتــوري احساســاتو اوغوښتنو پــه خلاف جارحانــه رویــه غــوره کړیــوه، د هغــې لــه املــه پــه پوځي،کورنیــو او بهرنیــو چــارو کــې دهغــه پــه تولــو خــدمتونو اوبریــاوو یــې خــاورې وا رولي، او دایــران دننــه پېښــو وښــوده چــې د ولســونو د جذباتو د خپلــو پــه بیــه هــر قیــادت اګــر کــه هیوادتــه دترقــۍ پــه لــر کــې ډېــر خدمتونــه هــم وکــړي خــو هغــه بیــا هــم دولــس پــه زړه کــې مقبولیت نشي پیدا کولی.

دایــران پاچــا د خپــل واک پــه وروســتیو شــیبو کــې د پــوځي پلــوه ایــران دومــره ځــواکمن کــړ ی و چــې هغــه پــه ســیمه کــې د مــؤثر کردارځښــتن و او پــه دې عــلاوه پــه نړیــوال سیاســت کــې دپاچــا رول قــوي اهمیــت درلــود او پــه تولیز ډول هیواد یې دترقــۍ خواتــه نېږدې کــړی و، دتمدن له پلــوه ایــران تــه دنړۍ متمدن هیواد ویــل کیــده،دتعلیم لــه پلــوه هــم پــه ســیمه کــې ایــران لــه نــورو مخکــې و او پــه لــوی شــمېر زده کــوونکي یــې د بهرنیــو هیوادونــو پــه پوهنتونــو کــې پــه زده کــړه بوخــت وو ، د دغســې پــو چاپیریــال پــه درلــودو ورتــه لــه اجتماعــي، ســیاسي، او اقتصادي پلوه بیرتــه پاتــه هیواد نشــو ویــل کېــدای! یعنــې دخلکــو دبیزارۍ لاملونــه اقتصادي یــا سیاسي نــه وو،هــم د شاهي رژیم شتون دناراضایت عامــل نــه و، ځکــه دنړۍ پــه ډېــرو مترقي هیوادو نــو کــې تراوســه شاهي رژیمونــه شــتون لــري، او پــه اړه یــې هلتــه هــیڅ ډول بیــزارۍ نــه ترســترګو کېــږي، نــو یــواځې شــاهي رژیــم اوشــاهي حکومت ددې سیاسي پاڅون سبب هم نــه و،دا خبره هم پــه ذهن کــې کینــول پکــار دي، چې دایــران ولس پــه مزاج کــې دشخصیت پــالنې اثر تــر بــل هرچا ډېر پروت دی او لــه دې پلــوه شــاهي رژیــم دهغــوی دمــزاج سره برابــر دی، نــو آخــر سیاسي پاڅون ولي و شو؟ او لاملونه یې څه وو؟

دســیاسي مبــارزې لپــاره کومــه نــاره چــې ډېــره مــؤثره وه ، چــې پــه تــول هیــواد کــې یــې دایــران دپاچــا پــر ضــد تحریــک منظم کــړ، هغــه دا وه چــې " مــونږ اســلامي نظــام غــواړو!" ددې نــارې تنــدرېزو ګــذارونو د شــاهي رژیــم بنســټونه دومــره ونــه لــړزول، څــومره چــې دایــراني پاچــا د دیــن مخــالف اوضــد سیاســت تــه مرګــوني تکانونــه ور کــړل او پاچــايي لــه واکــه را و پرځــاوه ، ځکــه د هیــواد دننــه چــې دديــن او اســلامي کلتــور پــه خــلاف کــوم ذهنیــت پیــدا شــوی و، هغــه دپاچــا او د هغــه د غــربي ملګــرو دغلامانــه مفکورې زیږنده و.

پاچــا پــه نــا اســلامي چاپیریــال کــې روزل شــوی و، هغــه غوښــتل ایــران کــې غــربي کلتــور او غــربي ژونــد وده

وکړي او يوموخ د مغربيت په رنګ - رنګ شي هغه ددې لپاره پخپل وخت کې څو داسې ګامونه پورته کړل، چې دهغو له امله ديني عالمانوته دا جوته شوه، چې پاچا هوډ لري له ايرانه په بشپړ ډول ديني رنګ محوه کړي او اسلامي تشخص يې له منځه يوسي، د يهوداني، اوبهايانو په ګډون يې اسلام دښمنو قوتونو ته دهېواد د نظام چارې په لاس ورکړي او له اسلام سره دولس د اړيکو ريبلو لپاره يې بلکل هغسې حربې کارولې کومې چې د مصر واکمنو د"مصر فراعنه وو"ته دځانونو او مصريانو د منسوبولو لپاره به کارولې ، دايران پاچا ځان "سايرس" ته منسوب کړ او ددې لپاره يې يو لوی تاريخي جشن ولمانځه په هغه يې ملياردونه پيسې وبښندلې او هم يې داسلامي کليزې په ځای پخوانۍ ايرانۍ کليزه دود کړه...

دايران خلک تل له خپلو علماوو سره تړلي دي، له دې وجې دايران دترقۍ خوښو پاليسيو ترټولو زيات مخالفت دعلماوو له لورې را ښکاره شو او په مقابل کې يې پاچا دهغوی (علماوو) اثر له منځه وړو لپاره داوقافو قانون لغوه کړ، مؤثر علمائې له هېواد وشړل او زيات شمېر يې ونيول، داسلام په نامه مبارزه کونکو خواناو ته يې تعذيبونه ورکړل او په زرګونو تنه يې په جسماني لحاظ معذور کړل، ليکن دې تشد د خلکو دننه جذبات نورهم قوي کړل او دايران ولس د "ايت الله خميني" په قيادت کې (څوک چې هغه مهال په فارس کې جلاوطن و) ستري قرباني ورکړي، تردې پورې چې پخواني پاچارضاشاه يې له ايرانه تېښتې ته اړکړ او په ۱۹۷۹ز کې په ايران کې داسلامي حکومت بنسټ کېښودل شو.

دايت الله خميني د دې حيرانونکي بري په باب د مختلفو حلقوترمنځ مختلف توجيهات کېدل په پيل کې ورته د"کويساري" (LEFTIST) انقلاب نوم ورکړل شو، خپله دايران پاچا هم "کويساري" خوځښت وباله او دهغه دخپلو لپاره يې په هم هغه جذبه قوي کوښښونه وکړل، خو دانقلاب وروسته چې کوم ځواک واک ترلاسه کړ ، په هغه کې اسلامي عنصرد قايدانه رول لرلو نه برخمن و. دچارو واګې دعلماوو لاسوته پريوتې، ددې معنی دا ده چې دخميني تحريک ترشاه مؤثر کاري رول يواځې د اسلامي عنصر و.

دايران دعلماوو، شعور، قوت، تنظيم او په خلکو کې دهغوی نفوذ اوتاثير دانقلاب دبري لپاره مهم لامل شو ، چې تري انکار نشي کېدای او هغوی سره دخلکو يووالی، ترون، او ددين په لاره کې د لويو قربانيو نذرانه او جذبه مثال نلري.

د آيت الله خميني اندونه:

آيت الله خميني دايراني انقلاب رهبر او روح روان و، هغه داسلام په اره سياسي اندونه لرل او په اصل کې يوسياسي مشر و. دتحريک اساس يې هم اسلامي و، ليکن د نوروعلماوو سره دهغه سياسي نظريا ت تو پيرلري، نوموړی له عباداتو نه زيات دټولنې نويو جوړښتونو ته پام کاو، دهغه په اند دعباداتو تصور بيشکه په اسلامي لاربښوونو کې شته او هم په هر دوره کې داسلام د نافذه قانون جز پاته دی،خو دنوموړي په وينا: په ژوندانه کې انقلاب دسياسي شعور او اجتماعي اصلاحاتو پرته ناشونی دی،دنوموړي په نظر واکمن که مسلمان وي يا نامسلمان، هغه د اسلام د عباداتو برخه ځان ته خطر نه ګڼي! خو ددې برعکس

داسلام سیاسي شعور دخان لپاره خطرناک او ګواښ بولي!

"آیت الله خمیني" پخپل کتاب "اسلامي حکومت" کې دا سپیناوی داسې کوي:

"امپریلزم" کوښښ کوي، چې مونږ یواخي لمونځ وکړو! روژه و نیسو! اوپه ژوند کې مو اسلام یواخې ترعباداتو پورې محدود وي!څو دهغه سره زمونږ ټکر را منځته نشي-"امپریلزم" مونږ ته ددې بلنه راکوي چې "مونږ باید لمونځ وکړو! هر څوځله چې غواړو...! سهار و ماښام یې وکړو!" خو زمونږ په پیطرولو به هغه قابض وي! زمونږ له لمانځه نه هغه ځان ته کومه اندیښنه نه حسوي! هغه دځان لپاره تاوان نه بولي ،لیکن زمونږ بازاربه دهغه مالونوته، زمونږ پانګه به دهغه سوداګرو اومصنوعاتو ته وقف وي!! ددې لپاره پرغلګرو خپل قوانین او دخپل ژوند نظام پر مونږ تپلی دی! اومونږ ته انګېرنه راکوي،چې "اسلام دژوند لپاره د عمل ورندی" "دټولني اصلاح نشي- کولی" حکومت نشي- جوړولی" اسلام دهغوی په نزد "دحیض دمسایلو،دمیره اوښځې دازدواجي اړیکو او دغه رنګ دځو نورو مسئلونوم دی"

زمونږ دبیرته پاتیوالي لامل دهغوی په اند اسلامي لاربنووني دي، ددوی په اند پکې دژوند مسایل نشته ، له دې وجې دهغوی په نظر څو داسلامه لاس په سرنشو ترهغه دژوندانه قافلې سره یوځای نشو تللای.

داسلام حکومت د جوړولو لړکې لیکي:

یواخې قوانین دټولني اصلاح نشي- کولی، دهغو تنفیذ ته هم اړتیا ده، او تنفیذ لپاره واک ته اړتیا ده، ځکه رسول الله(ﷺ) ددعوت او تبلیغ ترڅنګ داسلامي احکامو دتنفیذ لپاره هم جهود وکړل تردې پورې چې اسلامي حکومت جوړشو.

دخمیني په رایه درسول الله(ﷺ) وروسته دغه مسئولیت دخلفاوو او دهغوی وروسته بیا دهغوی خلفاوو او دامت علماوو ته سپارل شوی دی نوموړی لیکي:

"دقوانینواو اجتماعي اصولو لپاره دمنفذ ضرورت دی، هیڅوک د قانون په جوړولو له نور مسؤلیته خلاص ندی ، بلکې دهغه پلی کولو لپاره به وسایل لټوي او دقانون جوړولو ماشین ترڅنګ د تنفیذي ماشین شتون هم ضرور دی اوهم دا مقتضاء دایت﴿اطیعوا الله والرسول واطیعوا الرسول واولی الامر منکم﴾ ده.

له دین څخه د سرغړونکو پر ضد دپاڅون په باب لیکي:

شریعت اوعقل دواړه په مونږ دا فرض کوي، چې مونږ دوخت حکومت خپل سرې ته پرینږدو! ددې دلایل شته ، چې هر حکومت له دین څخه سرغړونه کوي هغه طاغوتي نظام دی! او په مونږ فرض ده چې له خپلې ټولنې او خپل هیواد نه دهغه نوم اونښان ورک کړو! او مونږ ته پکار دی ددې لپاره یو داسې نسل وروزو، چې هغه طاغوتي نظام درې وړې کړي، زمونږ په وړاندې په دغسې حالت کې یواځې یوه لارپاتې ده، او هغه د اده چې دباطل سره ټکر ووهو! او مخکښان یې ووژنو!بس هم دا اسلامي انقلاب دی! ددې لپاره کار دهر مسلمان دنده ده "

هغه علماء اوفقهاء څوک چې دنا اسلامي حکومت مرسته کوي او دهغه په دفاع کې فتواګانې ورکوي دهغوی په اړه خمیني لیکي:

داعلمـاء داسـلام دښـمنان دي! خلکـو تـه دهغـوی حقیقـت ښـکاره کـول پکـا ردي! هغـوی ذلیـل اورسـوا کـړئ او لـه ټـولنې یـې وشـړئ! دهغـوی لـه سر ونـو پکـړی وتوغـوئ! او هغـوی ددیـن لـه اسـتغلال(EXPLOIT) او دعـامو وګـړو لـه تیـر ایسـتلو نـه راوګرځـوئ.("الحکومـة الاسلامیة" ایته الله خمیني)

آیتـه الله خیمنـي پخپلـو دې نظریـاتو سره پـه قـوم کـې یـو نـوی روح پوکړ،هغـه پـه ژونـد کـې داسـلام دپلـی کولـو ناره پورتـه کـړه، ولـس ور تـه ددې فرصـت پـه لاس ورکـړ! دا دهغـه دحکمـت، سـیاسي تـدبر او ښـه تـدبیر ازموینـه وه! چې هغه ترکومـه پخپـل هدف کـې بـری ترلاسـه کـولی شي؟ داهـم دهغـه لپـاره ډېـر لـوی امتحـان و ،لـه یـوې مـودې راهیسيـ دپاچـا او دهغـه دملګرونـه دغـچ اخیسـتلو کومـه جذبـه چـې دولـس دننـه ځپانـد وه، هغـه بایـد پـه څـه ډول کنـټرول شي؟ څـو قـوم لـه ځـاني، مـالي اوفکـري زیـانونو وژغـوري! او خپـل هېـواد دترقـی پـه لـور روان کـړي، څـو پـه لـومړی مرحلـه کـې هغـه څـوک منـع نکـړل، لـه املـه یـې ایـران دسـوونوپه شـمار صـلاحیتونو او تجربـو لـه خاونـدانو نـه محـروم شـو! دعفـوي او ښښـنې پـه ځـای یـې نړی،تـه داسـلام پـه بـاره کـې د"قسـاوت او اسـتبداد" تصـور وړانـدې کـړ، کـوم چـې لـه دعـوتي پلـوه سـتر زیـان لرونکـی تصـور دی!ځینـو واقعـاتو بالخصـوص دامریکـایي یرغمالانـو پـه لـړ کـې چـې ایـران کومـه سـخته رویـه غـوره کـړه ، پـه دې سره داشبه تقویـه شـوه چـې پـه هېـواد دخمینـي ځغـه زیـات لـه نتـایجو او عواقبـو نـه نـاخبري څونـان واکمـن دي، او هرڅـه د هېـواد دنـوي څـوان او جـذباتي عنصرـ پـه لاسـو کـې دي!،هـم داسـې دامامـت او ایمـه وو پـه بـاره کـې دخمینـي ځیني وینـاوې چـې بیـرون تـه راوتلـې، لـه هغونـه د"نبـوت د مقـام تنقـیص" او پخپلـو مقاصـدو کـې د اسـتثناء پرتـه دانبیاوو دناکامی نتیجه اخستل کېږي...

داصلاحاتو راوسـتو پـه لـړ کـې هـم دځینـو ګـامونو پـه پورتـه کولـو کـې د زیـاتې بېـړې نـه پـه کـار اخیسـتو یـې پـه مقابـل کـې مخـالف غبرګونونـه وپـارول،او لـه شـومه قسـمته دشریعـت د نافـذولو پـه لـړ کـې یـې دسـني لږکیـو داحساسـاتو پـروا ونکـړه چـې پـه وجـه یـې دسـنیانو سره د ټکـر صـورت رامینځتـه شـواو دهغـه اتحـاد شـکل پاتـه نشـو کوم چې دتحریک په پیل کې لیدل کېده.

پـه انقلابـې هڅـو کـې دخمینـي د ېـري او داسـلامي حکومـت پـه جوړولـو داسـلامي نـړی دځینـو کړیـو لخـوا هغـه تـه دامـام درجـه ورکـړل شـوه، اوپـه ځینوبرخـو کـې آن دشـیخ حسـن البنـاء او مولانـا مـودودي سر یـې تشـبیه و شـوه!څو راتلـونکی بـه وښـیي چـې پـه انفـرادي او اجتماعـي توګـه پـه فکـري روزنـه او پـه صـلاحي روزنـه کـې هغـه څـومره بـری منـدلی؟ او یـا دهغـه کوښښـونه یـواځې دحکومـت جوړولـو او دجـابر حکومـت تـر نسـکور ولـو محدودو؟کـه داچـې هغـه دایـران دخلکـو دننـه فکـري انقـلاب هـم راوسـتی؟ کـوم چـې داسـلامي دعـوت اصـلي مقصد دی!

تراوسـه پـه ایـران کـې حـالات پـه پـوره توګـه کنـټرول نه و چې ناڅاپـه (۱۹۸۰) اکتـوبر کـې عـراق پـه ایـران حملـه وکـړه، دایـران دفـاعي څـواک چـې لـه وړانـدې نـه کمـزوری و،دعراق لخـوا پـه برېـد د هغـه پـه څـواک او اقتصـاد نـور هـم بـدتاثیر پریـوت،اوس داوړاندوینـه نشيـ کېـدای چـې ددې خطر نه بـه هغـه ځـان کلـه ځـان وژغـوري؟او ددنیـا پـه سـیاسي او اخلاقـي نقشـه کـې بـه ایـران خپـل مخصـوص کـردار څـومره اداء کـړای شي ، دکـوم لپـاره چـې هغـه لـویې قربانۍ ورکړي؟...

أبوعابد

له هلمند وروسته په غزني کې هم دښمن مختوري شو

میاشــــتې زورآزمـــــایي او هراړخیــز وحشــت سره سره پــه بشـپړ توګــه ناکــام او دښــمن تــه پــه کــې درانــه تلفات ورسیدل .

د هلمنـــــد عملیـــــات چـــې د کنـدهار، هلمنـد او هـرات د قـول اردوګـانو زرګونــو عســـکرو، ددوی بهرنیـــو ســـلاکارانو او استخباراتي کـارکوونکو دغـه راز د امریکـایي پـوځ هـوایي خواک پـه کـې ونـډه درلوده، پـه پیـل کـې ویـل کیدل چې دا بـه تـر تولـو پریکنـده عملیـات وي چې پـه مټ بـه یـې د هلمنـد پـه شمالي ولسوالیو د طالبانو سلطه په بشپړه توګه ختمه شي .

خو د روان قمري کـال د جمادي الاخـر میاشتې پـه ۹ مـه نیټـه رسـنیو اعـلان کـړه چـې د کابـل رژیـم د ذوالفقـار پـه نامـه عملیات په ناڅاپي توګـه پـای تـه رسولي او خپلو عسکرو تـه یې د جګړې له میدان د تیښتې امر ورکړی .

د ذوالفقـار د عملیـاتو پایلـه کـه پـه لنـډو ټکـو کـې راخلاصـه کـوو نـو ویلـی شـو چـې پـه دې جګـړه کـې دښـمن سلګونـه عسکر او پـوځي وسـایط پـه مخـامخ بریـدونو او چـاودنو کـې لـه منځـه لاړل ، د مجاهـدینو پـه خـوا کـې د شهیدانو شـمیر تـر ۴۰ کسـانو اټکـل شـوی ، چـې ددښـمن د وژل شـویو افـرادو پـه نسـبت پـه مراتبـو کـم دی ، ددې عملیـاتو پـه لـړ کـې ددښـمن پـوازینی فعالیت پـه سـنګین کـې د یـونیم زر نـه د زیـاتو کورونـو ، بـاغونو او ښـیرازه کښـتونه نـړول او پـه بیلـډوزرو لـه منځـه وړل و، چـې پـه پایلـه کـې یـې د هلمنـد اولـس تـه ددښـمن څیـره نـوره هـم رسـوا او له وحشت ډک موقف یې ورته څرګند شو .

پـه داسـې حـال کـې چـې ددښـمن قـواوې د هلمنـد لـه کلیـو پـه تیښـته وې او خوړنـد سر خپلـو پـوځي مراکـزو تـه ستنیدلې پـه یـوه لیـوني اقـدام کـې پـه غـزني ولایـت کـې ددښـمن لخـوا عملیـات اعـلان شـول، دغـه عملیـات چـې د مـارچ میاشـتې پـه ۲۳ مـه نیټـه اعـلان شـول د پـوښـښ سـیمه یـې د غـزني ولایـت دهیـک او انـډر ولسوالي دغه راز د غزني د مرکز مربوطې سیمې وې .

د اشرف غنـي او ډاکټـر عبـدالله پـه مشرـۍ نصـب شـوی رژیم پـه بیلابیلو برخو کې لـه پراخـو ننګونـو او سـتونزو سره لاس او ګریـوان دی ، د سـتونزو او چیلنجونـو پـه دې بیروبـار کـې تـر ټولـو مهـم چیلـنج د دوی لپـاره د هغـې جګـړې پالـل دي چـې امریکایـانو او غـربي مؤتلفینـو یـې تـرې پـه ناکـامۍ او خوړنـد سر پښې سپکې کړې دي .

د تیـر کـال پـه اوږدو کـې د خیـبر عملیـاتو پـه نتیجـه کـې مجاهـدینو د هیواد پـه لراوبـر کـې پـه پراخـو سـیمو سـلطه ټینګـه کړې،زیـات شـمیر اطـرافي سیمې د مجاهـدینو لاس تـه لویـدلې او پـه ولسـوالیو کـې ددښـمن پـه ګڼـو مراکـزو د محـاصرې کـړۍ راګرځیدلې .

ددې لپـاره چـې نـوی نصـب شـوی رژیـم خپـل پـوځي زور وښـیي او پـه لـړې پرتـو سـیمو کـې خپـل محـاصره چـارواکو تـه نجـات ورکـړي د تیرژمـي پـه ورسـتیو کـې دښـمن پـه ډیـر آب و تاب پـه هلمنـد ولایـت کـې د ذوالفقـار پـه نامـه عملیـات پیـل کـړل .

دا عملیـات چـې ددښـمن لوړپـوړو منسـوبینو او مطبوعـاتو تـر ټولـو پـراخ او پریکنـده بلـل تـر یـوې نیمـې میاشـتې زیـات وخت یـې دوام وکـړ ، دا عملیـات چـې پـه سـنګین ، نـوزاد، مارجـه ، بابـاجي او واشـیر ولسـوالیو کـې پیـل شـوي و، لـه یـوې نیمـې

په غزني کې لومړی دښمن په دهيک ولسوالۍ له دريو خواوو هجوم وروړ ، د غزني د مرکز مربوط د ارزو لخوا، په دهيک کې ديونټ په نامه د اردو د سترې قرارګاه لخوا ،دغه راز د پکتيکا ولايت لخوا يوه ستره قوه چې تر ۱۲۰زيات ټانګونه او پوځي موټر په کې و او ددې ولايت داربکيانو وحشي-قومندان عزيزالله هم په کې برخوال و د دهيک په ولسوالۍ يې يريد وکړ .

لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي : کم من فئة قليلة غلبت فئة کثيرة باذن الله ... الايه . د دهيک په پنځه ورځنيو جګړو کې کټ مټ همدا حقيقت تکرار شو، د غزني د مرکز او يونټ لخوا دهيک ته ورغلي عسکر په لومړني کلي الوخيلو کې دمجاهدينو په انفجاري کمربند او کمين کې ښکيل شو، دښمن چې هر څومره زور وواهه ، توپونه او درانه بريدونه يې وکارول خو له ټولې قوې سره يوازې د همدې يوه کلي په نيولو هم ونه توانيدل، ښايي په دې سيمه کې به ددښمن مخې ته د ولاړو مجاهدينو شمير يوازې شلو تنو ته رسيده ، خو دا چې الله تعالی ورته قوي ايمان او اراده ورکړې وه ددښمن خورا ستر کاروان يې ايسار کړی او په خپل پورې حيران کړی و.

د پکتيکا په خوا کې ددښمن ستره قوه چې د شاملو مسلحو کسانو شمير يې شاوخوا زرو تنو ته رسيده ، په ډير غرور يې په دهيک ولسوالۍ بريد وکړ خو ددې ولسوالۍ په لومړنيو کليو شبک کلا، عثمان کلا،نياز کلا او سرانداز کلا سيمو کې ورسره مجاهدينو سرسخته مقاومت پيل کړ، په دې استقامت هم ددښمن تعرضي خواکونه د مجاهدينو د ځای په ځای شويو ماينونو او کمينونو له ويرې ځای په ځای ايساره شوه او په دې توګه دښمن د ځځ اخيستې په دود د دهيک ولسوالۍ په کليو د توپونو او هاوانو بريدونو پيل کړل .

د غزني ولايت يو تن مجاهد راته وويل چې د پنځه ورځنۍ جګړې په ترڅ کې دشمن هره ورځ په اوسط ډول تر ۲۰۰ زيات د هاوان او توپ ګوزارونه ددهيک په عامه مسکوني سيمو تر سره کول، چې په نتيجه کې نه يوازې عامو خلکو او د هغوی مالونو او کورونو ته درونډ زيان واوښت بلکې د ډيرو سيمو نه خلک په تيښته او دکورونو په پريښودلو مجبور شول.

ددهيک د جګړې په ترڅ کې مجاهدينو ددښمن ۷ ټانګونه په ماينونو والوزول او د يوه رينجر موټر په شمول يې ګڼ نور وسايط په راکټونو وويشتل ، ددښمن د سر زيان په اړه کره معلومات نه دي په لاګه شوي خو داسې ويل کيږي چې ددښمن تلفات شايد تر لسګونو اوښتي وي ، له پنځه ورځې زورآزمايي وروسته د هلمند غونډې د غزني په دهيک ولسوالۍ کې هم دشمن مختوری شو او له دريو خواوو راغلې قواوې يې په هماغو خواوو وتښتيدې .

په دهيک کې له شکست وروسته ددښمن قواوو همدا اوس په اندړو ولسوالۍ کې عمليات پيل کړي چې په دې ولسوالۍ کې هم کټ مټ له ورته انجام سره مخ شوي دي ، داندړو ولسوالي چې په غزني کې دمجاهدينو يو تر ټولو قوي مرکز دی د څوورځنيو جګړو په ترڅ کې پکې ددښمن ۱۶ ټانګونه له منځه تللي او لسګونه عسکر يې وژل شوي دي ، له اندړو او دغزنی له مرکز څخه وروستي معلومات وايي چې ددښمن عملياتي ځواکونو دلته هم له تعرضونو لاس اخيستی په دښتو کې راغونډ شوي اويوازې له خانه ددفاع په فکر کې دي.

د دهيک او اندړو پيښو ثابته کړه چې نوي ګوډاګي رژيم په بشپړه توګه عملياتي وس بايللی دی نوځکه په هره جګړه کې يوازې درانه تلفات ورته رسيږي له دې پرته د مجاهدينو د ځپلو او يا سيمو لاندې کولو ځواک نه دی ورپاتې.

دغه سيمې چې اوس په کې د يرغلګرو خايناستی رژيم ځپلې پوځي نقشې پلې کوي او عمليات پلانوي هغې سيمې دي چې په تيرو څه باندې لسوکلونو کې په کې د امريکايانو او دهغوی د نورو ملګرو بيلابيل عمليات او تعرضونه ناکام شوی او مجاهدين يې دښمن ته د درس ورکولو پخې تجربې لري ، همدا لامل دی چې ددشمن لخوا پيل کيدونکی عمليات په هر ځای او هره سيمه کې يوازې له شکست سره مخامخ کيږي او تراوسه يې هيڅ لاسته راوړنه نه ده درلودلې.

وېناوال داسلامي نړۍ ثقه عالم دوکتور محمد حمید الله رَحِمَهُ اللهُ زباړه شهاب منصور

۲یمه وروستۍ برخه

داسلام نړیوال قانون

پوښتنې او ځوابونه:

پوښتنه: تاسو وویل: چې سید امیرعلی لیکلي دځانګړو سفیرانو لیږلو لړۍ د اروپایانو نه دوه سوه کاله وړاندې مسلمانانو پیل کړې، دادمسلمانانو د کوم پاچا دحکومت زمانه وه؟

ځواب: کـه تـه! زما ماخذ(History of saracons) وګوري، پـه هغه کې ټول تفصیل شته ،زه دومره وایم، چې کله دبنوعباس(عباسي خلافت) په وروستي دور کې دمسلمانانو دتـه ازاد سلطنتونه جوړ شول، امیرعلی وایي: دخلیفه لخوا به دهغه استازي په آزادو اسلامي حکومتونو کې میشت ول او دهغو حکومتونو لخوا به یو،یو تن داستازي په صفت دخلیفه دربار کې ناست و، داسې نه چې دکوم معلوم هدف لپاره به و لیږل شو او بیا به بېرته خپل هېواد ته راته، بلکې دخپل پاچا اوحکومت داستازي په حیث به همیش دخلیفه په دربار کې و.

پوښتنه: په مکه کې مسلمانانو دمکې دحکومت اطاعت نه کاوه! ایا په دې اړه کوم تاریخي دلیل شته ،چې وښيي مسلمانانو دمکې ددستور اطاعت نه کاوه، ایا دا د"اولی الامر" له اطاعته سرغړونه نه وه؟ یا دیته بغاوت ویلای شي؟

ځواب: ماوویل :په رسول الله(ﷺ)ایمان راوړونکو به ، دخپلې هرې،لویې او وړې مسئلې لپاره رسول الله(ﷺ) ته رجوع کوله، که هغه خپل منځي شخړې وي، یا د کوم عمل په سر پېښېدونکې شخړه، ، په دواړو صورتونو کې هغوی رسول الله (ﷺ) ته رجوع کوله او دمشرکانو محاکموته نه تلل، غرض دا چې زما منشاء داده: چې په لومړۍ دوره کې به مسلمانانو په هر کار کې رسول الله(ﷺ)ته رجوع کوله او دیته مې دیو مملکت دننه دبل مملکت نوم ورکړ ،ځکه مسلمانانو دمکې دولت نه مانه، نو دهغه دحکمونو د منلو خو سوال نه پیدا کېده،د"اولی الامر" پوښتنه هغه مهال معقوله وه، چې هغوی "اولـی الامر" وای! داسمه ده چې دمکې خلکو دا ګام بغاوت ګانه!او په همدې وجه یې رسول الله (ﷺ) ته اذیتونه اوتکلیفونه ورکول، مسلمانان یې په شهادت رسول ،کوم چې دعالمي تاریخ د غمېزو لوی داستان دی، چې سره ددې چې دمکې خلکو ته هغه حق ا

ښکاریده، خو بیا هم دضد او عناد په وجه تر اوږدې مودې دهغه له منلو منکر وو، لیکن الحمد الله ددې غمېزې پای ښه را ووت، دمکې دفتحې په ورځ یوه کوچنۍ پیښه رامنځته شوه، دهغې په وجه دمکې خلکو خپله دښمني هېره کړه او له زړو نو څخه مسلمانان شول، هغه داوه چې دفتحې په ورځ د رسول الله(ﷺ) په امر په ټول ښار کې دا اعلان وشو: چې ټول خلک دې غونډ شي !رسول الله(ﷺ) وینا کوي، دې سره خلک لاړل او دکعبې په مسجد کې غونډ شول هر سړی اندېښمن و ، چې خامخا به دوی ته کومه سزا او روي؟ لنده داچې دنامعلوم برخلیک په روحیه دمکې مفتوح وګړي هلته ټول شول، په دې کې رسول الله(ﷺ) حضرت بلال (رضي الله عنه) ته حکم کوي، بلاله! پورته شه! دکعبې بام ته اذان وکړه! یومشرک سړي چې دکعبې په بام کله د بلال د اذان منظر ویني،هغه ځپل خواته ناست سړي ته وايي، شکر دی! نن زما پلار ژوندی نه دی! کنه هغه به دامنظر(کعبې بام ته ددې تور...ختل) څنګه زغملی؟دا اذان وروسته رسول الله(ﷺ) لمونځ وکړ او بیا یې ناستو خلکو ته وینا وکړه، په کنایو او اشارو کې هغوی ته د تیرو شلو کلو سلوک وریادکړ اوبیا یې پوښتنه وکړه اوس تا سي له مانه دڅه توقع کوئ؟

دلته درسول الله(ﷺ) ځواب دتاریخي لړلید له پلوه دیادونې وړدی او هم دارواپوهنې دلید له پلوه یې تتایج حیرانونکي دي!ځکه که رسول الله(ﷺ) هغه مهال غوښتي وه چې د ټولو دوژلو امر وکړي، په وړاندې یې هیڅ مانع نه و، ځکه رسول الله(ﷺ) سره ځواک و ، ښار هغه نیولی و او هغوی مستحق هم وو، چې محکوم شوي وایي یا لږترلږه تاریخه یې غلامان او ښځې یې وینځې ګرځول شوې وای! او ددې امکان هم و، خو دخدای(ﷻ) د وروستي استازي له مبارکې خولې نه داجمله ووته! تاسو نن پوښتنه او ګرویږنه نشته! په تاسو څوک څارونکی او محاسب نشته، ځئ! ازادشوئ! ...لاتثریب علیکم الیوم اذهبوا انتم الطلقاء.... په دې سره هغه سړی چې لږ ساعت دمخه یې په حضرت بلال(رضي الله عنه) طعن کاو، کاواکه ژر ور پورته شو او درسول الله(ﷺ) په لور ور منډې کړې، ای محمده!(ﷺ) زه "عتاب بن اسید" یم، یعنې ستا مشهور دښمن "اشهد ان لا اله الا الله محمد رسول الله" دښمني د اعلان رواني اثر داشو، چې نه یوازې "عتاب بن اسید" ایمان راوړو بلکې په شپه - شپه کې دمکې ټول خلک پخپله خوښه مسلمانان شول! اوبیا دوه کاله ورسته چې رسول الله(ﷺ) وفات شو ،او ګڼ قبایل مرتد شول، کوم خلک چې په اسلام کلک او ثابت قدم پاته شول او د تردداو شک پرته یې داسلام خدمت ته ملاوې وتړلې هغه هم دا د مکې دفتح وروسته ایمان راوړونکي وو، چې په زور او قوت مفتوح شوي وو...زه داقیصه بشپړوم،هرکله چې "عتاب بن اسید" کلیمه وویله، درسول الله(ﷺ) ځواب ورته داو، تا دمکې والي غوره کوم! څوشانې وړاندې دښمن شخص بیرته د مفتوحه ښار واکمن ټاکي! او خپله مدینې ته درومي! په داسې حال کې ځې چې له ځان بیرته په مکه کې ځپل یو عسکر هم نه پرېږدي،داځو خبرې باید دې لړکې مونږ په پام کې ونیسو ، چې اسلام د نورو مادي او دنیاوي تحریکونو پشان کوم تحریک ندی، دا دالله تعالی لورینه ده، کومه چې انسانانو ته رالیږل شوې او په هغه عمل کول هم هغه

کرداردی، چې دنړۍ په تاریخ کې یې لاثاني نقش پریښودی او نن هم کوم خلک چې بیطرفه مطالعه لري هغوی په دې اعتراف لري، نو مسلمانانو ته دمکیانو اطاعت ضرور نه وه، خکه هغوی یوه نوې ایډیا لوجې ورانډې کوله، په کومه کې چې دمکیانو نجات نغښتی و، خو دې شرط که هغوی منلی وای!

پوښتنه: دنړیوال قانون دارتقاء په لړ کې تاسو دیوناني او رومي سلطنتونو دقوانینو یادونې وکړې، ایا دسبا قوم سره دسلیمان (علیه السلام) سفارتي اړیکي قرآن کې ددې ښکاره مثال ندی؟ او هغه په دې ضمن کې څه مقام لري؟

ځواب: دیونانیانو اورومیانو څخه علاوه د نورو قومونو ذکر کولو ته هم ضرورت دی، د"هندوانو یهودانو" بلکې د "ریډا انډین" خلکو یادونه هم کېدای شي، زمونږ سره ډېر معلومات شته، خو دوخت د کمښت په وجه هغه ټول شریکولی نشم، دیهودي قانون په لړ کې سلیمان(علیه السلام) هم راځي، یهودي قانون یوائې هغه ندی، کوم چې دموسی (علیه السلام) په زمانه کې و، بلکې له هغه نه په را وروسته پیړیو کې هم په هغه کې زیاتونې، کمونې او بدلونونه راتلل، خو دیهودو قانون لږ ترلږه داوسني تورات په اساس داسلام دروښانه بابو نو سره مقابله نشي کولی، تاسو د"تثنیه" په نوم دیهودو کتاب ولولئ، دهغه دوینا له مخې الله (جل جلاله) موسی (علیه السلام) ته حکم کړی و، چې هر کله ته کوم نیږدې ښار ته ورسې، په هغه باندې دقبضې لپاره لومړی ځایي خلکو ته امان ورانډې کړه، که هغوی اومانه، اوخپلې دروازې یې خلاصې کړې، تاسو ښار ته په فاتحانه ډول ننوزئ، اومفتوح خلک به ټول ستاسې غلامان، خراج درکونکي اوستاسې خدمتگاران وي، ددې برعکس که هغوی مقاومت وکړي، اوتاسې دتورې په زور فتحه لاسته راوړه، بیا هلته هر ساه لرونکی ژوندی پرېږدئ مه، نارینه، میرمنې، ماشومان بوډاگان، خره، اوښان، څاروي او نور له تیغ نه تیر کړئ ! دهغه وروسته دیوشع (علیه السلام) په تورات کې مونږ مومو، هلته هم په دې قانون عمل کیده، داسې خبرې هم مندل کېږي چې یهود فلانې ښار ته لاړل، هلته یې میرمنې بوډاگان، او یې رودونکي ماشومان او څاروي قتل کړل! دهغه وروسته حضرت شمویل(علیه السلام) په کتاب کې گورو، په هغه کې هم دغسې څه مندل کېږي، دا دی هغه قانون کوم ته چې یهود دین وایي، شاید همدا اثر پاته وي چې نن په اسرایل کې هغه څه نه ترسترگو کېږي، کوم چې د یو متمدن قوم لپاره ضرور دي! حضرت سلیما (علیه السلام) حضرت داود (علیه السلام) یقیناً پیغمبران ول، خو زه په دې نه پوهیږم چې موسی (علیه السلام) ته یوشع (علیه السلام) ته شمویل(علیه السلام) ته په اوسني تورات کې شته منسوب مواد صحیح دي یا نه؟ داسمه ده چې د یهودو په تاریخ کې نړیوال قانون لیدل کېږي، دجنگ اوامن په دواړو حالتونو کې، خو هر چې دسلیمان(علیه السلام) تعلق دسبا ملکې سره دی، هغه دامن په حالت کې دروابطو یو مثال دی، خو د جنگ په حالت کې دروابطو مثال نه....

پوښتنه: تاسو وویل، لومړی اجماع د ارتداد فتنې خلاف په جهاد شوی، په بخاري شریف کې دي چې درسول الله (صلی الله علیه وسلم) په وفات کېدو حضرت عمر (رضي الله عنه) وفرمایل: که هر چا دا وویل چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفات

دی، زه به تري سرپريک کرم! يا حضرت ابوبکر صديق (رض) وينا وکړه او څو قرآني اياتونه يې تلاوت کړل، دې سره حضرت عمر (رض) او نورو صحابه چوپ شول، نو ايا دا لومړی اجماع نه وه چې د رسول الله (ﷺ) د وفات وروسته د صحابه وو ترمنځ وشوه؟

ځواب: ما عرض وکړ چې اجماع هغه مهال کېږي چې کله قرآن او حديث ساکت وي هر کله چې د قرآن ايت تلاوت شو او ټولو د هغه په وړاندې سر ونه ښکته کړل، نو دفن له پلوه زه دېته اجماع نشم ويلی.

پوښتنه: په ځينو هېوادو کې ديو شمېر خلکو په نظر ټولنو ته د اسلامي رنګ ورښېنلو په موخه اسلامي قانون ضرور دی، ځيني نور بيا په دې نظر دي چې تر څو د فرد انفرادي اصلاح و نشي، تر هغه په پوره توګه اسلامي قانون پلی کېدای نشي او نه ټولنو ته اسلامي رنګ ببښل به اسانه وي، ستا په رايه کوم فکر سم او پر ځای دی؟

ځواب: اګر که دا پوښتنه د نن ورځې له وينا سره سمون نه خوري، خو په هر صورت زه يې په اړه داعرض کوم، که مونږ د فرد يا ټولنې د اصلاح وروسته اسلامي قانون نافذولو ته کينو، نو په دې انتظار، انتظار کې به قيامت راشي! خو اسلامي نظام نه ... د دې لپاره په يو وخت د اصلاحاتو مبارزه هم روان ول پکار دي او د اسلامي قانون د نافذولو کوښښونه هم، ولې اسلامي قانون د پر خلک مجبور وي چې هغوی د سزاګانو له وېره ځانونه نيکان کړي، د مثال په ډول: ځيني خلک د غله نه د لاس په پريکولو نيوکې کوي، او ورته (معاذالله) وحشيانه وايي، زه د هغوی په خدمت کې داعرض کوم که د لاس پريکولو په سزا عمل وشي، په دې سره به د يو هېواد ټول خلک بې لاسو نشي، ديو يا دوه تنو نه د لاسونو په قطع کولو به نور خلک عبرت واخلي او څوک به غلا کولو ته زړه ښه نکړي، داغوره ده چې ديو يا دوه تنو لاسونه پريک شي او نور خلک په پوره ډاډ سره په خپلو کورو نو کې ويده شي، نه د هغوی سره د غلو نه د دار انديښنه وي او نه د کوم بل دار له امله انديښمن وي. يا هغه صورت چې ما په فارس کې ليدلی دی، هلته په زندان کې غله له خپلو کورو نو نه ځانونه ښه اسوده او خوشال حسوي، په دې سره غله زرور کېږي، داکار غله غلا کولو ته ترغيبوي، چې د خپل محنت په ځای په دولتي ميلمستونو کې غوړې چربې وهي، غرض دا چې زما په رايه د اسلامي قانون د نفاذ او د ټولنې د اصلاح کوښښونه يو ځای پيلول پکار دي، څنګه چې د رسول الله (ﷺ) په زمانه کې وشول، د دينه پرته مونږ شايد تر قيامته انتظار وکړو، خو ټولنه به اصلاح نشي.

پوښتنه: په اسلام کې په بل حکومت حمله جواز نلري، د مديني رياست چې کله په پېښو ودريده، هغه په مکه باندې ولې لومړی حمله وکړه؟

ځواب: دا چې په مکه باندې مسلمانانو لومړی حمله وکړه! تاسو د دې ثبوت وړاندې کړئ!، تاسو ته به په زړه وي، په "حديبيه" نوم ځای کې د هجرت په ۶ کال د مسلمانانو او مکيانو ترمنځ سوله وشوه، په هغه کې داشرط و چې دواړه لوري به ديو بل پر ضد په پټه يا ښکاره د ظلم او تجاوز کولو نه ډاډه کوي، د دې باوجود کله چې د مکيانو حليف قبيلې "بنوکنانه" د مسلمانانو د حليف قبيلې "بنو خزاعه" سره جنګ راغی، مکيانو

دوعدې نه سرغړونه وکړه او "بنوکنانه" ته یې وسلې اوکومکونه ورکړل او بیا پټ ورغلل په "بنوخزاعه" یې حمله وکړه، هلته یې څوتنه مسلمانان هم په شهادت ورسول، په دې سره مسلمانانو دغچ اخیستو پریکړه وکړه او په مکه باندې یې حمله وکړه اوس دیته پرغل نه ویل کیږي، ځکه شروع دهغوي لخوا وشوه، دمسلمانانو لخوا ځواب و شو، البته ددې موقع نه مسلمانانو گټه پورته کړه، اوزه به دا ووایم چې دغه مهال رسول الله(ﷺ) دیو تجربه کار سرلښکر په حیث دومره لویه کارنامه په بري سره ترسره کړه، چې هغې ته په کتو سړی حیران پاته شي، په هغه زمانه کې لس زره پوځ په یو لوري پټ بیول اسانه نه وو، او بیا دتللو رفتار هم دومره سست چې اوس مهال دمدینې نه مکې ته درسیدو لپاره څو ساعته پکار دي، خو هغه مهال دوه اوونۍ پکاروي، ددې باوجود دمسلمانانو لښکر دمدینې څخه درومي دمکې ښار ترڅنډو رسي او هلته اړوي، تردغه وخت مکیانو ته هیڅ اطلاع نه رسي! بیا مسلمانان دمکې ښار فتحه کوي، یو څاڅکي وینه نه توییږي، اوبیا څنگه رسول الله(ﷺ) په یوه جمله ویلو ټول خلک ازاد کړل؟ لنډه دا چې دتاریخي دلایلو په رڼا کې په مکه باندې مسلمانانو جارحیت ندی کړی...

پوښتنه: رومي قانون دنړۍ ترټولو پخوانی قانون گڼل کیږي، له دې وجې په وروسته تدوین شویو قوانینو یې اغېز هم کړی دی، چې ځیني مواد یې ښه هم دي، ایا په اسلامي قانون باندې رومي قانون تاثیر کړی دی؟ او که کړی دی په کومو کومو برخو کې اسلامي قانون له رومي قانونه متاثردی؟

ځواب: که ته په عربي پوهیږې، ستا کتابتون ته یو نوی کتاب "هل للقانون الرومی تاثیر علی الفقه الاسلامی؟" تازه راغلی دی، کوم چې په عربي ژبه لیکل شوی دی، پکې دپنځو مؤلفینو مقالې ترجمه شویدي، او پنځو وارو په دې موضوع بحث کړی دی، چې ایا په اسلامي قانون باندې رومي قانون تاثیر کړی دی کنه؟ په پنځو لیکوالو کې یو ایټالوی دی، یو انگریز دی، او یو فرانسوی دی، اونور... دحیرانتیا ځای دا دی چې پنځه واړه دې نتیجې ته رسیدلي چې په اسلامي قانون باندې رومي قانون قطعاً اغېز ندی کړی، او په دې حیرانتیا ښیي لکه د فرانسوي لیکوال د مضمون عنوان دی: (The mystery of the foundation of muslim law) په دې مضمون کې خپله حیرانتیا ښیي، چې اسلامي قانون پخپله څنگه جوړ شو؟ په بله وینا که په اسلامي قانون باندې درومي قانون اثر وای، ددې لپاره خامخا کومه وسیله پکار وه، اول خو رومي قانون په لاطیني ژبه و، لیکن داوسنۍ پیړۍ تر نیمایي پورې په عربي یا دختیځ په کومه بله ژبه دهغه ژباړه نده ترسترگو شوې، دویم دا چې مسلمانانو دخپلو فتوحاتو په لړ کې دقرآني حکمونو لاندې هرقوم ته قانوني خپلواکي ورکړې وه، خو درومي قانون له مخې که د دوه عیسایانو ترمنځ نښته راځي، نو قانون به عیسوي وي، قاضي به هم عیسایي وي، فریقین به عیسایان وي، غرض دا چې دهغوی لپاره اسلامي محکمې ته دتلو ضرورت نشته، که د دوه مسلمانانو ترمنځ جگړه وشوه، نو دقرآن سره سم به پریکړه کولی شي، دیوبل څیز لورته اشاره کوم چې داسلامي فقې له کتابونو او د رومي قانون له کتابونو څخه یو، یو واخلئ! که دیوبل نه

ماخوذ وي، نوښکاره ده چا چې اخذ کړی دی په هغه کې به د اصل ماخذ څه نه څه تاثير پاته وي! مثلاً: رومي قانون– قانون ته د "يس" نوم ورکړی، او د مسلمانان قانون ته "فقه" وايي، د "يس" معنی ده حقوق– او د "فقه" معنی ده معرفت– مسلمانانو خپل قانون ته د "يس" يا "حقوقو" نوم نه دی ورکړی، اګر که په ترکيه، ايران مصر (افغانستان ژ) او نورو کې د قانون لپاره او س د حقوقو اصطلاح کارول کېږي، د هغې وجه دا ده چې زده کوونکي د زده کړو لپاره اروپا يې هېوادونو لکه فرانسې جرمني، ايتاليا او نورو ته د رومي، هلته قانون لولي، دا چې هلته ورته د حقوقو لفظ کارول کېږي، دلته هم هغوی له ځانو سره د حقوقو لفظ راوړی دی، ليکن مسلمانان خپل قانون ته "علم الحقوق" نه وايي، بلکې ورته "علم الفقه" وايي، ما دلته د غربي هېوادونو په فهرست کې د انګلستان او امريکا نوم نه يادنکړل، ځکه چې د انګريزي لفظ LAW معنی حقوق نه ده، زما په ذهن کې دلته فرانسوي جرمني او ايتالوي اصطلاح ده، په خاصه توګه د فرانسوي ژبې علمي تاثير په ترکي، فارسي او عربي کې ډېر دی

بل دا که د رومي قانون کتابونه خلاص کړئ، نو د هغو ټول مواد په درې کټه ګوريو نو ويشلي دي، لومړی ډول: PERSONS يعنې د وګړو قانون، دويم PROPERTY د مالياتو په اړه قانون، او درېيم: ACTION د قضاياوو قانون، د اسلامي قانون کتاب خلاص کړه، نو لومړی عبادات دي، يعنې لمونځ، روژه، حج، زکات، د هغو وروسته معاملات دي، د هغه نه وروسته تعزيرات دي، که د رومي قانون څخه

اسلامي قانون متاثر وای، نو لړترلړه په دې تکنيکي جوړښت کې به يې اثر و، يعنې اسلامي قانون به هم د وګړو، مال، او د قضييو په اساس جوړ و، خو داسې نه ده، بيا دا هم وګوره، چې په اسلامي قانون کې بلا استثناء د حنفي، شافعي مالکي حنبلي، شيعه او ټولو فرقونه د ټولو په کتابونو کې اول د عباداتو برخه ده، خو د رومي قانون په هيڅ کتاب کې د عباداتو برخه نشته، غرض دا چې که په اسلامي قانون باندې د رومي قانون اثر پريوتی وای (نو د ترتيب له پلوه به يې ترمنځ دا توپير نه و) څنګه چې دځينو خلکو دعوه ده، بايد هغوی د خپلې دعوې د ثبوت لپاره دلايل وړاندې کړي خو مونږ ته نه ښکاري....

په دې لړ کې يو بل څيز هم ويل کېږي، هغه دا چې په کوم زمانه کې مسلمانانو هغه سيمې فتحه کړې، کومې چې د "بزنطيني سلطنت "برخه وې، هغه مهال هلته رومي قانون نافذ نه و، د مختلفو لاملونو په وجه هغوی ته روميانو ازادې ورکړې وه، د هغوی معاملات د هغوی د ديني پادريانو حکمونو ته سپارل شوي وو، هر کله چې هغه سيمې مسلمانانو ونيولې پکې رومي قانون نه و پلي، نو تري د تاثر اخستو سوال نه پيدا کېږي، يو بل څيز هم زمونږ مصنفينو راوړی دی، هغه دا چې د رومي قانون زده کړې په بيروت کې کېدې ځينو مصنفينو غالباً د هغې مدرسې دا ثر خبره کړيده، خو حقيقت دا دی چې هغه مدرسه د اسلام څخه دوه سوه کاله وړاندې تړل شوي وه، هغه مهال يې نه وه، غرض دا چې که د غه کتاب (هل لقانون الرومي تاثير على الفقه الاسلامی) ولولي کوم چې ستاسې په کتابتون کې شته دی، نو هغه ټول دلايل به

په‌لاس درشي کوم‌چې بېلابېلو مؤلفينو په‌دې‌باب وړاندې کړې دي.

پوښتنه: پرون تا دیوې پوښتنې په‌ځواب کې ويلي و، چې ترټولو لومړی اجماع په‌صديقي دورکې زکات نه ورکونکو سره‌دجنګ په‌اړه شوي، حال‌داچې ترټولو اول اجماع په‌صديقي خلافت شوي.

ځواب... ممکن ستارايه‌صحيح‌وي، ماويلي و، چې لومړی اجماع دزکات نه‌ورکونکو سره په‌جنګ کولو شوي، هرچې داخبره ده چې دحضرت ابوبکر صديق(رضي الله عنه) په‌خلافت اجماع‌شوي، په‌دې کې لږتامل دی، غالباً تاسوته‌به‌معلومه‌وي چې ځوتنو صحابه‌وو له حضرت ابوبکرصديق(رضي الله عنه) سره بيعت ونه‌کړ، ځوتنو په‌بيعت کولو کې ځنډ وکړ، او داجماع معنی دا ده، چې ټول‌پرې متفق‌شي، يو ترې هم‌بيرون‌پاته‌نه‌وي، کنه‌بيا هغه‌اجماع نده، تاسوته‌به‌جوته‌وي، چې سعدبن عباده (رضي الله عنه)بيعت نه‌وکړی، دحضرت ابوبکرصديق(رضي الله عنه) دخليفه کېدو وروسته‌چې کله‌جنګونه‌شروع‌شول، له يوځسره‌د مدينې منورې نه لاړشو او دحضرت عمر(رضي الله عنه) دخلافت په‌زمانه‌کې دنه‌بيعت په‌حالت کې وفات شو او ځينو نورو په‌بيعت‌کې ځنډ وکړ، دحضرت علي(رضي الله عنه) له‌واقعې نه‌به‌هم تاسو خبرلرئ، له‌دې‌وجې ره‌ورته په اجماع‌ويلو کې تامل لرم.

پوښتنه: دشرعي قانون دامتياز اړخ دادی چې دهغه سره‌دروحاني برتری اوتفوق تصور تړلی دی، کوم‌چې موضوعه‌قوانين‌نلري،په‌دې‌اړه‌رڼا واچوئ؟

ځواب: زه‌پوهېږم‌چې‌په‌دې‌باندې‌درڼا اچولو اړتيا نشته، پخپله‌ته چې کومې نتيجې ته‌رسيدلی يې، هغه کفايت‌کوي، په‌اسلامي قانون‌باندې که‌عمل‌وشي، نونه‌يواځې دحکومت‌اطاعت راځي، دالله‌تعالی داطاعت‌معنی داده‌چې مونږدوزخ‌ته‌ونه‌لېږي، اګرکه غلام‌ته دآقا په‌حکمونو دنه‌عمل‌په‌سر دسزا يا انعام سوال‌نه‌کېږي، هغه به‌خپله‌فريضه سرته‌رسوي، خو الله(جل جلاله) پخپل‌بې‌پايه رحمت‌خپل غلام سره‌دمنصبي فرايضو په سرته‌رسولو دجنت وعده کړيده، دا هغه‌اړخ دی‌چې په‌دونياوي‌قوانينو کې نشته

پوښتنه: يو اسلامي حکومت‌د نړيوالو اړيکو په‌لړ کې دنورو هېوادونو سره سوداګري‌هم‌کوي، نن‌سبا ټول هېوادونه‌خپل‌کاروبار په‌سود چلوي، داسلام‌نړيوال قانون‌په‌دې‌باره‌کې څه‌وايي؟

ځواب: څومره‌چې‌زه‌پوهېږم‌په‌دې‌باب‌هيڅ‌ستونزه نشته، ځکه‌چې ته‌سوداګري‌کوي‌نو دسود کولو سوال‌نه پيدا کېږي، ددې برخلاف که‌ته‌قرض اخلي، نودسود غوښتنه‌کېږي، که‌ته‌پخپل‌منځ کې دتجارت چارې تنظيم‌کړي، اوخپل‌منځ کې سود وانخلي، اودقرض‌په صورت‌کې زيات‌نه‌زيات دمضاربت‌په‌اصولو عمل وکړي، نومونږ دسود نه‌ځانونه‌ژغورلی شو، دنړيوال اوغيرنړيوال قانون‌په‌وجه داسلام حکمونه‌نشي بدليدای، داپېله‌خبره‌ده‌چې‌په‌دې‌عمل کولی‌شو اوکه نه، څو چې مونږ غلامان‌يو، انګريزان‌په‌مونږ مسلط‌وي، هغوی به‌خپلې فيصلې په‌مونږ مني، که‌مونږ ازاديو، مونږ خپل‌صلاحيتونه‌ولرو، امکانات‌هم‌ولرو، مونږ بايد هيڅکله‌د سودي نظام‌منلو ته‌غاړه کېنږدو...

پای

د اسلام تشریعي اساسات

تقلید

مفتي شاهد (حقاني)

د(شهامت) دتیرې ګڼې څېړنیزه لیکنه کې مو دومره ثابته کړه، چې تقلیدپه فروعاتو کې جایز دی او دعوامو لپاره یې زیات علماء واجب هم بولي ،دې ګڼه کې به دتقلید په معنی بحث وکړو او هم به دا مفصلاً وڅېړو، چې یوازې په فروعاتو کې تقلید ضرور دی، که نه په اصول الدین یا عقایدو کې هم روا دی؟ او علماء ددې مسئلې په وضاحت کې څه وايي !

دتقلید لغوي معنی : په (روضة الناظر لابن قدامة ۲ / ٤٤۹ ط ثانية ، الرياض مكتبة المعارف ۱٤۰٤ ه .)کې لیکي : التَّقْلِيدُ لُغَـةً : مَصْـدَرُ قَلَّـدَ ، أَيْ جَعَـلَ الشَّيْءَ فِي عُنُـقِ غَـيْرِهِ مَـعَ الإِحَاطَـةِ بِـهِ) یعنې تقلید دلغت له حیثه دقلد مصدر دی ،او داکلمه دلغت په لحاظ د چا په غاړه کې داسې غاړکۍ اچولو ته وايي، چې په ټوله غاړه یې احاطه کړې وي ،لکه چې داسې یو څوک ووايي چې :قَـلَّدْتُ الرَّجُـلَ السَّـيْفَ فَـتَقَلَّدَهُ : إِذَا جَعَـلَ حَمَائِلَـهُ فِي عُنُقِـهِ..یعنې یو سړي ته مې غاړه کې توره داسې ورواچوله چې دا حمایل یې ټول په غاړه شول . په (لسان العرب ، اومختار الصحاح)کې وايي : وَفِي التَّهْـذِيبِ : تَقْلِيـدُ الْبَدَنَـةِ أَنْ يُجْعَـلَ فِي عُنُقِهَـا عُـرْوَةُ مَزَادَةٍ ، أَوْ خَلَقُ نَعْلٍ ، فَـيُعْلَمُ أَنَّهَـا هَـدْيٌ . وَقَـلَّدَ فُلَانًـا الأَمْـرَ إِيَّـاهُ . وَمِنْـهُ تَقْلِيـدُ الْـوُلَاةِ الأَعْمَـالَ)ژ:او په التهذيب کې لیکي چې : دبدنې تقلید دادی ،چې غاړه کې یې رسۍ، واچوي ،یا پنه ورته ترغاړې کړي ،نوددې نه به معلومیږي، چې دابدنه دکعبې هدیه ده ؛ یاد تقلید معنی داده، چې فلاني ته یې کومه دنده وروسپارله او همداسې والیانواومشرانو ته وظایفو سپارلو ته هم دتقلید کلمه کارول کیږي .

الموسوعة الفقهية کې لیکي چې :تقلید په شریعت مطهره کې په څلورو معنی ګانو استعمالیږي ، لومړی معنی یې : والي او یا قاضي ته دوظیفې سپارل ؛ دویمه معنی : هدایاووته غاړه کې کومه نښه اچول،ترڅو چې نورو اموالو سره یې فرق وشي ؛دریمه معنی :تعویذونه وغیره غاړه کې اچول ؛څلورمه معنی اوهغه معنی چې زموږ دلته څېړنه کې هم مراد ده هغه : التَّقْلِيدَ فِي الدِّينِ وَهُوَ الأَخْذُ فِيهِ بِقَوْلِ الْغَيْرِ مَعَ عَـدَمِ مَعْرِفَـةِ دَلِيلِـهِ . أَوْ هُوَ الْعَمَلُ بِقَـوْلِ الْغَـيْرِ مِنْ غَـيْرِ حُجَّـةٍ /روضة الناظر بتعليق الشيخ عبد القادر بن بدران ۱٤۰٤هـ۲ / ٤٥۰ القاهرة المطبعة السلفية ، وارشاد الفحول للشوكاني ص ۲٦٥ . القاهرة . مطبعة مصطفى الحلبي ۱۳٥٦ هـ.) ژ : تقلید په دین کې دې ته ویل کیږي، چې پرته ددلیل غوښتلو څخه دبل چا په

قول بـاور وكـړي او ويـې منـي ،يـا داچـې تقليـد دې تـه وايـې، چـې دبـل كـوم عـالم پـه قـول لـه حجـت څخـه پـه غير عمل وكړي .

پـه (شرح مسـلم الثبـوت ۲ / ٤٠٠ . القـاهرة ، مطبعـة بـولاق ، ۱۳۲۲هـ، المستصـفى مطبـوع مـع مسـلم الثبـوت ۲ / ۳۸۷ . الطبعـة المـذكورة ، او روضـة النـاظر ۲ / ٤٥٠ .)كـې دتقليد په هكله داسې ليكي چې :تقليـد لـه حجـت پرتـه دبل چا دقول منـل دي، لكـه څنګـه چـې يـو عـام شـخص د مجتهد قـول قبـول كـړي ،خوداچې څـوک پخپلـه درسـول الله صـلى الله عليـه وسـلم قـول تـه رجـوع وكـړي ،نـو دې تـه تقليـد نـه وايـې ،همداسـې كـه څـوک اجـماع امـت تـه مراجعـه وكـړي، نـو هـم ورتـه تقليـد نشـي ويـل كيـداى ،ځكه دې كې رجوع مـا هـو الحجـت تـه فـى نفسـه راغلـه او پخپلـه اصـل تـه پكـې صيرورت وشـو، نـو دې تـه تقليـد نـه وايـې ،تقليـد هغـه دى چـې دكـوم منـل شـوي امـام يـا مجتهـد قـول بانـدې ده څخـه ددليـل لـه غوښـتلو پرتـه عمل وكړي او ويې ومني !

دتقليد حكم

لكه مخكـې مـو چـې ورتـه نغوتـه وكـړه، فقهـاء وايـې، چـې ددیـن پـه ضروري مسـايلو كـې لكـه لمـونځ ،روژه ،زكـات ،حـج وغيـره ... كـې تقليـد ضرور نـدى ،بلكـې دا بـه پخپلـه مبـاشرةً لـه شـارع څخـه اخـلي ،همداسـې دجمهـورو اصـوليينوپه عقيـده عقايـدو كـې دچـا تقليـد نـدى جايز،لكـه دالله تعـالى پـه وحـدانيت ،وجـود اودعبـادت پـه افـراد كـې يـې ،همداسـې دالله جـل جلالـه پيغمـبر صـلى الله عليـه وسـلم دصـدق پـه معرفـت كـې ،چـې دوئ وايـې چـې دې ټولـو كـې بـه تفكـر ،تـدبركوي او خپـل قلبـي طمانيـت بـه پكـې دعلـم پـه وسـيله خپلـوي ،دوئ ددې خـبرې داثبـات لپـاره دادلايـل راوړي : الله تعالى فرمايي { بَلْ قَـالُوا إِنَّـا وَجَـدْنَا آبَاءَنَـا عَلَى أُمَّـةٍ وَإِنَّـا عَلَى آثَارِهِمْ مُهْتَـدُونَ } (سـورة الزخـرف / ۲۲ .) ، وَلَمَّـا نَـزَلَ قَـوْله تَعَـالَى : { إِنَّ فِي خَلْـقِ السَّـمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْـتِلافِ اللَّيْـلِ وَالنَّهَـارِ لآيَـاتٍ لأُولِي الأَلْبَـابِ } (سـورة آل عمـران / ۱۹۰) قَالَ النَّبِيُّ صَـلَّى اللهُ عَلَيْـهِ وَسَـلَّمَ : " لَقَـدْ نَزَلَـتْ عَـلَيَّ اللَّيْلَـةَ آيَـةٌ . وَيْـلٌ لِمَـنْ قَرَأَهَـا وَلَـمْ يَتَفَكَّـرْ فِيهَـا " (أخرجـه ابـن حبان).

ځينـې فقهـاء وايـې چـې عقايـدو كـې هـم تقليـد جـايز دى او دوئ ددې مخكينـي نظريـې انتسـاب ظاهريـه وو تـه كـړى ! البتـه جمهـور اصوليين وايـې چـې دعقايـدو غونـدې دعـدم تقليـد حكـم هغـه مسـايل هـم اخـلي چـې ددیـن څخـه بالضرورة معلـوميږي او اركـان خمسه پكې شامليږي .

فروعاتو كې دكوم مجتهد تقليد

پـه فروعـي مسـايلودتقليد پـه هكلـه دعـامو اصـوليينو او ډيـرو علـماوو نظردجـواز او حتـى دعـام مسلمان لپاره چـې داجتهـاد متره او قـوت پكـې نـه وي ،دتقليـد پروجـوب حكـم كـوى ،خـو يـو كـم شـمير علـماء په دې باب مخالف نظر لـري، چـې تفصيل بـه يـې لانـدې بحث كې ذكر شي .

پـه (روضـة النـاظر ۲ / ٤٥١ ، ٤٥٢ ، إعـلام المـوقعين ٤ / ۱۸۷ ـ ۲۰۱ ، او إرشـاد الفحـول ص ٢٦٦ .) ليكـل شـوي ،چـې جمهـور اصـوليين علـماء وايـې: چـې تقليـد جـايز دى ،ځكـه مجتهـد بـه يـا مصـيب وي، يـا بـه مخطـئ وي ،چـې دې صـورت كـې هـم ورتـه ثـواب وركـول كيـږي او ګناهګـار يـږي نـه ،بلكـې پـه عـامي شـخص (غيـر عـالم)بانـدې تقليـد واجـب دى ،داځكـه چـې دا امـي شـخص هـم دشرعـي احكـامو پـه تعميـل بانـدې مكلـف دى ،اوده تـه دلايـل نـه وي څرګنـد ،پرده بانـدې ددلايلـو دخفـاء تيـاره خپـره وي ،داشـخص نظـر او اجتهـاد تـه محتـاج دى ،خـو كـه عـوام هـم پـه اجتهادبانـدې مكلـف شي ،نـودې سره بـه دنسـل او كښـت انقطـاع راشي، دكسـبونو

اوصنايعو امو راتو څنګ وځنګ په رامنځته شي، چې ټولنه به دسختو مشکلاتو اوستونزو سره مخ شي اوبل داچې ځينوصحابه کرامو رضی الله عنهم به هم ځينونورو ته فتواوې ورکولې اوهمداسې به يې نوروخلکوته به يې فتوې ورکوله، خودوئ ته يې داجتهاد دمرتبې ترلاسه کولو باندې حکم نه کاوه .

الله جل جلاله هم له علماوو نه دمسايلو په پوښتلو کې امر کړی دی، لکه چې په سورت النحل / ٤٣ آيت کې فرمايي : { فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لا تَعْلَمُونَ }نور هم داسې دلايل شته، چې دتقليد جواز اوعامي يا امي ته ترې دتقليد وجوب ثابتيږي ،چې همدا نظر دزياتو علماوو غښتلي رأيه ده، ځکه که عوام هم دکوم داسې منل شوي عالم تقليد باندې وجوباً مکلف نشي نو اسلامي جامعه به دپېچلو ستونزو سره مخ شي او خلک به دمسايلو په حل کې لا لهانده او سرګردانه ګرځي راګرځي ،نه به دبي علمی په وجه پخپله په مسئله پوهيږي او نه به دکوم عالم تقليد ورته واجب وي ،چې دې سره به ورځنی چاري دځنډ وځنډ سره مخامخ شي او ټولنه به دتحير او سرګردانی ښکار شي ،نو ددغو وجوهاتو او عواملو په وجه نن سبا پرعامو مسلمانانو تقليد واجب او په مذهبي دايره کې ننوتل ورته دفتنو او مشکلاتو څخه دخلاصون خورا ښه لاره ده او بس !

په (الموسوعة الفقهية) کې ليکي چې :دحافظ ابن عبدالبر رح،علامه ابن قيم الجوزی رح او علامه شوکانی رح په څير علماء وايې چې تقليد حرام دی او دوئ استدلال پدې دول کريمه وو آيتونو او دعلماوو په اقوالو سره کوي ،چې پکې دتقليد مذمت بيان شوی دی (چې البته په تير بحث کې مو وويل چې ددې آيتونو څخه غير شرعي تقليد مراد دی ،چې هغو به په ناروا ووکې دخپلو مشرانو تقليد کاوه ،کوم تقليد چې جواز لري هغه په شرعي مسايلو او جايزو اموراتو کې دی او دې کې کومه قبح نشته بلکې ضرور هم دی)، هغه آيتونه چې دا علماء يې استدلال کې راوړي دا دي :{ اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ} (سورة التوبة / ٣١ .) وَقَوْلِهِ { وَقَالُوا رَبَّنَا إِنَّا أَطَعْنَا سَادَتَنَا وَكُبَرَاءَنَا فَأَضَلُّونَا السَّبِيلا } (سورة الأحزاب / ٦٧ .) بل دوئ وايې چې پخپله دمذاهبو ائمه ووحضراتو دخپل ځان له تقليد څخه منع کړې ده ،دوئ دحضرت امام ابوحنيفه رح او حضرت امام ابويوسف رح دا قول راوړی، چې پکې داسې وايې : قَالَ أَبُو حَنِيفَةَ وَأَبُو يُوسُفَ : لا يَحِلُّ لأَحَدٍ أَنْ يَقُولَ بِقَوْلِنَا حَتَّى يَعْلَمَ مِنْ أَيْنَ قُلْنَاهُ . همداسې (المزنی)دخپل کتاب (مختصر)په پيل کې وايې چې : اخْتَصَرْتُ هَذَا مِنْ عِلْمِ الشَّافِعِيِّ ، وَمِنْ مَعْنَى قَوْلِهِ مَعَ إِعْلامِهِ نَهْيَهُ عَنْ تَقْلِيدِهِ وَتَقْلِيدِ غَيْرِهِ لِيَنْظُرَ فِيهِ لِدِينِهِ وَيَحْتَاطَ لِنَفْسِهِ)ژ:داکتاب مې دامام شافعي رح له علم څخه اودده ددې قول له معنی رامختصر کړ،چې ده به دخپل ځان له خپل تقليد او دبل چا له تقليد څخه منع کوله، چې دا ددديانت او داحتياط له وجه وه .او حضرت امام احمد بن حنبل رح به فرمايل چې : لا تُقَلِّدْنِي ، وَلا تُقَلِّدْ مَالِكًا وَلا الثَّوْرِيَّ ، وَلا الأَوْزَاعِيَّ ، وَخُذْ مِنْ حَيْثُ أَخَذُوا(إعلام الموقعين ٤ / ١٨٧ ـ ٢٠١ ، ٢١١ ، ومختصر المزني المطبوع مع الأم للشافعي ص١ ، وإرشاد الفحول ص ٢٦٦ .)ژ:امام احمد بن حنبل رح به فرمايل : چې مه زما اومه دامام مالک رح ،مه دسفيان ثوری رح او مه دامام اوزاعی رح کې دکوم چا تقليد کوئ .

اوبيا بل ځای په (إعلام الموقعين ٤ / ٢٣٦ ، ١٩٢ .) کې ابن قيم الجوزی رح فرمايي :هغه تقليد ممنوع دی، چې ديوه معين شخص اقوال دشارع دنصوصوغوندې څوک ومني او دده پرته دبل چا قول

او نصوصوته ترجیح نه ورکوي ،نوداسې دول تقلید محرم دی ،همداسې ابن قیم الجوزی رح او امام شوکاني رح یوه بله داسې مرتبه تثبیت کړي ،چې دتقلید نه فوق او داجتهاد نه ښکته ده، چې هغې ته د(اتباع) مرتبه وایي، چې حقیقت دي اتباع کې دبل چاله قول څخه تقلید شوی وي، خو دلیل هم ورسره وي ،لکه چې په (إعلام الموقعین ٤ / ١٨٧ ـ ٢٠١ ، ٢١١ ،)کې چې راغلي دي .((عَلَى حَدِّ مَا وَرَدَ فِي قَوْلِ أَبِي حَنِيفَةَ وَأَبِي يُوسُفَ (لا يَحِلُّ لأَحَدٍ أَنْ يَقُولَ مَقَالَتَنَا حَتَّى يَعْلَمَ مِنْ أَيْنَ قُلْنَا))

خوالموسوعة الفقهية کې ددې دویمې دلې علماوو په ځواب کې چې له تقلید نه انکار کوي او دلیل کې دمذاهبو دائمه وو اقوال راوړي، وایي چې شاید دائمه مذاهبو موخه ددې څخه چې ددوئ له تقلیدڅخه یکې منع فرمایلې ، ددوئ هغو شاگردانو ته متوجه وي، چې هغو ئ کې پخپله داجتهاد او دلایلو دحجیت دپیژندلو استعدادوو،نو دوئ دمحض تقلید څخه نهی وکړه، هرچې هغه عامي یا هغه عوام دي، چې نه د دلایلو دحجتیت اهلیت نلري او نه ورسره علم راسخ شته، نو دوئ ته دائمه ووکلام ندی متوجه او پردوئ فرض ده، چې دکوم منل شوي امام او عالم څخه تقلید وکړي ،همداسې مو مخکې وویل چې دتقلید مانعین چې دتقلید په حرمت کې کوم آیتونه راوړي ،ددې څخه هغه تقلید مراد دی چې غیر شرعي تقلید وي نه شرعي تقلید .

په تیر ه گڼه کې مو داسې نقل کړی ووچې : علامه ابن العربی په خپل تفسیر(احکام القرآن لابن العربی ج٣ص٣٨٣)کې لیکي : الْمَسْأَلَةُ الثَّالِثَةُ :

تَعَلَّقَ قَوْمٌ بِهَذِهِ الْآيَةِ فِي ذَمِّ التَّقْلِيدِ ، وَقَدْ ذَكَرَ اللَّهُ سُبْحَانَهُ ذَمَّ الْكُفَّارِ بِاتِّبَاعِهِمْ لِآبَائِهِمْ بِالْبَاطِلِ ، وَاقْتِدَائِهِمْ بِهِمْ فِي الْكُفْرِ وَالْمَعْصِيَةِ فِي مَوَاضِعَ مِنْ الْقُرْآنِ .

وَأَكَّدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَلِكَ ؛ وَإِنَّمَا يَكُونُ كَمَا فَسَّرْنَاهُ فِي الْبَاطِلِ .

فَأَمَّا التَّقْلِيدُ فِي الْحَقِّ فَأَصْلٌ مِنْ أُصُولِ الدِّينِ ، وَعِصْمَةٌ مِنْ عِصَمِ الْمُسْلِمِينَ يَلْجَأُ إلَيْهَا الْجَاهِلُ الْمُقَصِّرُ عَنْ دَرْكِ النَّظَرِ .ژ: یعني دي آیت کې دکفارو مذمت پدې شوی ،چې په کفر او معصیت کې دخپلو پلرونو پیروي کوي ،خوالبته په حق کې تقلید ددین له اصولو څخه یو اصل دی .



امــام قرطبــي رح پخپــل تفســيرالجامع الاحکــام للقرطبي کې دتقليد په باب دلانديني آيت په تفسير کې خپل تحقيق داسې ليکلی :

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنْزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لا يَعْقِلُونَ شَيْئاً وَلا يَهْتَدُونَ).چې ځينوخلکودتقليد مذمت ته ددې فوق الذکر آيت سره تعلق ورکړی،پدې معنی چې ځنکه چې الله تعالی دکفارو مذمت لدې امله وکړ،چې دوئ په باطل کې دپلرونو اتباع کوي ،او ددوئ پيروي په کفر او معصيت کې کوي ،نو لدې امله يې تقليد مذموم دی، خو دا په باطل کې صحيح دی او هرچې په حق کې تقليد دی، نو دادين له اصولو نه يو اصل دی او دا مسلمانانودعصمتونو نه يو عصمت دی، چې د درک له نظرنه مقصر جاهل او ناپوهه ورته پناه راوړي ،لکه پدې عبارت کې چې فرمايي ((أما التقليد في الحق فأصل من أصول الدين ، وعصمة من عصم المسلمين يلجأ إليها الجاهل المقصر عن درك النظر))..............

کله چې کوم عالم يا عام شخص دقرآن او سنت نه کوم دليل نشي اقامه کولای، نو پرده لازم ده ،چې دده څخه دلوړې مرتبې عالم څخه تقليد وکړي ،په(اعلام الموقعين ٤ / ٢٣٦ ، ١٩٣ .) ابن قيم جوزی رح وايې :چې دضرورت پر وخت تقليد جايز دی ،نوابن قيم جوزی رح چې يو ځای کې دتقليد حرمت باندې قول کوي، دادی گوروچې بل ځای کې دا نوموړی عالم هم دضرورت پر وخت دتقليد جواز قايل دی ،نو دې کې کومه قبح نشته ،ترددې چې امام احمد بن حنبل رح به هم کله نا کله دامام شافعي رح په قول فتوی ورکوله او پخپله به يې هم پدې اعتراف کاوه ،په (مطالب أولي النهى ٦ / ٤٤٨).کې داسې ليکي چې : إذَا سُئِلْتُ عَنْ مَسْأَلَةٍ لَمْ أَعْرِفْ فِيهَا خَبَرًا أَفْتَيْتُ فِيهَا بِقَوْلِ الشَّافِعِيِّ ، لأَنَّهُ إمَامٌ عَالِمٌ مِنْ قُرَيْشٍ (١) ، وَقَدْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " لا تَسُبُّوا قُرَيْشًا ، فَإِنَّ عَالِمَهَا يَمْلأُ طِبَاقَ الأَرْضِ عِلْمًا ". ددې فوق الذکر تحقيق څخه بريښي چې دنفس تقليد څخه هيڅوک انکار نه کوي ،جمهور اصوليين علماء خو يې پروجوب قول کوي او دا دويمه ډله علماء چې تقليد يې نه مانه، هم دضرورت پر وخت پدې دلوړينو علماوو سره تقريباً متفق شول، چې تقليد دې صورت کې جايز او آن دعامو وګړولپاره دفرضيت په درجه کې دی ،ځکه نن سبا په خلکو کې داجتهاد شرايط نشته ،اونه څوک مجتهدکيدلای شي ،نو طوعاً او کرهاً به دکوم مطلق امام تقليد ته غاړه ږدي ،او دمذهب په دايره کې به دشريعت مطهره فروعي مسايلوکې استنباط د حل يوازيني لاره بولي!

نوربيا............

دحوثي باغيانوپرضد دسعودي هوايي بريدونه

اودمنځني ختيځ په اړه ددښمن ناکاره ارادې

حسن مومند

دمحترمولوستوالو لاس ته چې داليكنه وررسيږي خداى ښه پوهيږي چې حالات به څه وي؟ خوليكم يې دمجهول مستقبل پرلور روان دغم نه په ډک داسې حالت کې چې دتيرو۱۰ ورځوراهيسې په يمن کې پرحوثي باغيانو دسعودي عربستان په مشرۍ کې دعربو د اتحاد حملې روانې دي خود باغيانو پرمختګ مخه نده نيول شوې اودپلازمېنې صنعاء نه پس يې ترعدنه دقبضې لاسونه وروررسېدل اوترڅنګ يې سعودي عربستان ته داخطارونو لړۍ هم نده تم شوې .

دنړيوالورسنيو له لورې دورکړل شويو راپورونوله مخې په جنوبي ولايت شبوه اوشمالي ولايت صعده اونوروسيموکې دحوثي باغيانوپر مرکزونو دسعودي په مشرۍ کې داتحادي طيارو په هرهوايي بريدکې په لسګونوباغيان وژل شويدي ؛ په شبوه کې دحوثي باغيانو اومسلحو ځايي سنيانو ترمنځ دسختو نښتو درامنځته کېدلو اوپه نتيجه کې يې دواړو اړخونو ته ددرنې مرګ ژوبلې داوښتو خبرونه هم ورکړل شويدي خويدې هم دحوثي باغيانو دپرمختګ مخه نده نيول شوې اولاهم پرمخ روان دي .

ددې حملو په اړه امريکا سعودي عربستان ته داستخباراتي معلوماتو دشريکولو او لوجستيکي دمرستو وړانديز کړيدى ؛ برتانې يې حمايت کړى؛ ايران داحملې غندلې دي اودنړۍ اکثرواسلامي هېوادونو ديمن تولواړخونو ته په خپلومنځونوکې دکښناستلو او د خبرو له لارې دمسئلې دحل کولوبلنه ورکړيده .

؛دنړۍ يوهېواد هم خپل امنيت ته متوجې ګواښونه نشي زغملاى اوهغه هم ديوېل هېواد سره دتړاولړونکي باغي ډلې له لورې

دمارچ په ۲۹ مه نېټه په مصرکې دعربوداتحاد ګډ کانفرانس هم پاى ته ورسېدلوپه کوم کې چې ددې اتحاد دغړيو هېوادونودګډ فوځ درامنځته کولوپرېکړه وشوه ؛ دمصر المحيط تومي ويب پاڼې ليکلي دي چې ددې مشترک فوځ دفوځيانو شمېر به ۴۰ زروته رسول کېږي ؛دافوځ به په عصري وسايلوسمبال وي ؛ دسعودي عربستان اودمتحده عربو اماراتو دفوځ دعصري وسايلولويه برخه به دې فوځ ته سپارل کېږي ؛دهوايي اوسمندري ځواکونو مرستې به ورسره مل وي او دمرکزي قوماندې ځاى به يې دسعودي عربستان پلازمېنې رياض کې وي ؛ دفوځ د تشکيل اونظم چارو د فعالولو مسئوليت شايد مصراو اردن ته ورکړل

کلورینې پاڼې

غزل

بشیراحمد وصال

څومره خوند کوي خواږه یادونه ستادي
داپه زړه مې چې پراته یادونه ستادي

دخوږې مینې شهید مازدیګریه
پر افق دانه دانه یادونه ستادي

هرکله چې ورته ګړي دزړه زخمونه
مشه ورګه نن میلمانه یادونه ستادي

ای زما ورګه جانانه چې ته نه یې
ورځ اوشپه دې راسره یادونه ستادي

چې عادت یې دشبګیرووېښوشپوکړم
په هجران کې ښه پاخه یادونه ستادي

دتهمت له توره سپینه پګړې ساته
دوصال هره تړپه یادونه ستا دي

طالبه !

منصور

بیادغزاپه رنګ رنګین طالبه
خار دسنګر اود کمین طالبه

تاهر جابرراپرزولی ګرانه
درسره مل دی رب متین طالبه

نن داولس سترګې داستاپه لوردی
پام به کړې ډیرپه خوارمسکین طالبه

لکه هلال رڼارڼاروله
په شرق اوغرب یوسپین آئین طالبه

داد صلیب نظام پرتوره مات کړه
تل به دی ساتي آسپه زین طالبه

پرټپوسانو کړه مرګوني حملې
دخراسان دغروشاهین طالبه

دهررقیب سترګوته غشی یې ته
دمنصورجان دزړه تسکین طالبه

مولوي صديق الله مشال

ګذاره به کوو

زموږ خپلوان تللي دي جانانه ګذاره به کوو
حالات ترينګلي دي جانانه ګذاره به کوو

کار اهل کار ته سپارل مه غواړه ناولي ټوله
نن ورځ ښاغلي دي جانانه ګذاره به کوو

ستړي مزلونه به کوو پر ضد مو ټوله کفار
راپاڅېدلي دي جانانه ګذاره به کوو

داسلامي دنيا سر خېل لکه کرزی او غني
داسي ناولي دي جانانه ګذاره به کوو

داحزاب جنګ ديهودانو غدر کټ مټ هغه
سپاره او پلي دي جانانه ګذاره به کوو

ګرنيټ، خنجر، ټوپک، چاټته له ځانه لري نه کړې
دښمنان غلي دي جانانه ګذاره به کوو

داوس حالات لکه ناخوالې دطائف او هجرت
پر موږ راغلي دي جانانه ګذاره به کوو

عزم قوي کړه مغازي او سيرت ښه وګوره
مشال لوستلي دي جانانه ګذاره به کوو

مولانا جلال الدين محمد بلخى

بهار آمد

بهار آمد بهار آمد بهار مشکبار آمد
نگار آمد نگار آمد نگار بردبار آمد

صبوح آمد صبوح آمد صبوح راح و روح آمد
خرامان ساقى مه رو به ايثار عقار آمد

صفا آمد صفا آمد که سنگ و ريگ روشن شد
شفا آمد شفا آمد شفاى هر نزار آمد

حبيب آمد حبيب آمد به دلدارى مشتاقان
طبيب آمد طبيب آمد طبيب هوشيار آمد

سماع آمد سماع آمد سماع بى‌صداع آمد
وصال آمد وصال آمد وصال پايدار آمد

ربيع آمد ربيع آمد ربيع بس بديع آمد
شقايق‌ها و ريحان‌ها و لاله خوش عذار آمد

کسى آمد کسى آمد که ناکس زو کسى گردد
مهى آمد مهى آمد که دفع هر غبار آمد

دلى آمد دلى آمد که دل‌ها را بخنداند
مىى آمد مىى آمد که دفع هر خمار آمد

کفى آمد کفى آمد که دريا در از او يابد
شهى آمد شهى آمد که جان هر ديار آمد

کجا آمد کجا آمد کز اين جا خود نرفتست او
وليکن چشم گه آگاه و گه بى‌اعتبار آمد

ببندم چشم و گويم شد گشايم گويم او آمد
و او در خواب و بيدارى قرين و يار غار آمد

کنون ناطق خمش گردد کنون خامش به نطق آيد
رها کن حرف بشمرده که حرف بى‌شمار آمد

شي او تمه کېږي چې په ۴میاشتوکې په دافوځ تشکیل شي .

دنبردې نه دحالاتو او پېښو دخارونکولپاره هغه څه چې په منځني ختیځ کې رامنځته شول هیڅ دتمې خلاف ندي بلکې دعربودبهارپه نوم دتیونس نه دپیل شویوپاڅونونوپه اړه چې موږ خومره لیکنې کړیدي یکې مودهمـدي بدوحالاتودرامنځته کېدوقوي اندېښنه څرګنده کړیده کوم چې رامنځته شول یارامنځته کېږي .

داروښانه خبره ده چې دکمزورۍ تر آخري سرحده دمنځني ختیځ داسلامي هېوادونو رسول دلویدیځ اوپه ځانګړي توګه دامریکا ستره هیله ده ؛ ددې سیمې په اسلامي هېوادونو کې دګډوډیو او شخړو اوبدامنۍ زیاتېدل اوپه نتیجه کې یې ددې هېوادونو کمزوري کېدل اوتجزیه کېدلوته یې لاربرابرېدل دامریکا ،نورلویدیځ او اسرائیلو مشترک پلان دی اوخپلوشومو اهدافو ته درسېدلوهمدایواځنۍ لاریولې نودلته چې دهرې ګډوډۍ ترشادغرب دلاس لرلوخبره کېږي بې ځایه نه وي ؛ خوبایدداتریخ حقیقت ومنو چې له غرب پرته داسې نورلاسونه هم شته چې ددې سیمې فضا یې دېره خړه پړه کړیده اودډېروستروناخوالوسبب شویدي ؛ ددې لاسونو نه یادول اوتوله پړه پرغرب وراچول ماته دېره ستره بې انصافي ښکاري نوځکه ورته اشاره کول ضروري بولم .

دیمن ددولت پرضدچې حوثي باغیان راپورته شول ؛دولت یې ړنګ کړ اودلته یې هم دشام په څېر دیوستر ناورین رامنځته کېدلوته لار برابره کړه هرڅوک پوهېږي چې دوی چا راپاڅول ؟ چاتحریک کړل ؟ دچاپه لمسون یې په صنعاء حمله وکړه ؟چاتمویل کړل ؟ اودچا بیرغونه یې پورته کړي وو؟ داهرڅوک پېژني اوله هیچاپټ ندي .

خوخبره دیوې ورځې یوې میاشتې یابوکال نده ؛ ددې ترشا ۴۰ کلن اوږدتاریخ اویوسنجول شوی پلان شتون لري .

کله چې درضاشاه پهلوي په مقابل کې دایران داخوندانوانقلاب کامیاب اوپرایران خمیني واکمن شونودنړۍ دېرې مسلمانان پرې له دې امله خوشاله ووچې په نړیواله سطحه داسلام اوسیکولرزم یا مذهبیتوب اولامذهبیت ترمنځ په روان کشمکش کې دا دلبرالزم اوسیکولرزم شکست اود مذهبیتوب کامیابي وه ؛ دخوبنۍ بل سبب دا وچې دایران په څېرپه یومهم هېوادکې چې فحاشي اوبې دینې یکې اوج ته رسېدلې وه داسلامي اصولوسره سم دنظام نافذولوعدې رامخې ته شوی وې ؛داهغه وخت وچې دشیعه اوسنۍ ترمنځ منافرتونه نه وو موجود او دېر کم خلک دشیعه ګانو دعقایدو نه خبروو؛ په اسلامي نړۍ کې هغه نهضتونه چې داسلامي نظام دنفاذ لپاره یې هڅې کولې ددې انقلاب کامیابي یې دځان کامیابي ګڼله اوورسره یې دا هیلې تړلې وې چې په نړۍ کې به یې یواځنۍ ملاتړی هېواد همداوي خومتأسفانه چې داهیلې دېرژرهغه مهال په ناهیلۍ بدلې شوې چې کله دانقلاب قائدینودخپل نفوذ لاندې دتولې سیمې دراوستلو اودسیمې په هېوادونوکې ددولتونوپرضد دشیعه ګانو دراپورته کولواوپرواک یې دمسلط کولولپاره عملي اقدامات پیل کړل اوخلکوته داخبره واضحه شوه چې دا انقلاب په نوم اسلامي وخوپه حقیقت کې شیعه انقلاب واوهدف یې هم یواځې دشیعه ګانوځواکمن کول ووچې دعراق اوایران ۸ کلن اوږد اوتباه کونکې جنګ یې له حتمي بدونتایجو څخه یوه وه.

داسمه ده چې دایران اوعراق جنګ په رامنځته کېدوکې دامریکالوی لاس واوصدام چې کوم

اقدامات کړي وودامریکا په لمسون به یې کړي ووخو دا باید ومنل شي چې دجنګ درامنځته کېدومحرکات په عراق نه بلکې ایران کې وو؛ دانقلاب دبریالیتوب نه پس به بنه په جهر دانقلاب قائدینو ویل چې په عراق کې دشیعه ګانواکثریت دی نوحکومت هم پکې باید دشیعه ګانووي ؛ دایران دا اظهارات دیپلوماسۍ په ډګرکې ډېره لویه بې اصولي اودګاونډي هېواد په داخلي چاروکې بربنډ ه مداخله وه خوایران یې دبدوپایلو په اړه هیڅکله ځان مسئول ګڼلی اونه یې چاته داحق ورکولوچې ددې مداخلې په اړه ورنه وپوښتي چې ددې مداخلې حق چاورکړی؟

داله شکه وتلی خبره ده چې دعراق پرواک دشیعه ګانو مسلط کول دایران هدف واوداهدف یې چې بیا یوه نیمه لسیزه پس د امریکااشغال له لارې پوره کېدلونوهم دوی یې بنه په نره مرسته اوحمایت وکړ؛ ایران به چې امریکا خپل ازلي دښمن ګڼلوهغه تولي خبرې یې شاته کړی اودمرګ برامریکاتولي ناري یې هېرې کړي ؛ نن هم دامریکاله لوري پرعراق دمسلطې کړی شوی لاسپوځي اداري ترتولوزیات دوست اوحامي هېواد ایران دی ؛ایران دعراق پدې لاسپوځې ؛ظالمې اوفاسدې اداري کې ځه خوبي ویني چې په دومره اخلاص یې ترخنګ ولاړ دی ؟ بل هیڅ نه! یواځې داچې واک پکې ټول دشیعه ګانوسره دی اوسنیان پکې په بې ساري ډول دظلم اووحشت ښکاردي .

په عراق کې دشیعه ګانواکثریت دی نوپکې دسنیانو واکمني ایران ته دزغم ورنه وه خوپه سوریې کې چې دسنیانو قاطع اکثریت دی سنیان نه یواځې داچې ایران یې دواک حقدارنه ګڼي بلکې په مقابل کې یې داسدده‌غه رژیم په کلکه حمایت کوي چې دسنیانو داسې قتل عام یې وکړچې ترکیمیاوي موادو پورې یې پرې وکارول اوددوی ټولي سیمې یې په کنډوالوبدلې کړې اوکابوټول یې دخپلو سیمونه ګډې کولوته اړکړل؛ایران داسدي رژیم حمایت ځکه کوي چې اسدیان شیعه ګان دي حال داچې اسدیان دنصیریې فرقې سره تړاولرونکې په عقیدوي لحاظ داسې خراب شیعه ګان دي چې دنړۍ نورشیعه ګان یې هم مسلمانان نه بولي .

دمنځني ختیځ په اړه چې دایران دپالیسۍ کوم تسلسل دی ایران یې پټ ساتل اړین نه دي ګڼلي اونه یې دپټ ساتلوهڅې کړیدي ځکه چې دمنځني ختیځ دکوم هېواد پروانه ساتي اونه یې په نظامي لحاظ دځان سیال بولي اونوره نړۍ یې ددې تسلسل دجاري ساتلو طرفداره ده .

په څووروستیو میاشتو کې چې حوثي باغیانو په یمن کې پرمختګونه وکړل اوپه شمالي برخوکې یې دایران بیرغونه پورته کړل نوځوځلې دایراني مشرانو له خولو نه په ډېرافتخارداخبره راووتله چې دبغداد ،دمشق اوبیروت نه پس اوس صنعاء هم زموږ دنفوذ سیمه وګرځېدله ؛ څو ورځې وړاندې خودعلي یونسي په نوم دایران یوپخواني وزیرپه تهران کې یوسیمینارته دوبناپرمهال تردې حده وړاندې ولاړ چې ویې ویل ، ،ټول منځنی ختیځ زموږ دنفوذ سیمه ده اوموږدشرقي رومیانو، عثماني ترکانواوعربو سلفیانوسره په یو وخت کې دجنګ کولو توان لرو ''

شنونکي پرځای وایي چې په عربي نړۍ کې داوسنیو ګډوډیوټوله ګټه امریکاته رسېږي خودامریکا نه پس چې ترټولوزیاته ګټه پورته کړه هغه ایران دی ځکه چې دجنګونو او ګډوډیو په نتیجه کې دسیمې دهېوادونو دکمزوري کېدلوله امله ایران اوس دپېړیوپخواني دفارس دسلطنت دبیا احیاخوبونه ویني اوپه

روميي ځل ناعربي قوم ؛ بل هېواد اوبل تهذيب (ايران) دعراق ،شام ،لبنان اويمن په څېرمشهورو عربي سيموکې ترسترګو کېږي .

په عربي سيموکې دايران دمداخلې ، شتون اونفوذ ترڅنګ ترکې هم دې سيمې ته د مداخلې لاس وراوږد کړيدی اوداسې ښکاري چې طيب اردوغان همدا وخت دلته درنګ شوي عثماني خلافت دلتون لپاره مناسب وخت بولي .

امريکا چې تول منځني ختيځ دجنګ په ډګربدلول غواړي داسې ښکاري چې دجنګ دې ډګرته اوس دترکې راګډول هم غواړي ځکه چې امريکا اواسرائيل پوه دي چې په ټول منځني ختيځ يې دقبضې راوستلويه لارکې روسيه حائل جوړيدای شي چې دروسې مقابلې يواځې دلاسپوځوکردانولپاره په رامنځته کېدونکي کردستان شوني ده نوځکه يې پلان جوړکړی چې دعراق ،ايران ،شام اوترکې ترمنځ دکردانو ويشلی شوې سيمې ددې هېوادونو نه راجدا اويولوی داسې کردستان رامنځته کړي چې سل په سلو کې سيکولراوداسرائيلونه هم زيات دامريکا دګټوساتونکی هېواد وي؛ ترکيه چې اوس په کوم حالت کې ده ترې دکردې سيمې راپرې کول تقريباً ناشوني ښکاري اويواځې هغه مهال اسانيدای شي چې ترکيه هم په جنګ کې داخته کولوله لارې کمزوری شي نوپر ځای ويل کېږي چې ترکيه ددې جنګ ورروستی هدف دی ؛ ځکه خو دترکې اپوزيسيون کارګرګوند ددولت نه غوښتي دي چې دشام سرحدته څېرمه دترکې په ، وادانه "ښارکې دې دامريکا جنرال قونسل دهېوادنه وشړي ځکه چې هغه دشام نه ترکې ته دجنګ راداخلولو په هڅوکې اخته دی .

مورچې دحوثي باغيانوسره دايران دحمايت خبره کوونو هدف موهيځکله داندی چې ګيني ترشا يې نورځوک نشته ؛ بلکې حوثي باغيان چې دايران دحمايت نه برخمن دي نوترڅنګ يې دامريکا اونورلويديځ دمرستواوداړ نه هم بې برخې ندي ؛ همدا دامريکا داړ و چې دوبری داحساس پرته ښه په تېزۍ مخ په وراندې ولاړل اوپه ډېری اسانۍ يې پلازمېنه صنعاء قبضه کړه.

اوپه يو وخت کې دچانه دايران اوامريکا دواړو حمايت څه نا اشنا خبره نده ؛دعراق اداره دامريکا لاسپوځې هم ده خو ترڅنګ يې دايران دحمايت نه هم په تماومعنوبرخمنه ده ؛ اوعلي عبدالله صالح چې د۳۰کلونو نه زيات ديمن پرواک مسلط و زيدي شيعه وخوديولسم ستمبر دپېښې نه پس پرې امريکا دخپلې مهربانۍ لاس راښکلوځکه چې په يمن کې ترې دالقاعدې دځپلو کار اخستل مطلوب و چې داماموريت به هغه په ډېراخلاص سرته رسولواوپه بدل کې يې دامريکا نه ښې ډېرې پيسې اووسلې ترلاسه کولې ؛ ديمن دفوځ ترڅنګ دحوثي ملېشونه هم دالقاعدې پرضد دجنګ په ډګرکې کاراخستل مطلوب ونوځکه به همدا دامريکا له لوري دورکړل شويو وسلونه ډېرې زياتې وسلې پخپله ديمن فوځ دکمپيسويه مقابل کې حوثي ملېشوته ورکولې ؛ له همدې امله ده چې ډېرخلک وايي :حوثي ملېشي امريکا اوايران په ګډه مسلحې کړيدي .

اسرائيل چې Israel Greaters (لوی اسرائيل) خوبونه ويني ددجلې اوفراته ؛ خيبر او مدينې پورې دځپلوسرحداتو غزولو ته پلانونه جوړوي او اردن ؛ دسعودي عربستان توله شمالي سيمه ، دشام ډېره برخه ،دسعودي عربستان سره لګېدلی دعراق توله برخه ، دمصرددبحراحمردشرقي ساحل هغه

لویه ترانګه چې دسویزله کانال نه هم تېرېږي اوتربحرمتوسط پورې رسېږي، اسرائیلو چې دګریتراسرائیل کومه نقشه تیاره کړېده داټولې سیمې یې پکې راګېرې کړېدي .

ددې نقشې دتطبیق لپاره دمنځني ختیځ دسیاسي جغرافې بدلون اړین دی نوځکه اسرائیل اودامریکاپه شمول دلویدیځ ټول سرکرده هېوادونه غواړي چې ټول منځني ختیځ ته داورلمن ورخپره کړي ترڅوپه منځني ختیځ کې دسترقتل وقتال بدامنۍ اوغربت خپرېدا له لارې په راتلونکې یوې پایوې نیمې لسیزې کې دمنځني ختیځ سیاسي جغرافیه بدله ،په لسګونور کوچني هېوادونه رامنځته اواسرائیل خپل هدف ته ورسېږي .

زموږددې خبرې داثبات لپاره دهنري کسنجر هغه خبره ددلیل په توګه وړاندې کېږدای شي چې دیوامریکایي اخبارسره په مرکې کې یې ویلي دي ،، په راتلونکي جنګ کې به اسرائیل دنیم نه په زیات منځني ختیځ قابض شي ''

داهم باید له یاده ونه باسوچې د ۱۱ ستمبرنه پس دامریکا پالیسۍ جوړوونکو داپرېکړه کړې وه چې دمنځني ختیځ سیاسي جغرافې ته به نوی شکل ورکوي ؛ پینټاګون ، ورې شینګ دی مډل ایسټ '' په نوم ددې پالیسۍ لپاره نوم هم اېښی وچې دتطبیقولو لپاره یې د ۲۰۰۳ کال په مارچ میاشت کې امریکاپرعراق دحملې کولونه ددې عملي اقدامات هم پیل کړي ووخو دامریکا له بده مرغه چې دلته دمسلمانانو دسخت مقاومت په نتیجه کې دسختې ناکامۍ سره مخامخ اوله دې لارې یې ددې پلان دتطبیقېدلو پلان له خاورو سره خاورې شو نوټوله توجه یې ددولتونوپرضد دولسونوراپاڅولو اوپه نتیجه کې یې دهغه څه رامنځته کولو ته ورکړه څه چې اوس رامنځته شول اوزموږله بده مرغه چې له دې لارې دپلان په تطبیقولو کې یې ترډېره حده پرمختګ هم کړی .

ددجلې اوفرات دواړوخواوو اوبلاد شام کې ددې جنګ خپل عروج ته رسولوکې خودوی لا له وړاندې بریالیتوب ترلاسه کړیدی اودادی اوس یې دجنګ په سترډګر دیمن بدلولواوپه دې جنګ کې دسعودي عربستان اونوروعربي هېوادونو درابښکېلولو له لارې دجنګ ،سترقتل وقتال اوبد امنۍ څپې تر خیبراومدینې منورې هم راورسولې .

ماته داسې نه ښکاري چې په حوثي باغیانودسعودي حملې به ددې جنګ دپای ته رسېدلو سبب شي بلکې جنګ ته دسعودي عربستان په راګډېدلو داجنګ شاید دومره پراخه شي چې نه یواځې منځني ختیځ بلکې ټولې اسلامي نړۍ کې دفرقه ایزو شخړو یو طوفان رامنځته شي ؛ که دادسترورزبرځواکونوهدف وي اوخدای مکړه همداسې وهم شي نوروبې ښکاربه یې سعودي عربستان وي اوترټولوزیات تاوان به یې هم سعودي عربستان ته ورسېږي. حالاتو چې پرکوم لورحرکت پیل کړیدی که همداسې یې دوام وکړ شاید دېرژردسعودي عربستان په ختیځ کې دتېلودزېرمونه دکې ساحلي ترانګې کې مېشت شیعه ګان دایران په مرسته اولمسون دسعودي نه دازادۍ اخستلو په موخه ددولت پر ضد پاڅون پیل کړي ؛ زماداخبره یواځې بې دلیله اندېښنه نده بلکې باید په تأسف سره ووایوچې دایران مسئولوڅېرولاډېردمخه ددې پروګرام په هکله خپل شوم عزائم ښکاره کړیدي .

دایران له مقتدروحلقونه اوس دا ناري هم اورېدل کېږي چې پرحرمینودسعودي خاندان دقبضې دله

منځه ورلو اوددې خاندان دخاتمې وخت رارسېدلی دی .

په تول منځني ختيځ کې دجنګ درامنځته کولوداپلان دامريکا، نورلويديځ اواسرائيلو دی خود جنګ ددې اورخاشاک دلته داوسېدونکو مسلمانانو فرقه ايزتضادات دي ؛داسې تضادات چې هره فرقه دبلې نابودي غواړي؛ خودابايد ومنوچې دتضاداتو دې اورته تيلي دايران دانقلاب دکاميابۍ پرمهال وهل شويدي چې بدبختانه په تېرو ۴ لسيزو کې يې تول منځني ختيځ ته لمبې ورسېدې .

اوس داپوښتنه چې په عراق ، شام ، لبنان اويمن کې دايران په مداخلې امريکااودلويديځ سترو قدرتونو ولې سترګې پټې کړيدي ؟ آيالويديځ دايران خيرخواه دی يا ايران دامريکا اونورلويديځ دخوښې سره سم مخ په وړاندې ځي ؟ او ځني شنونکي چې وايي امريکا تول منځني ختيځ دايران اواسرائيلوترمنځ تقسيمول غواړي اواراده لري چې هغه سيمې چې اسرائيل يې په ,, ګريټراسرائيل،، کې داخلول غواړي هغه اسرائيلو ته اوباقي پاتې يې ايران ته په واک کې ورکړي آيا دشنونکو داشننې سمې دي ؟

داچې داسلام اومسلمانانو پرضدامريکاله لوري په پيل شوي صليبي جنګ کې شيعه ګان نه يواځې داچې دامريکاپرضد دمسلمانانوپه پيل شوي مقدس جهادکې شريک نشول بلکې برعکس دمسلمانانو پرضدصليبيانوپه څنګ کې ودرېدل نو دامريکا اونورلويديځ دېراعتماد يې ترلاسه کړاو ورته يې په عمل کې ښکاره کړه چې دلويديځو زبرځواکونودهر اشغال لپاره دېرښه خدمتګاران ثابتېدای شي چې دا درامخې ته شوی انديښنې يوعمده دليل دی نوځه داشتنه يا انديښنه نشم ردولای خوځه فکر کوم که داسې اراده موجوده هم وي عملي کېدل يې ناشوني دي اوپدې امريکااونورلويديځ هم ښه پوهېږي ؛ په ټوليزه توګه دشيعه ګانواوپه ځانګړي دول دايران پرضد په سني عربانوکې دېره زياته کرکه شتون لري اوپه سيمه دشيعه ګانو حاکميت هيڅکله هم دزغم ورندی چې عراق يې ښه بېلګه ده امريکادېرې هڅې وکړې خودمالکي شيعه اداره يې کاميابه نکړای شوه اونه امريکا اودبغداد اداره پدې وتوانېده چې دلته دسني مجاهدينو روان جهادي بهيرکمزوری کړي .

هو! دايران مداخلې پراخول او په مداخلو سترګې پټول به روان وي خوهدف به هماغه وي چې موترې وراندې يادونه وکړه يعانې له دې لارې دلته دفرقه ايزومنافرتونوزياتوالي ته لاربرابرول اويا توله سيمه دجنګ په دګربدلول ؛ نو دنړۍ تول سنيان اوشيعه ګان بايدفکروکړي چې ولې په خپلومنځونو کې ستر جنګ ته لار برابروي اودجنګ رامنځته کېدلوپه صورت کې بې ګټه چاته رسېږي؟

داهم بايد له پامه ونه باسو چې په منځني ختيځ کې دروان جنګ دخېټې ته ديوبل جنګ زېږېدنه هم

حتمي ده؛ دمنځني ختيځ په تولوزبرموچي اسرائيل ،امريكا اودلويديځ نور زبرځواكونه قبضه غواړي ددې په مقابل کې دلته په اوله درجه کې روسې اوپه دوهمه درجه کې چين مزاحمتي پاليسي غوره کړيده چې شام يې ژوندی بيلگه ده ؛ روسي چې شام ته دامريكا اونورلويديځ دراتلومخه نيوله نو دبشارالاسد داداري نه ورسره زيات پدې هيواد کې دخپلې بيليونونو دالرو ديانگوني اودطرطوس دبندرگاه غم و؛ دلته دامريكا ،نور لويديځ اواسرائيلو دقبضې نه پس دروم د بحيرې دطرطوس دبندرگاه نه په کلي ډول دروسې تغرورتولېدلو.

اسرائيل اوامريكا غواړي چې دواشنگټن اولندن نه پس تل ابيب دنړۍ دتوجومرکز وگرځي اوداهله کېدای شي چې اسرائيل دخپلو اوسنوحدودونه بهراودمنځني ختيځ پرزېرموېې قبضه راشي ؛ په پوليندکې چې امريكا دتوغندو دفاعي نظام نصبول غوښتل نوهدف يې همداوچې کله اسرائيل پردې زبردکنترول راوستلوپه موخه دسيمو قبضې پسې راوځي چې په عكس العمل کې يې دروسې بالاستيکي توغندي په نښه نشي کرای خوچې روسي امريكا دخپل دې پلان برياليتوب ته پرېنښوده نوامريكا دروسې په ځنگ جارجيا کې ددې پلان دعملي کولو عزم ښکاره کړ چې په مقابل کې يې روسې دډېرجرأت نه کارواخست اودامريكا دراتللونه وراندې يې دلته خپل فوځونه داخل اوامريكا يې دخپل پلان دتطبيق نه عاجزه کړه؛ اوس ددې پلان دتطبيق يواځنی ځای دامريكا دهيلو مرکز رامنځته کېدونکی آزاد کردستان کېدای شي نوځکه دکردستان په نوم دهيواد رامنځته کول هم امريكا اړين بولي ترڅو دشمال له لورې دروسې دتوغندو نه اسرائيل خوندي شي .

داهم ديادولووړدهچې ديمن جنگ ته دطول ورکولو له لارې امريكا ديمن په مهمې گزرگاه باب مندب باندې هم خپله قبضه راوستل غواړي ترڅودچين سمندري ځواک دعربو په بحيرې کې محدود شي اودلته يې دمزاحمت لارې بندې شي .

موږچې دمنځني ختيځ په اړه دامريكا،نورلويديځ اواسرائيلو دکومو شومو پلانونويادونه وکړه نودمنځني ختيځ دروانوحالاتوپه اړه دحقايقونه دخبرېدولپاره ددې تولويادونه اړينه وه خوداسې نده چې دوئ کوم پلانونه جوړکړي گيني هغه به خامخا تطبيقېږي ؛ ددوئ پلانونه الله تعالى په ډېرى اسانی ناکامۍ خوچې مسلمانان له همت نه کار واخلي؛ الله تعالى دمسلمانو ځوانانو دهمت په برکت په عراق اوافغانستان کې امريكا او نور اتحاديان يې دځومره شرمېدلي ماتې سره مخامخ کړل؟!

په منځني ختيځ کې صالح قيادت موجود وای امريكا او اتحاديانو به يې دکاميابۍ پسې رانده شوي وای خودلته يې چې کوم شوم پلانونه تطبيقېږي نوتوله پره يې پراسلامي نړۍ مسلطو حاکمانوباندی ده ؛ ديمن مسئله ډېره کوچنۍ مسئله ده خودوئ يې پرسوله ايزحل بريالي نه شول بلکې بيخي يې په دې اړه يوکوچنی اقدام هم ونکړ.

اوس هم لاوخت ندی تېر؛ بايد داسلامي نړۍ مهم هېوادونه ميدان ته راووځي هم په اتفاق دحرمينوشريفينو ددفاع لپاره يودائمي اواغېزمن نظم دعمل لپاره وړاندې کړي اوهم يمن دجنگ په يوبل ستردگر دبدلولونه وساتي اودواړه اړخونه پدې پوه کړي چې جنگ نه يواځې ددواړو اړخونوبلکې دټولي اسلامي نړۍ لپاره ډېرلوی تاوانونه له ځانه سره لري چې شام ،عراق اوليبيا يې ښکاره بېلگې دي .

مفتي عارف محمود

دتوبې! مفهوم، ډولونه، اهميت او د ويستو طريقه ...!

ابـن قـيم(رحمه الله) وايي:توبـه دانسـان لـومړی-منځينی - وروستی منزل دی! چې د توبه کونکي نه جلا کېږي نه ،که د يوځای نه بل ځای ته سفر کوي، توبه ورسره ترلې وي او هرې سيمې ته چې درومي توبه هم ورسره درومي، نوتوبه دسړي ابتداء هم ده او انتهاء هم، او دابتداء پشان دمرګ په وخت کې يې اهميت اوضرورت نورهم سيوا کېږي (مدارج السالکين ۱۴۱۱مخ)

توبه د زړه نوردی، دنفس پاکيزه ګۍ ده، توبه د حقيقي ژواند په لور د انسان دا رهنمايي کوي، غافله انسانه! راځه! مخکې له دينه چې د ژوند کاروان کوچ وکړي او مرګـې د خپل وحشت سره يوځای راځي، له توبه کوونکو سره يوځای شه! ځکه دا روښان حقيقت دی، چې قبر يوه کنده نه، بلکې دجنت د باغونو يوباغ دی يا د جهنم د کند ونه يوه کنده دی(کمارواه الترمذی فی سننه عن ابی هريرة کتاب صفة القيامة ۴\۶۳۹-۶۴۰ رقم الحديث ۲۴۶۰)

نود هر هغه انسان ابتداء چې په توبه او رجوع روښانه وي، دهغه انسان انتهاء به هم دبښتي په رڼاګانو رڼا وي !څوک چې الله ته په اخلاص سره رجوع اوتوبه کاږي، الله تعالی هغه ته په خير باندې د خاتمې توفيق ورکوي.

توبه دهرچا لپاره...

يواځې ګنهګارا نوته نه، بلکې ټولو مومنانو ته دتوبې ويستو حکم شوی، دالله(جل جلاله) ارشاد دی: ﴿وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعاً أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ (النـور:۳۱) ژ: اوتوبه وکاږئ دالله په وړاندې ټول په ګډه، ای مومنانو! څو بری ومومئ!

په مسلم شريف کې له حضرت مزني(رضي الله عنه) نه روايت دی چې رسول الله(صلی الله عليه وسلم) وفرمايل:ا ی خلکو! له ګناهونو نه راوګرځئ! الله ته رجوع وکړئ! زه په ورځ کې سل ځله الله ته رجوع کوم، (صحيح مسلم: باب استجاب الاستغفار والاستکثار منه رقم: ۷۰۳۴)

غور وکړئ چې هرکله دالله تعالی غوره استازی څوک چې د ړومبنو او وروستنو ټولو سردار دی، د

جنتیانو سرداردي، دمقامِ محمود څښتن دی، هغه په ورځ کې سل ځله الله (ﷻ) ته توبه کاږي، استغفار کوي، نوزمونږ پشان د ګنهګارو او خطاء کارو امتیانو ته څو ځلي توبه ویستل او استغفار پکاردی؟

ژر توبه:

په نن ګنده چاپیریال کې مومنانو ته پکار دی چې له استثناء پرته ټول ژر الله تعالی توبه وکړي او دمرګ نه ورانديې شته وخت اوفرصت ضایع نکړي،ځکه مهربان او کریم خدای (ﷻ) دخپلو بنده ګانو لخوا توبه ویستلو ته انتظار کوي څو دهغوی توبه قبوله کړي، او غواړي چې بنده ژر توبه وباسي او هغه یې قبوله کړي په عظیم الشان قرآن کې ارشاددی: ﴿وَاللَّهُ يُرِيدُ أَن يَتُوبَ عَلَيْكُمْ﴾ (النساء:۲۷) ژ:او الله اراده لري چې رجوع وکړي په رحمت سره پرتاسې باندې (شیخ الهند رح)

د توبې نه ویستو انجام:

په یاد ولرئ! چې دګناه صدور له ایمان سره منافي ندی،ایمان لرونکي دپیغمبرانو (علیهم السلام) پرته معصوم ندي،له عامو انسانانو څخه دګناهونو کېدل بعید ندي، دګناهونو صدور او د خطاء کېدل په انساني فطرت کې شته، ګناه هومره خطرناکه اوهلاک کوونکي نده څومره چې دګناه نه پس توبه نه ویستل اوترې غفلت یا لاپرواهي هلاکت پیښونکي ده، په مسلم شریف کې له حضرت ابوهریره(رضي الله عنه) روایت دی چې رسول الله(ﷺ) وفرمایل:

"والذی نفسی بیده لولم تذنبوا لذهب الله بکم ولجاء بقوم یذنبون فیستغفرون الله فیغفر لهم" (صحیح مسلم، باب سقوط الذنوب بالاستغفار، رقم:۷۱٤۱)

ژ:سوګند دی په هغه ذات، دچاپه واک کې چې زما ساه ده، که تاسې دګناهونو ارتکاب نکوئ، الله به تاسې ورک کړي، ستاسو په ځای به داسې بل قوم راولي چې هغوئ به ګناه کوي اوبیا به دالله نه دخپلو ګناهونو دبښنه غواړي او الله تعالی به هغوی ته بښنه کوي.

په سنن ترمذی او سننِ ابن ماجه کې له حضرت انس (رضي الله عنه) روایت دی، چې رسو الله(ﷺ) وفرمایل:

"کُل بنی آدم خطاء وخیر الخطائین التوابون" (سنن الترمذی، کتاب صفة القیامة، رقم:۲٤۹۹)

ژ:ټول انسانان خطاءدي او بهترین خطاء کونکي توبه ویستونکي دي.

له دې روایتونو څخه معلومه شوه چې توبه ویستل او الله ته رجوع کول نهایي ضروردي. اوتوبه نه ویستونکی پخپلو ځانو ظلم کونکي دي، امام مجاهد(رحمه الله) وایي: "من لم یتب إذا أصبح و إ ذا أمسی فهو من الظالمین"

ژ:کوم سړی چې (هره ورځ) سهار ماښام توبه نه کاږي، هغه له ظلم کونکوڅخه دی(تفسیر الثعلبی۱۱۱۹\۱)

طلق بن حبیب (رحمه الله) وایي:دالله تعالی ټول حقوقو اداء کول ډېره لویه خبره ده، خو تاسې سهار اوماښام دتوبې په حالت کوئ (تفسیر ابن کثیر۷۸\۸،التفسیر المنیر:۲٥٦\۱۳)

ابـن رجـب(رحمه الله) وايـي: پـه چـاچي سـهار او ماښام له توبې پرته تېر شول هغـه پـه خطر کـې دی، لـه هغـه سره دا اندېښـنه ملګـرې ده چـې هسې نـه د تـوبې پرتـه يـې دالله (جل جلاله) سره ليـدل وشي او الله يـې پـه ظلـم کوونکـو کـې شـمارنکړي! څکـه دالله (جل جلاله) ارشـاددی﴿مَـن لَـم يَتُـب فَـأُولَـئِک هُـم ظَـالِمُونَ﴾ (الحجـرات :۱۱)ژ:چـا چـې توبـه ونـه ويسـته هغـه لـه انصاف کوونکو څخه ندی(لطائف المعارف ۴۵۸مخ)

ابـن قـيم (رحمه الله) لـيکلي دي: الله تعـالی پـه دې ايت﴿ مَن لَم يَتُـب فَـأُولَـئِک هُـم ظَـالِمُونَ﴾ کـې د خپلـو بنده ګـانو دوه ډلـې بنيي: ۱... توبـه کـوونکي- ۲... ظلم کـوونکي- يقينـاً د دې دوه ډلـو نـو پرتـه درېيمـه ډلـه نشـته، اوتوبـه نـه کـوونکي الله پـه ظالمـانو کـې شـارلي دي(مدارج السالکين ۱۴۲مخ)

دمعصيت زيانونه:

ابـن قـيم (رحمه الله) وايـي: مسـلمان لـره پکـاردی هغـه تـه دا معلومـه وي، چـې ګناهونـه لـوی زيـان رسـو نکـي او هلاکـت پيښـوونکي دي، څنګـه دېلابېـل زهـر دانسـان بـد ن تـه پـه رسـيدو زيـان رسـوي، او دهغـه دهلاکـت باعـث ګرځـي، دغسې ګناهونـه دانسـان پـه زړه تـاثير کـوي، پـه دنيـا او اخـرت کـې چـې څـومره شرور اونـاروغۍ دي دهغـو ټولـو سـبب يـواځې ګناهونـه اومعاصي دي(الداء والدواء ۶۰مخ)

دالله ديـوه ولي وينـا: "لاتنظـر الی صـغر الخطيئـة ولکـن انظـر الی مـن عصيت" ژ:تـه دېتـه مـه ګـوره چـې ګنـاه وړه ده! بلکـې تـه د چـا نـه چـې سرغړونـه کـوي دهغـه عظمـت تـه وګـوره...(اخرجـه احمـد فـي الزهد،۴۶۰مخ، تهذيب الداء والدواء ۵۴\۱)

حضرـت بشرـ(رحمه الله) وايـي: "لـوتفکر النـاس فی عظمـة الله مـا عصـوا الله عزوجـل" (تفسـيرابن کثيـر ۱۵۸\۲) ژ:کـه دالله(جل جلاله) عظمـت تـه خلـک پـام ولـري، هغوی به دالله له سرغړونې راوګرځي.

دتوبې تعريف:

لـه ګنـاهونو اومعصيت نـه مـونږ چـې کومـه توبـه بيـا بيـا يـادوو، دهغـې د حقيقـت نـه خبريـدل ضرور دي، کـه دتـوبې حقيقـت ونـه منـدل شي، يـواځې پـه ژبـه توبـه، توبه ويل بسـنه نـه کـوي، لغـت کـې توبـه بيرتـه ګرځيـدو اورجـــوع تـــه وايـــي، علامـــه رازي(رحمه الله) د مختارالصـــحاح پـــه ۵۹ مـــخ او علامـــه فيرزوآبـــادي (رحمه الله) دالقـاموس المحيط پـه ۵۹مـخ ليکلي:"تـاب إلـی الله" او "توبـه" لـه ګنـاه اومعصيت نـه ګرځيـدو تـه ويـل کېـږي، پـه شريعـت کـې دالله (جل جلاله) دمعصـيت او نافرمـانۍ پرېښـودو تـه او دهغـه اطاعـت غـوره کولـو تـه توبه ويل کېږي.

دتوبې حقيقت اومراتب:

دربښـتينې تـوبې ويسـتو لپـاره علـماوو ځينـې شرايـط راوړي دي، لکـه امـام قرطبـي (رحمه الله) وايـي: هی النـد م بالقلـب وتـرک المعصية فی الحـال، وعـزم علی ألايعـود إلا مثلهـا، وأن يکـون فی ذلـک حيـاءً مـن الله (تفسير قرطبي، سورة النساء ۹۱\۵مخ)

ژ: (ربښـتينې توبـه) هغـه ده، چـې (پـه هغـه کـې لانـدې شرايـط پـوره وي۱... پـه ګنـاه بانـدې لـه زړه پښـېمانې، ۲... ګنـاه ژرپرېښـودل،۳... او د ګنـاه بيـا نـه

کولـو کلکـه اراده،۴...او داهرڅـه دالله نـه دحیـا پـه وجـه کول .

دتوبې مراتب:

توبـه ویسـتل درې درجـې لـري، ۱... دتـوبې ویسـتو ترټولویـه اولازمـي درجـه کفـر پرېښـودل او ایـمان قبلـول دي۲... ددینـه وروسـته د کبـایرو(گنـاهونو) نـه توبـه کول ۳... دربیمه له صغیره (ورو) گناهونو توبه.

دتوبې ډولونه(قسمونه)

توبـه دوه ډولـه ده۱... واجـب - ۲... مسـتحب – دهـر ماموربـه کـار پـه پرېښـودو اودهـر محظـور اوممنـوع عمـل پـه کولـو فـوري توبـه واجـب اوضرور ده، اوداپـه ټولـو مکلفـو مومنـانو بانـدې واجـب ده، دمسـتحباتو پـه پرېښـودو او دمکروهـاتو لـه ارتکـاب نـه توبـه کـول مســتحب ده(جـامع الرسـایل لابـن تیمیة،رسـالة فـی التوبه :۱\۲۲۷مخ

دربښتینې توبې شرایط:

۱... پـه فـوري توگـه د معصـیت اوگنـاه نـه لاس پـه سرکېدل.

۲... پـه ټولـو پخوانیـو گنـاهونو پښـېمانتیا کـول، درسـول الله مبـارک ارشـاد دی: "النـدم التوبـه" یعنـې پښـېماني توبـه ده. (مسـند ابـی یعلـی، مسـند عبـدالله بـن مسـعود رض رقـم:۵۱۲۹،۵۰۸۱،۴۹۶۹) پښـېماني دتـوبې اعظم رکن دی.

۳... بیاپـه گنـاه د نـه مرتکـب کېـدو کلـک عـزم(تفسیر السراج المنیر۲\۶۸مخ)

۴... دخلکـو حقـوق اداء کـول یـا لـه هغـوی نـه بښـنه غوښـتل(تفسـیر ابـن کثیـر۸\۱۶۹،تفسـیر الخازن۷\۱۲۲مخ)

پـه ریـاض الصـالحین کـې امـام نـووي (رحمه الله)لـیکلي دي:کـه د معصـیت تعلـق لـه سـړي سره و، نودهغـه لپـاره څلـور شرایـط دي، درې هغـه چـې پـره ذکـر شـول، اوڅلـورم داچـې دخلکـو د حقوقـو نـه خپلـه ذمـه خلاصـول، کـه دچـا مـال یـا کـوم بـل څـه ورسره وي، ښتن ته هغـه سپارل، کـه پـه چا یـې دروغ، تهمت یـا بهتـان پـورې کـړی و، د هغـه نـه دې بښـنه وغـواړي او که دچـا غیبت یې کـړی و د هغـه نـه هـم د معافي طلب کول.

۵... پـنځم شرط دادی چـې سـړی پـه اخـلاص سره یعنـې دالله دعـذاب لـه ډاره اود مغفـرت اوثـواب پـه امیـد گناه پرېږدي.

نصوح توبه څه ته وایې؟

الله (جل جلاله) پـه قـرآن مجیـد کـې خپلـو بنـده گـانو تـه د"نصـوح" تـوبې کولـو حکـم کـړی دی: لکـه پـه لانـدې ایـت کـې : ﴿یَـا أَیُّهَـا الَّذِیـنَ آمَنُـوا تُوبُـوا إِلَى اللهِ تَوْبَـةً نَصُـوحًا﴾ (التحـریم:۸) ژ:ای مومنـانو! توبـه وکـاږئ الله ته، په صاف زړوه توبه (ترجمه شیخ الهند رح)

نصـوح تـوبې نـه مـراد څـه؟ راځـئ! د صـحابه کرامـو، تـابعینو، سـلفو صـالحینو او د مفسرـینو داقوالـو په رڼا کې دیته ځواب پیداکړو، "نصوحًا" د "النصـح" نـه اخیسـتل شـوی ،پـه عربـي کـې گندلوتـه وایي،گـواکې توبـه د گنـاهونو درز "رفـو" د کـول دي، نصـوح ربښتینې، محکمـې اوپخـې تـوبې تـه ویـل کېږي، نصوح

د"نون" په "ضمه" (پېښ)هم لوستل کېږي، داسې توبې ته ویل کېږي چې تري سړی نصیحت واخلي. (تفسیر السمعانی۵\۴۷۷)

امام فراء(رحمه الله) وایي:چې په آیت کې "نَصوحًا"، د"توبه" صفت دی، معنی یې داده چې توبه کوونکو ته ددې خبرې پوهاوی ورکول دي چې دگناهونو په لور بیا گرځېدل ترک کړي، دکومونه چې هغه توبه کړېده، اوداداسې ربښتیا او نصیحت رسوونکي توبه ده، چې کونکی خپل نفس دگناهونو دپلیتې نه پاکوي (تفسیر الرازي سورة التحریم :۱۱\۴۴۹۰)

امام قرطبي(رحمه الله) لیکلي دي، نصوح توبه،خالص توبه ده، دملاوټ نه پاکو شاتو ته "عسل ناصح" وایي،خینو ویلي:چې د "نصاحة" څخه ماخوذ ده او ددې اخذ دوه وجهې دي۱.... په دې توبې کولو دالهي اطاعت جذبه کلکه اومحکمه کېږي،څنگه چې خیاط په گنډلو رخت محکموي ۲.... په دې توبې کولو توبه کونکی داولیاوو سره داسې وصل شي، لکه خیاط چې دگنډلو په زریعه درخت ببلې توتې یوځای کړي (تفسیر القرطبي :۱۸\۱۹۹مخ)

دحضرت معاذ(رضی الله عنه) د پوښتنې په ځواب کې رسول الله(صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: نصوح توبه داده چې سړی پخپلو کړو گناهونو پښېمان شي، دالله لورته ورشي، بیرته ترهغه را ونه گرځي،څو دغو لانزې تیو ته پې بیرته ونه گرځي (الدر المنثور:۶\۲۸۴)

حضرت عمر، ابی بن کعب، اومعاذ(رضی الله عنهم) فرمایي:التوبة النصوح أن یتوب ثم لایعود إلی الذنب کما لایعود اللبن إلی الضرع ......نصوح توبه داده چې هغه توبه وباسي اوبیا هغه گناه لورته نه گرځي، څنگه چې تیوته پې بیا نه گرځي (تفسیر القرطبي، سورة التحریم :۱۸\۱۹۷مخ)

حضرت حسن (رحمه الله) ویلي: نصوح توبه داده چې سړی د گناهونو په ککړ ژوند نادم شي، او هغه ته د بیا نه ورتلو پوخ عزم وکړي،کلبي (رحمه الله) ویلي:نصوح توبه داده چې په ژبه استغفار اوپه زړه پښېمان شي، اوخپل ځان کنترول کړي ،دقتاده(رحمه الله) په وینا:رښتیني نصیحت رسوونکې توبې ته نصوح ویل کېږي (تفسیر الخازن:۷\۱۲۱مخ)

سعید بن جبیر(رحمه الله) فرمایي:نصوح وایي مقبولې توبې ته،اوتوبه ترهغه وخته نه قبلېږي، چې ترڅو په هغه کې درې څیزونه ونه مندل شي ۱.... دنه قبولیت ډار ۲... دقبولیت امید ۳... او په طاعاتو کلکه ثابت قدمي غوره کول...

محمد بن سعید قرظي (رحمه الله) وایي:نصوح توبه د څلورو څیزونو د مندلو نوم دی ۱... په ژبه باندې استغفار ۲...له بدن څخه دگناهونو پیټې لرې کول ۳... په زړه کې دگناه پرېښودو اظهار دحضرت ابن عباس (رضی الله عنهما) نه هم منقول دي (البحرلمدید:۸\۱۲۷مخ) ۴... دبدو دوستانو د صحبت نه ځان لرې کول ۵... ذو النون (رحمه الله)ویلي:دنیکانو او د اهلِ خیر خلکو سره صحبت غوره کول(تفسیر الخازن :۷\۱۲۲مخ)

سفیان ثوري(رحمه الله) فرمایلي:څلورشیان دنصوح توبې نښې دي:۱... القلّة یعني گناهونه زایلول۲.... العلّة یعني دالله (جل جلاله) په یاد کې دزړه دننه اندیښمن کېدل یعني ندامت غوره کول ۳.... الذلّة یعني عاجزي

او تابعداري غوره کول ۴... الغربة يعني له ګناهونو ځان لرې ساتل.

فضيل بن عياض(رحمه الله) فرمايي: دتوبې وروسته، ګناه دتوبه کونکي د ستر ګو ازغي شي يعنې هغه ګناه ته ددښمن په نظر ګوري.

ابوبکر واسطي(رحمه الله) نصوح دخالصه توبې نوم دی، نه دمعاوضې دکوم عقد،ځکه چې چا دنيا کې ګناه کړيده، دخپل نفس دګټې پخاطر يې کړېده، اوبيا توبه هم د نفس دسهولت پخاطر کوي نو توبه دخپل نفس لپاره وي نه دالله لپاره(تفسير الثعلبي :۱۹۰ ۳۵مخ)

ابوبکر مصري (رحمه الله) وايي:نصوح توبه يعنې حقداروته خپل حقوق ور کول. ددعوه لرونکو نه دحقوقو ببښنه غوښتل، اوپه طاعاتو دوام کول دي.

رابعه بصريه (رحمة الله عليها) ويلي:داسې توبه کول چې بيا دګناه کولو په لور خيال ونلري، ذالنون مصري(رحمه الله) وايي دنصوح توبې درې نښې دي:۱... قلَتِ کلام -(لږې خبرې) ۲.... قلَتِ طعام-(لږخوړل) قلّتِ منام- (لږويده کېدل)

شفيق بلخي(رحمه الله) ويلي: نصوح توبه کونکي زياتره خپل نفس ملامتوي، او ندامت له هغوی نه جلا کېږي،څو دګناهونو له آفتونو څخه په سلامتيا سره نجات ومومي.

سري سقطي(رحمه الله) ويلي: نصوح توبه کونکی دايمان دخاوندانودنفس داصلاح فهمايش کوي، ځکه چې د چاتوبه قبوله شي،هغه داخبره خوښوي چې نور خلک دې هم دده پشان تصوح توبه کوونکي وي (تفسير الثعلبي:۱۹ ۳۵۰مخ)

جنيدبغدادي(رحمه الله) فرمايي:نصوح توبه داده چې هغه ګناه داسې له ياده وباسي چې بيا يې ياده هم نکړي، ځکه چې دچا توبه صحيح وګڼل شي، هغه دالله تعالی سره محبت کونکی شي، اوڅوک چې دالله تعالی سره محبت کوي هغه دالله پرته نور هيروي.

سهل تستري (رحمه الله) وايي:نصوح توبه داهل سنت والجماعت دتوبې نوم دی، له دې وجې دبد عتي توبه هيڅ توبه نده، درسول الله (ﷺ) دهغه ارشاد په وجه هربدعتي سړی له توبې کولو څخه محجوب شوی دی.

فتح موصلي(رحمه الله) فرمايي:ددې درې نښې دي ۱... د نفساني خواهشاتو مخالفت کول۲.... ډېر ژړل۳.... دلوږې اوتندې مشقت زغمل يعنې لږ خوړل او څکل (الکشف والبيان:۱۹\۳۵۱مخ)

دحضرت عمر(رضي الله عنه) نه دنصوح توبې په باره کې وپوښتل:وي فرمايل:چې سړی له بد عمله توبه وکړي، اوبيا د هغه لورته ونه ورنشي.

حضرت حسن(رحمه الله) فرمايي: نصوح توبه داده چې دګناهونو څخه هم داسې نفرت وکړئ څنګه يې چې ورسره محبت مو کړی ، اوهر کله چې درپه ياد شي استغفار کوئ (تفسير القرطبي:۱۸\۱٦۸مخ)

ابوبکر وراق (رحمه الله) ويلي: نصوح توبه داده چې زمکه دخپلې پراختيا باوجود په تابانديې تنګه شي څنګه د تبوک غزا نه پاته شويو توبه وکړه(تفسير القرطبي ۱۸\۲۸۷مخ)

ابوعبدالله(رحمه الله) وايي:دلسو شيانو نوم نصوح توبه ده۱... له جهل وتل۲... پخپل فعل پښېماني ښودل

۳.... له خواهشاتو ځان ژغورل ۴... د سوال کونکي د نفس کنترولولو یقین ۵... ناروا معاملات پرېښودل ۶... ماتې خپلوی جوړول ۷.... دروغ پرېښودل ۸.... ناکاره دوست پرېښودل ۹... له معصیت نه خلوت کول ۱۰.... دغفلت له چارو عدول غوره کول(حقایق التفسیر للسلمی:۲\۳۳۷مخ)

علامه شبیر احمد عثماني(رحمه الله) لیکلي دي: دنصوح توبې نه مراد په صاف زړه توبه کول دي، هغه دادی چې په زړه کې دهغه ګناه خیال را نه ولي، که دتوبې نه پس بیا دهغو خرافاتو خیال ورته راته نوپوی شه چې په توبه کې څه کسر- لا پاتې دي، اودګناه ربنې د بېخه اولګیو نه ندي وتلي (رزقنا الله منها حظاً وافراً بفضله وعونه وهو علی کل شئ قدیر- (تفسیر عثمانی سورة التحریم:۸)

د زمانې له پلوه دتوبې ډولونه:

دزماني له پلوه توبه دوه ډوله ده، یوه دا ده چې هرسړی په ژوند کې دمرګ سلګیو راتلو وړاندې توبه وباسي، څکه چې دساه وتو وروسته توبه هیڅ ارزښت نلري دالله تعالی ارشاد دی: ﴿ولیست التوبة للذین یعملون السیئات اذا حضر أحدهم الموت قال إني تبت الآن ولا الذین یموتون وهم کفار أولئک اعتدنا لهم عذابا ألیما﴾

ژ:اونشته(وعده دقبولد) توبې له پاره دهغو کسانو چې کوي دوئ ګناهونه ترهغه پورې چې راشي یو د دوئ ته (اسباب د) مرګ نوایي چې بیشکه ماتوبه ویسته اوس اونه (قبلیدای شي توبه) دپاره دهغو کسانو چې دوی مړه شي حال داچې دوی کافران وي دغه کسان (چې دکفرپه حالت کې مري اوعین په غرغره کې توبه کوي)تیارکړی مونږ دوی ته عذاب دردناک (النساء :۱۸، ترجمه شیخ الهند رح)

رسو الله(ﷺ) ارشاد فرمایلی: ان الله یقبل التوبة العبد مالم یغرغر (سنن الترمذی کتاب الدعوات، رقم :۳۵۳۷)

ژ:بیشکه الله تعالی دبنده توبه ترهغه وخته قبلوي ،څو دهغه ساه ترغاړې نه وي راغلي (یعنې ترڅو روح تري وتلی نه وي)

دتوبې دویم ډول دوخت په اعتبار دادی چې د ټول مخلوق توبه ترهغه وخته دقبولیت وړده څو چې لمر دمغرب نه راپورته شوی نه وي، کله چې لمر دمغرب نه راپورته شي هم هغه وخت به دتوبې قبلېدو دروازه وتړل شي، حضور(ﷺ) فرمایلي(ﷺ) من تاب قبل أن تطلع الشمس من مغربها تاب الله علیه (صحیح مسلم،کتاب الذکر والدعاء، رقم:۶۸۶۱)

دتوبې ویستو توفیقا او دخلکو په اعتبار یې ډولونه:

دالله تعالی له لوري دتوبې توفیق ورکول او نه ورکول په اعتبار دخلکو مختلف ډولونه لري.

۱.... یوډول هغه دي چې ور ته په ټول ژوند کې د توبې توفیق په لاس ورنشي- او ټول عمر دشعور له مودې نه تر مرګه پورې په ګناهونو او معصیت کې تیر کړي په دې حالت کې ورته مرګ راشي دا دډېرو بدبخته خلکو حالت دی.

۲.... ډول له لومړي ډول نه هم قبیح او بد خلک دي چې هغوی له ابتداء څخه نیولي تر وروستي عمره نیک اعمال کوي،لیکن دعمر په آخر کې په یو بد عمل

مبتلی شي، تردې پورې چې په هم هغه بد عمل مبتلی وي او مرگ ورته راشي څنگه چې په صحيح حديث کې راغلي دي، له تاسونه ځيني خلک دجنتيانو اعمال غوره کړي، تردې پورې چې دهغوی او جنت ترمنځ ديو گز اومره فاصله پاتي شي بيا په هغه تقدير غالب راشي اوهغه به دجهنميانو عمل غوره کړي چې دهغه په وجه به هغه جهنم ته لاړشي.(صحيح البخاري،کتاب الأ نبياء، باب قول الله تعالی، واذقال ربک للملائکة انی جاعل فی الارض خليفةورقم: ۳۳۳۲)

۳.... دريېم ډول دهغو خلکودی چې هغوی خپله توله گرانبيه متاع او ټول ژوند په غفلت او دوکه کې تيروي، تردې پورې چې هغوی ته دکوم ښه عمل توفيق په لاس ورشي او په هم هغه انتقال وکړي، دا هغه خلک دي چې ټول عمر يې د جهنمي خلکو اعمال کول تردې چې دهغوی اوجهنم ترمنځ يوگز ځای پاته شو، تقدير غالب راغی او دجنتيانو پشان عمل يې غوره کړ او جنت ته لاړ (ياد اخذليک)

دا خبره ښکاره ده چې داعمالو دارو مدار په خاتمه دی، دخير او شر په اعتبار سره، په حديث شريف کې راغلي ، چې هرکله الله(ﷻ) دکوم بنده سره دنيکۍ معامله وکړي، نوهغه ته دنيک عمل توفيق ورکړي، اوبيا په هم هغه نيک عمل دهغه ته روح قبض کړي(سنن الترمذی، کتاب القدر، رقم ۲۱۴۲)

۴.... څلورم ډول دهغو خلکو دی چې هغوی دژوند هره دقيقه اوثانيه دالله (ﷻ) په اطاعت کې تيروي، گام په گام دالله فرمانونه مني، دمرگ څخه وراندې هغوی ته تنبيه ورکول کېږي، چې اوس دالله (ﷻ) سره دليدلو وخت راغلی دی،ته! دهغه سره ليدلو لپاره ځان چمتو کړه،او داسې توښه ځان سره برابره کړه کومه چې دهغه ذات سره دليدلو لپاره مناسب ده،داخلک ترټولو غوره، بهتر او لوړ ډول خلک دي، حضرت ابن عباس(رضي الله عنهما) فرمايي:کله چې په رسول الله (ﷺ) ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ﴾(النصر:۱) نازل شو، په دې کې ددنيا نه درسول الله(ﷻ) رحلت ته اشاره وه،نورسول الله(ﷺ) خپل ټول صلاحيتونه اوکوښښونه داخرت په کارونو کې صرفول شروع کړل (څنگه چې دنبوت وروسته درسول الله (ﷺ) معمول و،) الدررالمنثور، سورة النصر:۷۲۳\۱۵، تفسير ابن کثير:۱٦\٥٦۲)

حضرت ام سلمه (رضي الله عنها) فرمايي:دژوند په وروستيو شپيو کې رسول الله مبارک به پورته کېده، کيناسته،ته، راته: هروخت به ی‌ی "سبحان الله وبحمده أستغفر الله وأتوب اليه" ويل، ماورنه ددې کثرت په باره کې وپوښتل:وی فرمايل:ماته ددې حکم شوی دی، بيا رسول الله(ﷺ) النصر سورة تلاوت کړ(تفسير ابن کثير،النصر۵٦۴\۱٦- تفسر القرطبي، النصر۱۰\۱٦٦مخ)

درسول الله(ﷺ) دا عادت مبارک و چې هر کال په رمضان کې به يې لس ورځې اعتکاف کاو، اوجبرايل(عليه السلام) به ورته يوځل عظيم الشان قرآن تکراراوه ،دوفات کېدو په کال يې شل ورځې اعتکاف وکړاو دوه ځله يې عظيم الشان قرآن ختم کړ، رسول الله(ﷺ) به فرمايل:چې اوس دالله(ﷻ) دليدلو وخت رالند دی، بيا رسول الله(ﷺ) دحجة الوداع وروستي حج په مهال وفرمايل:خلکو! ماته دحج مسايل

يادکړئ، شايد زه راتلونکي ته بيا حج ونکړای شم-(صحيح مسلم، کتاب الحج، رقم:۳۱۳۷)

ددې څخه علاوه رسول الله(ﷺ) په کلکه دقران اوسنت نيولو حکم وکړ، اومدينې ته دستنېدو وروسته څه موده پس يې له دنيا څخه رحلت وکړ(تفسير القرطبي:۲۰\۱۶۷مخ)

دتوبې و يستلو طريقه: علماءِ کرام فرمايي: په کومو گناهونو کې چې انسان مبتلی وي،دهغو ته دتوبې ويستلو طريقه داده چې وکتل شي دغه گناه دالله د حقوقو پورې اړه لري، که دبنده گانوترحقوقو پورې؟ که دالله تعالی دحقوقو نه کوم حق وي، لکه دلمانځه پريښودل، نوددې گناه نه توبه ترهغه وخته صحيح نده ،ترڅو دقلبي ندامت سره يوځای دفوت شويو لمونځونو قضاء را ونه گرځوي، هم داسې دزکات، او دروژې معامله ده، څو چې دپخوانيو روژو او زکات اداء نکړي، ترهغه وخت پورې توبه کامله نه ده، که گناه ديوچا دناحق قتل وه، نوبيا خان قصاص ته وراندې کړي،که دمقتول وارثانو دقتل مطالبه وکړه، هغه دي ... کنه ديت خو به خامخا ور کوي، که په چا يې د دروغو تهمت پورې کړی و، په کوم کې چې حد لازم دی، نو خان به هغه ته وراندې کړي،که يوڅو ک په قتل يا تهمت ويلو ويښل شو، هغه بايد په اخلاص سره پښيمانيتا او په راتلونکي کې دنه کولو کلک عزم وکړي،هم داسې دې غله، ډاکو، شرابي اوزاني توبه ده، چې هغه گناهونه پريږدي، او خان اصلاح کړي نو توبه به يې صحيح ده ، که گناه تر حقوق العباد پورې اړه لري، که قدرت لري، ژر دې دحق څښتن ته د هغه حق وسپاري، که ژر داداء کولو وس نلري نو هر څومره ژر چې ممکن وي، دقدرت راتلو سره سم بايد دحق څښتن ته دهغه حق اداء کړي،که کوم مسلمان ته يې زيان رسولی وي، ژر دې دهغه زيان ازاله وکړي، او دهغه مسلمان ورور نه دې ښښنه وغواړي،او هم دې ددې لپاره استغفار ووايي،که دحق څښتن ويابښه، نو له گناه څخه خلاص اوبريالی دی ، هم داسې که يو چا بل ته زيان رسولی و، يا په ناحقه يې بل څو زورولی وي، دهغه حق څښتن ته دندامت په ښودو دې، له هغه نه ښښنه وغواړي، اوپه راتلونکې کې د نه کولو عزم وکړي، او پرلپسې دې له هغه ښښنه غواړي، تردې چې مظلوم يې وبښي، نوپه دې سره به دهغه گناه وبښل شي (تفسير القرطبي:۱۸\۲۰۰،۱۹۹)

دغسې حال دنورو پاتې ټولو گناهونو دی، که دحقوق الله پورې يې اړه درلوده، نو دبره ذکر شرايطو سره برابر دې توبه وکړي، اوکه دبنده گانو دحقوقو غوښتنه وه، نو په ياده طريقه دتوبې ويستلو ترځنگ دې حقوق اداء کړي اويا دې ښښنه ترلاسه کړي.

دتوبې ويستلو په اړه دسلفو صالحينوطريقه:

دصالحينو سلفو په رايه، که کوم سړي ته مرگ دهر يونيک عمل لکه د روژې يا حج اوعمرې وروسته راشي نو دالله له رحمت نه اميد دی، چې هغه به جنت ته لاړشي، پخپله اکابروسلفو ټول عمر په نيکو اعمالو کې دتيرولو باوجود دمرگ په وخت کې دتوبې او استغفار اهتمام زيات کړی دی او خپل عمل يې په استغفار او کليمه طيبه(لااله الا الله) پای ته رسولی دی! دعلامه ابن زياد چې کله آخري وخت يې راغی، وې ژړل! چاترې دژړا وجه وپوښتله، وي

فرمایل:په الله سوګند! زما ارزو او غوښتنه داده چې په توبه کولو دمرګ استقبال وکړم، هغه وویل ، الله دې په تا مهربان شي، ته هم داسې وکړه، هغه داودس لپاره اوبه راوغوښتې، اودس یې وکړ، بیا یې نوي کالي واغوستل بیا مخ په قبله شو، دوه ځله یې سر ښکته کړ، بیا په اړخ باندې څملاست، اوروح یې والوت، عامربن عبد الله داجل په وخت کې وژړل،او وي فرمایل: دهمدې وخت لپاره عمل کونکي عمل کوي، اې الله! زه له تاته دخپلو کمیو او کوتاهیو ښښنه غوارم، اوله خپلو ټولو ګناهونو توبه کاږم، بیا دهغه وروسته پرلپسې د"لا اله الا الله" وردکاوه، تردې پورې چې روح یې له عنصري قفس نه والوت، عمروبن العاص (رحمه الله) دمرګ په وخت کې وفرمایل:اې الله! تا مونږ ته دطاعت حکم کړی دی، مونږ په هغه کې کوتاهي کړیده، تا مونږ له ګناه کولو منع کړو مونږ دګناه ارتکاب کړی دی،زه ستا دبښنې نه سیوا بله هیڅ چاره نلرم، بیا یې د"لا اله الا الله" وردشروع کړ تردې روح یې لاړ والوت.

دتوبې دعوت : نن انسان دګناهونو په ژور سمندر کې ډوب دی، دنفس اوبشري لغزشونو څخه پاک ندی، لیکن دناهیلۍ ارتیا نشته، هرهغه سړی چې دګناهونو اومعصیت له لارې یې په ځان ظلم کړی دی، هغه ته دازیری دی چې الله(جل جلاله) پخپل سپېڅلي کلام (قرآن) کې هغه ته دتوبې او رجوع بلنه ورکړیده! هغه دټولو ګناهونو ښښونکی دی، دالله(جل جلاله) ارشاددی:

﴿قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ وَأَنِيبُوا إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ﴾ (الزمر:٥٣-٥٤)

ووایه! اې زما بنده ګانو!چاچې زیاتی کړی پخپل ځان ، تا امیدې مه کوئ دالله درحمت نه، بیشکه الله ښښي ټول ګناهونه، هغه د ګناهونو ښښونکی اومهربان دی، او لارشئ دخپل رب لورته او دهغه حکم سرته ورسوئ مخکې له هغه نه چې راشې په تاسې عذاب، بیا به هیڅوک ستاسې مرستې ته درنشي.(ترجمه شیخ الهند)

اوبل ځای ارشاددی: ﴿وَإِنِّي لَغَفَّارٌ لِّمَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ثُمَّ اهْتَدَىٰ﴾ (طٰه :٨٢). حضرت ابن عباس(رضي الله عنهما) ددې آیت په تفسیر کې فرمایي: من آیس عباد الله بعد ها فقد جحد کتاب الله (تفسیر ابن کثیر:١٠٨/٧) ژباړه چې ددې ایت وروسته دالله بنده ګان دتوبې نهیلي کړل ، ګواکې هغه دالله دکتاب نه انکار وکړ.

حماد بن سلمه(رحمه الله) چې کله دسفیان ثوري(رحمه الله) دناروغۍ پوښتنې ته ورغی، دهغه نه یې وپوښتل، چې الله تعالی به زما پشان سړی ته ښښنه وکړي؟ نوحماد بن سلمه (رحمه الله) وفرمایل:په الله سوګند! که ماته په الله(جل جلاله) اوخپل مورو پلار کې یو دمحاسب په حیث تاکلو واک راکړای شي، نوزه به الله محاسب غوره کړم، ځکه چې الله (جل جلاله)زما لپاره زما دمور اوپلارنه هم زیات مهربان او رحم کونکی دی ......پای

له نوميالي ديني مدرس مفتي ابوياسر سره

ځانګړې مرکه

بسم الله الرحمن الرحيم

پوښتنه : محترم مفتي صاحب ! که لمړی دشهامت مجلې لوستونکوته ځان معرفي کړئ ستاسو احسان به وي ،

جواب : حامدا ومصليا وبعد: زه په مطبوعاتي نړۍ کې په مفتي ابوياسر سره پيژندل کيږم ،دافغانستان دغزني ولايت سره تړاولرم ، لمړۍ زده کړې مي دخپل مرحوم والد صاحب څخه کړي دي ، اوبيادهجرت ديار ته تللی يم ، اوهلته مي دلورلايې په دارالعلوم کې دريوه کاله پورې زده کړې کړي دي ، له هغه وروسته دوه کاله همالته په نورو افغاني مدارسو کې پاته شوی يم ،اوبياله هغه ځايه کوټې مرکز صالحه مدرسه کې [چې دهغه مهال ترټولو مشهوره مدرسه وه]زده کړې کولې چې هماغه کال په روستيو کې دطالبانو اسلامي تحريک پيل شو ،له يوه کال تعطيل وروسته کراچۍ ته ولاړم ،اوهلته مولړی کال يعني خامسه [پنځمه]درجه په احسن العلوم کې ولوسته اوله هغه وروسته مې بياسادسه [شپږمه درجه] تراخيري دورې پورې په دارالعلوم کراچۍ کې ولوستل ، اوله هغه وروسته مې تخصص في الفقه وکړ اوپه ١٣٢٢ هـ ج کې له علومو څخه دشرف اول په درجه فارغ شوی يم ، اواوس دتفسير ،حديث اوفقه په درس اوتدريس بوخت يم .

پوښتنه : ستاسو مشهور اساتذه اوشيوخ څوک دي ؟

جواب : زما په مشهورو اساتذه وکې له خپل والدصاحب رحمه الله څخه علاوه مشهور شيخ ،مفتي زرولي خان صاحب دامت حياته دجامعه احسن العلوم باني دی چې صلوة هدايه اودوره تفسيرمي ورڅخه ويلي ، همدارا ز ددارالعلوم کراچۍ مشهورمحدث حضرت مولانا سبحان محمود رح دی ، چې بخاري شريف مو ترکتاب الغسل پورې ورڅخه لوستي ،همداراز ددارالعلوم يوبل مشرشيخ الحديث اواستاذالکل حضرت مولانا شمس الحق صاحب رحمه الله و چې بيضاوي شريف اوسنن ابي داوود مو ورڅخه لوستي دی ،همداراز مو بخاري اوترمذي شريف په شيخ الاسلام مولانامحمدتقي العثماني صاحب اومسلم شريف په مفتي اعظم مفتي محمدرفيع عثماني صاحب لوستي دی

،همداراز مو دشیخ الحدیث مولانا عزیز الرحمن صاحب څخه بیع هدایه اودشیخ الحدیث مولانا مفتي محمود اشرف صاحب څخه مشکوة شریف او دشیخ الحدیث علامه عبدالله برمي صاحب څخه جلالین شریف لوستي دي . اودتخصص في الفقه استاذ مو شیخ الحدیث العلامه مفتي نجم الحسن صاحب امروهي دنجم الفتاوی مولف دی .

پوښتنه : له دورة الحدیث څخه په فراغت زموږ دفارغو علماؤ دوې لارې مخ ته وي یو دامامت اوبله ددرس اوتدریس ،زمادابوښتنه دتدریس په اړه ده ،ولي زموږډیر فارغ شوي علماء دښه درس جوګه نه وي ؟

جواب: له نړدي دري لسیزو راهیسې زموږ طالبان داسلام اووطن ددښمنانو سره په سخته مبارزه بوخت دي ، نوطبعا به دهغوئ دتعلیم زمانه له ستونزو ډکه وي ،تاسوګورئ ،هغوئ دخپل تعلیمي کال ډیره برخه په جهاداوسنګرکې تیروي ، اوکله چې دمدرسې لوري ته مخه کوي نو هم له ډیرو مشکلاتو سره مخ وي ، دنصاب نه شتون ، دښودرسونو لپاره دمدرسینو نه وجود ، اودښو مدرسینو په وجود کې دځای یا دکتابونو کمښت اونیستي اوداسې نور عوامل دي چې زموږ دطالبانو دتعلیم سلسله په هماغه کامله توګه سرته نه رسیږي ، چې طبعا استعدادونه خام پاته کیږي ، اوتعلیم نیمګړی ،خوبیاهم الحمدلله داافغانان دي چې په دومره سختو ستونزو کې ددرس اوتدریس سلسله ځیني پاته شوي نه ده ، بلکه دغه ځوانان فارغان یې هم په ښه طریقه سره په مخ بیایې ،کنه وي نورقومونه دغه ډول نه دي.

پوښتنه: تاسو وویل : چې موږ دطالبانو یوه ستونزه دنصاب نه شتون دی ، نو دنصاب په نشتون کې دتعلیم سلسله څرنګه په مخ ځي ؟

جواب : زمامطلب داوو :چې موږ له ډیره وخته ددیني تعلیم په برخه کې یو مکمل اومرتب نصاب نه لرو ، هرطالب مو دخپلي خوښې اوانتخاب له مخې دکال په پیل کې کتابونه شروع کوي اوبیایې چې په کوم ځای خوښ شي پای ته رسوي ، په همدغه طریقه سره یې دتعلیم زمانه پای ته رسیږي،چې داطریقه دښومدرسینو اومستعدوعلماؤ په رامینځ ته کولو کې موثر نه واقع کیږي ، البته اوس چې اسلامي امارت دغې ستونزي ته جدي توجه کړي ، اودتعلیم تربیې له لارې یې ددیني تعلیم تولومرحلو ته یونصاب ترتیب کړی دی چې خورا مفیداوګټور نصاب دی ،زماهیله ده چې زموږ په دیني مدارسو کې به دتعلیم نظام په همدغه نصاب جوړ شي ، چې ان شاء الله تعالی ښه نتیجه به ورکړي . لکه موږ همدغه مثبتي پایلي دنورو هیوادونودنصاب په تنظیم کې مشاهده کولای شو .

پوښتنه : دمدرس عالم لپاره دتدریس په مهال ښې لارې کومي دي ؟ که په دي اړه زموږ دهیوادفارغانو ته ښې مشوري ورکړئ کیدی شي چې ښه استفاده ځیني وکړي ،

جواب : رښتیا هم چې زموږ ددرس طریقه ډیره کمزوري وي ، خوکه موږ دغه لاندي مشوري

په نظرکې ونیسو نوکیدی شي چې درس اوتدریس موښه اوپایلې یې مثبتې شي .

لمړی: څرنګه چې ددیني علومو زده کړه دمسلمانانو لپاره ضروري ده اوله بل پلوه دایو مهم عبادت هم دی نو ترټولو وړاندې بایدطالب اومدرس دخپل نیت سمون اواصلاح وکړي ؛ ځکه چې ددیني امورو اساس نیت دی ،نوباید ترټولو لمړی ددغه نیت سمون ته متوجه شوو.

دوهم زموږ دتدریس مدرس باید اخلاص في العمل ولري ، اخلاص في العمل که څه هم دهرمسلمان په هرنیک عمل کې ضروري دی ، لکه په حدیث شریف کې چې راځي : ان الله تعالی لایقبل من العمل الاماکان خالصا....

خو دمدرس اواستاد لپاره ډیراهم دی .

اودمدرس لپاره اخلاص في العمل څوموارد لري.

: په مطالعه کې چې دمدرس لمړی عمل دی اخلاص ضروري دی اوپه مطالعه کې دمدرس اخلاص دادی : چې باید طالبانو یازده کونکو ته تردرس ورکولو وړاندې مطالعه وکړي ، اوپه مطالعه کې اخلاص دادی : چې مطالعه یې باید په درو مرحلوبناء وي .

لمړی دځان لپاره مطالعه کول ، چې خپله یې په عبارت باندې علم راشي .

دوهم : داچې له دغه مطالعي څخه حاصل اخذ کړي .

اودریم: ددې لپاره په مطالعه ورو ګرزي چې طالب ته کوم مواد نافع دي . اوهغوئ ته باید ددرس په دوران کې څرنګه تقریروشی .

دمدرس دوهم اخلاص في العمل دمدرسي یاطالبانو په وړاندې حضوردی . نو په دغه عمل کې دمدرس اخلاص دادی چې په درسونو کې په خپل وخت کې حضور ضروري وګڼي . اوله شرعي عذر پرته غیرحاضري نه کوي . ځکه دمدرس په غیرحاضري سره په طالبانو کې دعلم ذوق مړاوی کیږي ، همداراز دمدرس درسونه بې برکته شي ، چې ذائقه یې ختمیږي ، اوخبره ترشکایتونو اوغیبتونو پوري رسیږي ،چې دانو داستاد اوشاګردپه مینځ کې ترټولو بدحالت رامینځ ته کیدل دي .

په احادیثو کې هم راځي : عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: .....قَالَ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ عَلَيْكُمْ مِنَ الْأَعْمَالِ مَا تُطِيقُونَ، الي قوله .... وَإِنَّ أَحَبَّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ مَا دُووِمَ عَلَيْهِ، وَإِنْ قَلَّ ... ژباړه : ای خلقو ! تاسو هغومره اعمال کوئ چې پرې غښتلي یاست ..... او ترټولو ښه اعمال هغه دي چې تل وي ...

دمدرس بل عمل مخاطبه ده ، مدرس باید په مخاطبه کې هم پوره اخلاص وکړي ،اودغه اخلاص یې په دوه څیزونو سره راځي : لمړی داچې مخاطبة علی قدرعقولهم وي [یعني دطالبانو دفهم وړ وي] ، لکه له حضرت علي رض چې روایت دی : حدثوا الناس علی قدر عقولهم .... اودوهم داچې درس باید دطالب دزده کړي په اندازه وي . نه زیات اونه ډیرکم.

د مدرس ددرس په دوران کې مشق اواجراء يو ورځنی عادت جوړول ضروري ده ؛ ځکه چې په مشق اواجراء کې دطالب لپاره ځومره ګټې دي شايي چې په تکرار، مطالعه اودرس کې نه وي .

دریم : مدرس باید شفيق اومهربانه وي اودغه شفقت بيا دیرارخونه لري :

- ✓ مثلا :په طالب العلم باندي ترحم ،
- ✓ له شاګرد سره نرمي ،
- ✓ له شاګرد سره دزوی یاکشرورو په څیر چلند .

استاد شرعا مکلف دی چې کشرانو باندې ترحم وکړي ، کمايقول الرب عزوجل في حق المؤمنين : اشداء علی الکفار رحماء بينهم ،يعني چې رښتوني مؤمنان هغه دي چې په کافرانو سخت اوپه خپل مينځ کې يوپه بل سخت مهربانه وي ، ويقول الرسول صلی الله عليه وسلم : من لم يرحم صغيرنا ولم يوقركبيرنا فليس منا .... يعني څوک چې زموږ په ماشومانو ترحم نه کوي اودلويانو قدرمونه کوي هغه له موږ ځخه نه دي الحديث استاد اوشاګرد په خپل مينځ کې لوړ معنوي قرابت اوتعلق لري نوطبعابه ترحم په کې لازيات وي ،

دشفقت يوبل اړخ له طالب العلم سره نرمي کول دي . الله تعالی محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم ته چې دټول امت ستر استاذ دی داسې خطاب کوي : لوکنت فظاغليظ القلب لانفضوا من حولک . الاية ژباړه :که ته سخت زړی وای نودوئ به دي په چاپيره نه وای راټول شوي . له سخت زړي مدرس سره طالبان په درس کې ډيرتنګيږي ، اواستفاده نشي ځيني کولای . اونه يې طالب درس ته زړه ښه کوي .حضرت ابوسعيد الخدري (رض) ويلي : چې موږ ته رسول الله صلی الله عليه وسلم په شاګردانو باندی دشفقت اونرمې توصيه کوله .

دشفقت يوبل اړخ له طالبانو سره محبت دی. له امام ابويوسف رح څخه نقل شوي چې داستاد طريقه بايد له شاګرد سره داسې وي چې که يې يونابلده کس ووينې نوداسې ګمان ورباندې کوي چې دايې زوی دی .

څلورم : مدرس به مربي وي اودشاګردانو تربيې ته به ځانګړي پاملرنه کوي .

دمدرس وظيفه به يواځې دکتابونو ورزده کره اوتعليم نه وي بلکه دتدريس يوه مهمه برخه به تربيه هم وي ، خوداچې تربيه کوم اړخونه لري نوپه لاندې دول به يې تشريح وکړو :

- ❖ عقيدوي تربيه
- ❖ اخلاقي تربيه
- ❖ دشرعي اعمالودصحيح کرني تربيه

عقيده په اسلام کې لمړی اواساسي تکی دی . عقيده دمسلمان له لمړنيو امورو څخه ده ، اوترهغه پوري دمسلمان حيثيت څوک نشي خپلولای څوچې يې عقيده نه وي تصحيح شوي ، يايې دخپلې عقيدي په اړه معلومات نه وي ترلاسه کړي ،

لنډه داچې مدرس مکلف دی چې دعام تعليم ترڅنګ طالب اومتعلم ته داسلام دغه اساسي بنسټ وروښيي .

اخلاقي تربيه داده : چې طالب ته بايددرسول الله صلی الله عليه داخلاق حسنه ؤ څخه وضاحت ورکړي ، اخلاق حسنه هغه مسنون اعمال دي چې هرانسان يې په خپلولو سره دحيثيت ،شرافت ، اوکرامت څښتن جوړيږي ،اوپه نه مراعت سره يې انسان دټيټو اوذليلو صفات مالک جوړيږي .

په مسنونو اعمالو کې بايد له اوداسه ماتولو څخه نيولي بيا داستاد په وړاندي دناستې اوکلام پوري دټولو ضروري اومسنونو اعمالو تربيه ورکړه شي . مثلا طالب ته بايد وروښودل شي ، چې قبلي ته دقضاء حاجت په وخت کې مخ ،ياشا ګرزل مکروه تحريمي دي ، همداراز له قضاء حاجت وروسته په اوبو سره استنجاء وهل ، دشونډيا تروخته اودس کول ، په ښي لاس خوراک څښاک کول ، دارميږي په مهال په خوله لاس نيول ،له بي ځايه خندلو ، توقو اوښکنځلو څخه دځان ژغورني ، اوداسې نور .. هريو په ښه استناد سره بيان شي . څوددوئ په ذهن کې ښه ځای ونيسي .

پنځم:په علم عمل .

دمدرس اوهرعالم لپاره ضروري ده چې ددين کوم علم يې حاصل کړی وي اوس بايد هغه ته دعمل جامه ورواغوندي،اودده هرڅه بايد ددين دکړنلاري سره سم وي ، داستاد اخلاق اوښه عمل دشاګردانو لپاره يو عملي مشق وي ،

که داستادناسته ،ولاړه، خوراک، څښاک اونور.... دعلم په مقتضی سره وي نوشاګرد به دعلم اثار په سترګو ويني ،هغه به له دغه ځايه له خپل دين سره اشنا کيږي ، هغه به داسلام محاسن په مشاهده وګوري ،اودا دمتعلم په اصلاح ، تعليم ، اوفکري جوړونه کې ترټولوموثر اقدام وي ،

موږ په ټولنو کې وينو چې شاګرد داستاد څخه رنګ اخلي ، که استاد ښه مربي اودمسنونو اعمالوڅښتن وي نوطبعا طالب اوشاګرد هماغه طريقه خپله وی ، اوکه بالعکس وي نوتيجه يې هم بالعکس وي . بلکه دمتعلم په وړاندي داسې اعمال اختيارول چې هغه دعلم سره ټکر وي ترهرڅه يې دمتعلم په ذهن خراب اوناولی اثر وي ،اوډيروخت خو همدغه لامل وي چې ددين اودتعليم څخه دمتعلم دتبعيدسبب شي .

که زموږ مدرس په علم عمل نه وکړي ، نودا په شخصي ډول دهغه لوی خسران هم دی ، يوځوک چې ځوارلس کاله ديوه هدف په تلاش کې تيرکړي ، اوکله چې منزل ته ورسيږي ، نوعمدا له خپل هدف څخه ځان محروم کړي ،

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : اللهم اني اعوذبک من علم لاينفع ...... ای الله ! په تاباندي له داسې علم څخه پناه غواړم ،چې نفع يې چاته نه رسيږي .

پوښتنه: سره له دي چې زموږ دهيوادخلک ديردين دوسته خلک دي ،په هره ناحيه اوکلي کې مساجد اباد دي ولي بياهم خلک له ډير و ديني ضروري معلوماتو څخه ناخبره پاته وي او زموږ فارغ علماء په دي لاره کې کوم اقدام کولای شي ؟

جواب: هو ! داواقعيت دی ، چې زموږ ډيری خلک ددين له ډيرو مهمواحکامواو مسائلو څخه خبرنه وي ، نوددې يولامل خودادی : چې خپله په خلقوکې ددين دمسائلوديوښتلو فکر نشته اوله

دیــن سره یــې علاقــه کمــزوري ده ، اودوهــم داچــې زمونږ امامــانو هــم خپـل مسـئولیت پــه صــحیح توګـه سره سرته نه دی رسولی .

تاســوګورئ ! هــر دینــي واقعــي عــالم پــه خپـل قوم کــې ، یاپــه خپلــه محلــه اومســجدکې درســول الله صــلی الله علیــه وســلم خلیفــه اونائــب ګڼـل کیــږي ،اودرســـول الله صــلی الله علیــه وســلم وظیفــه رب العــزة پــه قــرآن کــریم کــې څوځایــه داســې بیــانوي : ویــزکیهم ویعلمهــم الکتــاب والحکمــة .... یعنــي دخلقــو دعقائــدو اواعمالوتزکیــه بــه کــوي ، دقــرآن کـــریم ترجمـــه اواحکـــام بـــه خلقوتـــه بیـــانوي ، داحادیثو اوفقــه مســائل بــه خلقوتــه ښــیې ، کــه څــه هــم هغــه خلــق لــه وړانــدي پــه دي نــه پوهیــده ، متاسفانه چې زمونږ دزیــاترو علــماؤ لــه امامــت څخــه هدف یــواځې داقتصــادي مشــکل حــل وي ، اودیرزیــار پــه دې کــې باســو چــې خلــق خوشــحاله وســاتو اوزمــونږ دغــه وظیفــه برقــراره وي ،دخلقورضــا دالله تعالی په نافرماني کې لټوو ،

نوکــه زمــونږ فــارغ علــماء دي خــبري تــه پــه ځــانګړي دول توجــه وکــړي ، چــې لــه کــور څخــه نیولي بیا دمحلي ،کلي ، اوبــاهر خلقــو تــه دموقــع پــه مونـــدلو سره ددیـــن ضروري اواساســـې معلومـــات اومســـایل بیـــانوي نـــو دیرپـــه هوســـایې سره دغـــه مشــکل حــل کیــږي ، اوبالخصــوص بیادمســاجدوا مامــان چــې پــه کــلي کــې دقــرآن کــریم دترجمــې ، دحــدیثو اوفقهــی دمســایلو درســونه ورځنــی شــغل وګــرزوی ،البتــه پــه داســې طریقــه چــې دخلقــو پــه مینــځ کــې دفتنــي اوتصــادم دراپورتــه کولــو ذریعــه نشي .

پوښــتنه : زمــونږ دیرفــارغ علــماء امامــت تــه زړه نه ښه کــوي اوامامــت یــوه داســې وظیفــه ګڼــي چې دعلمي شرافت اوکرامــت نــه خــالي وي ، تاســو پــه دي اړه څه وایاست ؟

جــواب : نــه ! امامــة الصــغری یعنــي پــه پنځــه وقتــه لمونځونــوکې پــه جماعــت سره دخلقودلمانځــه امامــت کــول یــوه دیــره عظیمــه ،شریفــه وظیفــه ده مګرمســـئولیت هـــم لـــري ، تاســـو ګـــورئ ،چـــې ځمکــی تــه څــومره رســـولان اوانبیـــاء راغـــلي ، نوهغـــوئ تـــه الله تعـــالی یـــوه همدغـــه وظیفـــه ورسپارلي وه .

- جبرائیــل (علیــه الســلام)دوه ورځــې ددغــه امامــة الصــغری وظیفــه درســول الله صــلی الله علیه وسلم دتعلیم لپــاره سرتــه رســولي ده . کمافي حدیث امامة جبریل المشهور .
- رســول الله صــلی الله علیــه وســلم لــه بعثتــه بیا تررحلته له امامــة کــبری سره پــه امامــة الصــغری پاتــه شــوی ،تــردې چــې ددیــرو علماؤ پــه نــزد لــه رســول الله صــلی الله علیــه وســلم څخــه فــرضي لمونځونــه بي امامتــه نه دي ثابت . الامرة اومرتین .
- درســـول الله صـــلی الله علیـــه وســـلم څخـــه وروســـته دځلـــورو سره خلفـــاؤ پـــه خپـل نوبــت کــې لــه امامــة کــبری سره همدغــه دامامة صغری وظیفه هم وه .
- امامــة پــه دې امــت کــې تــل دنیکــو اوغــوره خلکو وظیفه ګرزیدلي.

اوالله تعــالی پـــه قـــرآن کـــریم کـــې دعبـــادالرحمن [دالله تعـــالی دخاصـــو

بندګانو] صفت ګڼلی : واجعلنا للمتقین اماما :

- رسول الله صلی الله علیه وسلم ددوئ په هکله فرمایلي : اللهم ارشدالائمة . الحدیث .
- لمونځ ددین اساس دی اوپه جماعت سره لمونځ اداء کول ددین له شعائرو څخه ګڼل کیږي ، نوپه امامت سره امام همدغه ددین اساس او شعائر قائموي .

له بل پلوه څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له دنیا څخه رحلت وکړ ،اوهغه نه وروسته بل نبي نه راځي اوددین په رسولو کې لوی خدای ج دهغه نائبان علماء پیداکړي دي ، نواوس دهمدغه علماؤ مسئولیت دی چې څرنګه ددې دین حفاظت وکړي اوڅه ډول دغه دین ترخلقوورسوي ؟

اوله بلي خواکه امامة کبری اوس په تولنه نړۍ کې له اهل الحق څخه اخستل شوی ،مګر الله تعالی تراوسه پوري هغوئ له امامة الصغری څخه نه دی محروم کړي ، نو دعلماؤ مسئولیت دی چې دغه دین دهمدغه امامة الصغری له لاري څخه خلقوته ورسوي ،دهغوئ دایمان تحفظ وکړي ، دهغوئ اصلاح ،تهذیب ،اوتربیه وکړي .

له همدي ځایه معلومیږي چې امامة دامت داصلاح ،هدایت ،.......... اوتربیې لپاره په دین کې څومره اړین منصب دی ،

لهذا هغه علماء چې لیږ ددین فکر ورسره وي هغوئ باید دامامت وظیفه په ډیر افتخارسره وکړي ،البته امامت یوډول مسئولیتونه هم لري نومسئولیتونوته یې هم باید متوجه شي .

پوښتنه : تاسو وویل : چې امامت یوه عظیمه وظیفه ده داصحیح دی اوتاسو په دي اړه ښه وضاحت ورکړ ، مګر که تاسو دامامت په ځینو مسئولیتونو هم رڼاواچوئ ښه به وي ؟

جواب :دامامت دمسئولیت خبره دوړاندینیو خبرو په ضمن کې تیره شوه ، خوپه لنډ ډول به ووایم چې : امام باید یوآځې خلقوته په پنځه وقته لمونځ ورکولوبسونه ونه کړي ،بلکه هغوئ به دخلقودیني ، عقیدوي ،اخلاقي ،مذهبي ،سیاسي ، اوعملي روزنه کوي ، خلق به دالله تعالی ددین احکامو پلي کولو اودمعاصي وو څخه داجتناب کولوته رابولي .

اولکه په سنګرکې چې موزلیان دالله تعالی ددین لپاره خپل سرونه وراندي کوي اودخپل تن په وینو دغه مبارزه په مخ وړي نودمنبر ځوانانو هم باید دغه دیني مسئولیت ته همدغه سې پوره ځان وقف کړي اومنبر بایدهغه ډول سنبال کړي لکه څرنګه چې ددې امت لمړۍ طبقې سمبال کړی ؤ.

پوښتنه: اوس په هیواد اودهیواد څخه باهر دهجرت په دیار کې دځینو ځوانو اوفارغو علماؤ له لوري دکمکیانو مدارس جوړیږي ، اوهغوئ تراوسه په دې لاره کې ښه بریالي دي ، تاسو ددوئ دغه کار څرنګه ارزوئ ؟

جواب : هو، دانه یواځې چې ډیرمعقول اوپه ځآی عمل دی ، بلکه دآخرت لپاره به هم ان شاء الله تعالی ددې خلقودخیرپه اعمالو کې ښه ذخیره

وي،ددوئ دغه عمل دقدر وړ دی ، اوباید زموږ هیوادوال اوپه عمومي ډول ټول مسلمان خپل اولادونه په دغه ډول ادارو کې دتعلیم لپاره داخل کړي چې عصري تعلیمات هم ددیني تعلیماتو په رنګ کې زده کړي .

اوترڅوپوري چې میسر وي بایدخلق په مساجدوکې دماشومانو دهغه نیمګړي تعلیم په ځای خپل کمکیان همدغه نهاري یالیلیه مدارسوته کړي ، څویې لړنۍ اوابتدائي زده کړي سمي اوله اغلاطو پاکې وي ،البته دماشومانو سرپرستانوته باید دمدرسي داساتذه و، دهغوئ دمسلک ، مذهب اودتعلیم دطریقې په اړه له وړاندې معلومات وي .

پوښتنه : ددیني تعلیم ضرورت اوارتیا په څه کې ده ؟ ډیری خلک دیني تعلیم ډیوه هیواد دپرمختګ تعلیم نه ګڼي ، تاسوپه دې اړه څه نظرلرئ ؟

جواب: زه به لمړی په لنډو ټکوکې داددرته ووایم : چې ترڅو ددیني تعلیم سلسله روانه وي نودنیا به باقي وي اوکله چې داسلسله ودریږی نو نړئ به بیازوال کوي ، لکه همداخبره چې درسول الله صلی الله علیه وسلم له احادیثوڅخه څرګندده ، اوبل داچې په کومه سیمه اووطن کې دالله جل جلاله دین وي همالته به عذابونه مرفوع وي ، اوچېرته دغه تعلیمات پای ومومي نوهلته دعذابونو سلسله پیلیږي ، قرآن کریم کې دخومره قومونو بیلګي بیان شوي دي ،چې کله هغوئ دانبیاؤ له تګلاري اودهغوئ له تعلیماتو څخه انکار وکړ ، دهغوئ په لاره نه تلو نو پایله یې له سخت هلاکت پرته بل څه نه وو ،دیني تعلیم سره خلق دالله تعالی دین پیژني ، دالله تعالی ددین لاره ورته معلومیږي ، دالله تعالی په دین باندي عمل کیږي ، اوچېرته چې دا څه وي نوهلته به سکون ،اطمنان ،برکات اورحمتونه وي ، نوطبعا دهیواد معنوي او ظاهري اتکاء او اساس همدغه دیني تعلیمات ګڼل کېږي ، تاسو وګورئ ! داسلامي امارت په مهال چې دغه دیني مدارس قائمي وي اوهرکلی اوښار له دغه مدارسو څخه ځنګیده هلته څه عجیبه سکون ، خوشحالي ، اوامنیت وو چې اوس یې پنځوس ملکونه هم یواځې له امنیت څخه عاجز دي ، یواځې په دنیاوي تعلیماتو سره دهیوادونو ترقي ناشوني ده ، ښآیې تاسو به غربي یااروپایي هیوادونه دتقابل په ډول یادکړئ ، خو په قرآن کریم کې الله تعالی په صراحت سره ددي خبري یادونه کوي چې الله تعالی هغوئ ته دخپل کفر اوطغیان له امله یوڅه وقت مهلت ورکوي اوبیابه یې الله تعالی تباه کوي ، نودادهغوئ دتعلیم برکت نه بلکه استدراج دی . اودځینوته بیا دنیوي ښه حالت دهغوئ داخروي بدحالت په مقابل کې ورکړل شوی دی .

اودوهم دا چې : لکه څرنګه چې دین دخلقو لپاره ضروري دی همداراز دیني تعلیمات هم دومره ضروري دي ،تاسو ګورئ ! دځمکي په کره کې دخلقو پیدایښت اوبیاهغوئ ته هرارخیز او دارتیا وړ مواد پیداکول ،اوبیاهغوئ ته دبي شمیره انبیاؤ رالیږنه ، اودکتابونو نازیلیدل داجوته وي چې دلته به ژوند کول اواوسیدل په یوه ځانګړي طریقه سره وي ،چې هغه درب العزة

له لوري راليږل شوي قوانين [شريعت] دی او دژوند دغه موقته سلسله به دهغه مطابق روانه وي ، ديني تعليمات له همدغه شريعت اودين سره تړلي دي ، نوپه واخلې همدغه تعليمات اوددغه تعليم زده کونکي دي چې الله تعالی دپيغمبرميراث اوورثه ګرځولي ،دوئ به ددې قوانينو حفاظت اوساتنه کوي ،داسلامي امارت دطالبانو تحريک له همدغه خلقو څخه جوړ دی اوهمدغه يې اهداف دي . اوداترلو روښانه خبره ده .

دريم : زموږ خبره په ديني تعليم کې ده ، نوپه کوم هيواد کې چې اسلامي شريعت نافذوي ، ديني احکامات جاري وي ، نوهلته لکه دعصري علومو چې په ملکي چاروکې ضرورت وي ، همداسې په دولتي چارو کې دديني علم ارتيا وي ،تاسوګورئ ! ترڅه وخته چې په نړۍ کې اسلامي شريعت حاکم و اوديني علوم په وده کې وو هغه مهال دينا دامن اوسلامتي يو کلی اوګورو ، اوڅه وقت چې له ديني تعليم څخه خلقو دنياوي تعليماتو ته مخ واړول نوله هماغي ورځې دنيا په دول دول کړاونواو مشکلاتو کې اخته شوي ،

څلورم : دا چې ديني تعليم دديني امورو لپاره ده ،لهذا له يوه عالم څخه دډاکټر کار اخستل يا له يوه عالم څخه دانجينري دکار طمعه کول يونامعقول فکر دی .

پوښتنه: تاسو دغه ځوانانو علماؤ ته ددارالافتاء اوتخصصاتو دمزيد تعليم په اړه همدارا ز دکمپيوتر اونورو عصري وسائلو داستعمال اوله هغوئ څخه داسفتادې په اړه څه نظرلرئ ؟

جواب : له يوي خوا اسلامي امت اوپه ځانګړي ډول اسلامي امارت ،اودديني علماوو تولنه مسئوليت لري چې بايدخپلوتولنواوهم نړۍ ته داسې رښتوني علماء وراندي کړي چې هغوئ نه يوازې داچې ديني علماء وي بلکه دهغوئ ډيراستعدادونه په کارلويدلي اودلوړوديني زده کړوڅښتنان وي ، بلکه هغوئ بايد دفقهي ،حديث ،تفسير ،سيرت ،اقتصاد ،تاريخ ،دعوت ،........ اوآن ترصحافت اوکمپيوتر پوري په دې علومو کې پوه اوتجربه ترلاسه کړي ، افغانان په عموم کې دتولو علومو اوپه ځانګړي ډول بياددديني علومو ښه استعدادونه لري ، کولای شي په لږه موده کې دغه عمل په ډيرساده اوآسانه طريقه سرته ورسوي ، هغوئ دي دارالافتاؤ ته مخه کړي ، تخصصات دي وکړي ، اوددعوت اوجهادپه اړه دي له مهمو معاصرو وسائلو سره ځان اشنا کړي .

اوبل پلوه ته داسلام اومسلمانانو دښمنانو په موږ له کنو لورو يرغلونه کړي ، مثلا دهغوئ يرغل يوازې په نظامي برخه کې نه دی هغوئ دتبليغاتو ،مطبوعاتو اورسنيو په جګړو ډيره خواري کښلې ، اوله دې لارې چې هغوئ کوم نسلونه خرابوي ياملتونه تسخيره وي اوخپلو اهدافوته ځان رسوي هغومره په نظامي جګړه کې نشي ترلاسه کولای ، نو فرض ګڼم چې بايد زموږ علماء اوفارغان ويښ شي اوله کوموعلومو او وسائلونه چې ددښمن په مبارزه کې استفتاده کيدلای شي هغه دعصر مطابق زده کړي ، اوبياورڅخه عملا استفاده وکړي .

پوښتنه : تاسو په عمومي ډول هغو فارغانو ته چې ديرکلونه يې خپلې هيلې ته په رسيدو تيرکړي اوبالاخرة اوس خپل هدفته رسيدلي اوله دې وروسته به خپلو سيمو ته ستنيږي څه توصيې کوئ؟ .

جواب: دغه فارغانو زموږ توصيه داده : چې دوئ بايد دغه لاندې خوخبري ښه په غور سره ولولي : اوبياعمل پرې وکړي ،

اول: داچې ستاسو په وړاندې اوس څومسئوليتونه دي : لمړی داچې : تاسو چې کلي ته ستنيږئ نودپيغمبرصلی الله عليه وسلم ديوه وارث ، اوخليفه ، په څېرستنيږئ نوپه تاسوکې به دکړي علم عملي بڼه څرگنده وي او ځان به موپه سنت طريقه برابرکړی وي ،

دوهم داچې تاسو دخپل دي اوږده سزل په ترڅ کې يومسئوليت سره ته ورسول چې لوی خدای جل جلاله يې په اړه فرمايي : [فلولا نفرمن کل فرقة منهم طائفة ليتفقهو في الدين] نواوس مو دوهم مکلفيت دی چې [ولينذروا قومهم اذا رجعوا اليهم].

دريم :کيدی شي له تاسو څخه ځينې په بيلابيلومسئوليتونو مصروف شئ مثلا : امامت ، درس تدريس ، جهاد ، اوداسې نور....... نو ترهرڅه وړاندې دخپل علمي حيثيت فکر وکړئ . اوځرنگه چې اوس دپيغمبرصلی الله عليه وسلم ديوه وارث په ډول يوې ټولنې او قوم ته ورځئ ،نو دابن مسعود رض دغه توصيه به ټينګه په غوږ کې نيسئ چې وايي : که علماء دعلم ساتنه وکړي ،په دې ډول چې ځان دخلقو په وړاندې له ذلة څخه وژغوري ،دظالمانو اواهل الدنيا صحبت ايله کړي ،دهغوئ دمال اواسبابو اسره ونه کړي ،اودعلماؤ سره حسدبريږدي ،اوخلقوته دهمدغه علم له لارې ددين په رسولو کې زيار وباسي ،اوهغه خلق چې همدې ديني پوهې ته اړتيا لري هغوئ ته ددين احکام اومسائل ورسوي ،نولوی خدای به يې دخلقو په زړونو کې محبوب وگرزوي ،خلق به يې په خبره اعتماد کوي،خبرو ته به يې غوږ نيسي- اوبيابه عمل وربانډې کوي ، اوله دې سره به دين دخلقو په زړونو کې ځای ونيسي اوهغوئ به داسلام دين ته رجوع وکړي .

اوکه داسې ونه کړي بلکه علم ددنيا دلاس ته راوړلو لپاره داهل الدنيا قرباني کړي ،نودخلقو په وړاندې به بې قدره وي ،په خلقوبه درانه وي ، اوهدف ته به ونه رسيږي . اوبياابن مسعود رض وويل : ماستاسوله نبي صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې ويل يې :څوک [کوم عالم] چې ددنيا چارې ايله کړي ،اوداخرة په فکر کې شي ، نوددنيادچارو به يې لوی خدای جل جلاله خپله کفايت وکړي ،يعنې دنيا به يې هم ورسمه کړي اوڅوک [کوم عالم]چې ځان ددنيا په چارو کې لگياه کړي اوخپل ژوند ددنيادلاس ته راوړلو په بيلابيلو لاروکې مصروف کړي ، نولوی خدای په وړاندې به هيڅ حيثيت ونه لري ،اونه به درحمت په نظرورته وگوري ؛ بلکه چې وغواړي نوددنيادلتون په يوه دره کې به يې هلاک کړي.
[مرقات کتاب العلم]

...لا سوځي مغز

اوریدلي مې و، خولیدلي نه ، چې دامریکا دوستي له دښمنۍ بدتره بده ده! په دا وروستیو کې مې دامریکا په کانګرس کې چې کله داشرف غني وینا ته دکانګرس دغړو چکچک ولید، نو دامریکا پخواني یار او دوست حامد کرزی را یاد شو، یوخت و چې نوموړی دهر امریکایي دسترګو تور او دزړه مهلم و، او ور ته به د کانګرس دماني دننه کانګرسیانو چکچک کاو... لاړ، هغه وخت هم تیر شو...

خو دامریکا د دوستانو لپاره د کرزی سرنوشت خورونکی اوخواشینوونکی ضرور دی! چې آخر دامریکا دوستي ښه پای او ښه انجام نلري!! دایران له پخواني پاچا(رضاشاه پهلوی)نه دعراق تر صدام حسین او دافغانستان تر پروني کرزي یو وخت ټول دامریکا نیږدي دوستان وو! چې په آخر کې دهمدې دوستۍ تراخه غوړپ کړل.... !!

دا خبره ریښتیا اوسمه ده چې دامریکا د دوستۍ نه دهغې دښمني زرکرته شرف لري... ځکه په آخر کې امریکا خپل دوستانو په وژلو، رټلو،شړلو او شرمولو بریګ نه نیسي..... چې هرکله هم دوستانه دوره پای ته ورسي د ماشین بیکاره پرزه ترینه جوړه شي د امریکا قهر اوغضب لینده پري خینه شي.

حامد کرزي خو امریکایانو ته دومره منلی و، چې په ټوله اروپا او امریکا کې به په سترو القابو بدرګه کېده غوړو چړیو نومونو به ستایل کیده! داروپا او امریکا پارلمانو نو ته دویناوو لپاره و بلل شو! د خپل هېواد او خلکو سره دخیانت او جفا کولو په بدل کې ورته په سینه دزړورتیا اوقهرماني مډالونه یې تومبل، نړیوالي میډیا له لاري دکامیاب، مدبراو هوښیار سیاست پوه په توګه معرفي شو، خویو وخت راغی چې د کرزي جنایتونه او دهغه لخوا دخپل ولس ناځوانمردانه کړو وره نشوای پټیدلی، ولس نور په نه تیروت، کرغېړنه او غلامه څېره ملت ته بربنډه شوه، امریکادرکړه چې نور کرزی ددوی ګټې نشي خوندي کولی، ژرېې دده د بدیل پیداکولو پسې شو، ورته خپل پخواني ګوډاګی (اشرف غني) موزون شکاره شو، نو سملاسي یې دهغه په ستایلو او صفتونو شروع وکړه، هغه نابغه ونوماو! دنړۍ په نوموتو پوهانو اومفکرانو کې یې شمار کړ، داچې اشرف غني ته دخبرو او وینا کولو سمه سلیقه هم نه ورزي، هغه له اسلامي معلوماتو سره یومخ نابلد او جاهل دی په دې سره ساده لوح افغانانو محسوس کړه چې دی که ندی بس اشرف غني دی کرزی څه و؟ سری خو دغه دی ... چې دنړۍ په نوموتو پوهانو کې حسابیږي...؟

لنده داچې امریکا اشرف غني دکرزي دبدیل په حیث راوست په غلامۍ کې ریښتیا دکرزي نه لس واره نابغه وخوت ؟امریکا سره یې دافغانستان دمستعمره کولو

تور سند امضاء کړ،او چې هر چېرې د امریکا په خوله خبرې کوي،دامریکایي چارواکو دخولو نه وتلي توري من اوعن یادوي او چې هر ځای ته په سفر ځي ، هلته هم سبق او هم هغه توري زوتوي!نړیوال دحیرانتیاد په بنسودو پوښتنه کوي هغه دا نابغه اومفکردي چې دنړۍ د نوموتو مفکرانو نه یودی؟ هغوی اندیښنه ښکاره کوي، که ټول نوموتي مفکران داسې وي لکه دی،نو دنړۍ دې خدای مل شي!خو هغوی خوراکیانوته نده معلومه چې دنړۍ په کومونوموتو مفکرانو کې چې اشرف غني حسابیږي، هغوی هغه دربنتیاوو مفکران ندي، څوک چې ربنتیا هم دصلاحیتونو په درلودو دغه ځای ته رسیدلي دي، بلکې اشرف غني چې دکومو په کتار کې ځای لري هغوی هغه دي چې دامریکا په غلامۍ کې یې دمفکرتوب ترفیع ګانې ترلاسه کړې دي، نو په ربنتیا اشرف غني ددغسې مفکرانو سرخیل دی، دهغوی دآخر او دمنځ نه بلکې دهغوی دسر سړی دی، چې دګوډاګیتوب میکروب او نحوست نه یواځې په وینه کې ګډ دی بلکې په اخلاقو او عادتونو کې سرایت کړی دی، په هیڅ یوځای او غونډه کې دامریکافرمایشونه له خولې نه

غورځوي، که څوک باور نلري، پخپله دامریکا کانګرس ته دهغه دوینا لاندې ټکیوته ځیر شئ:

افغانستان کې امریکایي عسکرو لوی خدمتونه اوسترې قرباني ورکړې.

دامریکا او افغانستان دقربانیو په وجه نن امریکا خوندي ده

دترهګرۍ په ځیلو کې داسلامي هیوادونو چوپتیا له زغم وتلې ده

طالبان باید پرېکړه وکړي چې دوی القاعده دي که افغانان... داساسي قانون په منلو او دمذاکراتو له لارې افغاني تولنې ته راوګرځي...

هر سړی چې خبرونه اوري میډیا تعقیبوي، فکر نه کوم چې هغه دې دامریکا دیرغل له پیل راهیسې په کراتو مراتو پورته شعاري خبرې دامریکایي چارواکو له قوله په مطبوعاتو اورسنیوکې نه وي اوریدلي!نو ایا داسې یوشخص چې هغه دوینا ترحده ازادي ونلري، هرځای چې کینې اویاځي امریکایي شعارونه زوتوي هغه ته دخپلواک نسبت کول یا دیو ازاد ملت رهبر ګڼل دهغه هیواد او ملت سپکاوی ندی؟

باید مونږ افغانان نور لږ هوښیار شو، په پټو سترګو دیو چا ترشاه لاړنشو، یوڅوک ربانډې په پټو سترګو مفکر او نابغه ونه ټپي!ادهر چا دکردار اوګفتار موازنه سره وکړو، چې څومره دوینا او عمل ترحده په افغانیت او اسلام مین دی، دمیډیا په پرو پاګند پسې لاړنشو، لږ دهغه په اړه خپل ضمیر او وجدان هم وپوښتو، چې ایا دکافرغلام څنګه دمسلمان افغان لپاره خیرغوښتونکی او نجات رسونکی کیدای شي؟نن چې اشرف غني دامریکا یانو دخولو دانکل کوي چې [دامریکا عسکرو په افغانستان کېلوی خدمتونه او قرباني ورکړي] ایا داحقیقت لري، کوم دایمان او افغانیت نه محروم تن به دامریکا وحشتونه او ستمونه خدمتونه وبولي؟!

څکه امریکایانو په افغانانودظلمونو او وحشتونو دومره درانه غرونه نړولي چې هغه په ټول بشري تاریخ کې ساری نلري! ټول افغانستان یې لوټه لوټه کړ، ترټولودرانه بمونه یې وکارول، کیمیاوي وسلې یې استعمال کړې... ، سلګونه مدرسې - جوماتونه - روغتونونه او زرګونه کورونه ړنګ کړل، دکرهڼې زمکې وچې شاړې کړې، زندانو نو کې بندیانو ته یې جسماني او روحاني

ادیتونه ورسول، د هغوی دبدن
غړي یې پریکړ کړل دعظیم الشان
قرآن نسخې یې په چټلیو اوپلیتیو
کې واچولې په شهیدو جسدونو
یې متیازې وکړې پت منې میرمنې
یې بې پته کړې په شپینیو
عملیاتو کې یې دخلکو د حیا
اوستر دیوا لونه ونړول، کوچنیان
یې په سپیو وداړل له یولک نه زیات
خلک یې شهیدان کړل په لکونو نور
یې ټپیان کړل د اشرف غني په
وینا: دا گردخدمتونه دي؟ افسوس
په هغه مړه وجدان او مړه ضمیر
چې هغه بیا داشرف غني
جنایتونه ، جنایتونه نه بولي، دهغه
خیانتونو ته خیانتونه نه وایي او
یاهغه ته دیو اصیل افغان په سترگه
گوري!

دا ویل یې چې [د امریکا او
افغانستان دقربانیو په وجه امریکا
خوندي ده!] امریکا غوښتل دخپل
گوداکي په لاس دامریکا دخلکو په
سترگو کې خاورې واچوي، کنه!
حقیقت دادی چې امریکا تر
هروخت اوس له جدي ننگونو او
گواښونو سره لاس اوگرېوان ده، چې
له امله یې خوندي نه؛ بلکې دزوال
دگواښوسره مواجه ده، افغانستان
کې دخوارلس کاله جنگ وروسته
دیام ور لاسته راوړنې نلري،
افغانستان کې نن هم داسلامي
امارت په رهبري کې مجاهدین پراخ
اوفعال شتون لري، چې دوامدار او
هره ورځ په امریکایي عسکرو منظم او
دقیق بریدونه کوي، هم په نوره نړۍ
کې دامریکا داستعماري په پالیسیو
پرضد په ولسونو او خلکو کې
دوښتابه څپه راپورته شوې ،
امریکایي وگړي په ټوله نړۍ مصؤن
ندي، هیڅ هیوادته په خلاصو پښو
نشي‌تلای، په جنگونو دسلگونه
تریلیون بالرو لگولو یې اقتصاد
دزوال په مورگه درولی، پخپله وینا
یې [افغانستان کې له پنځو س زره
نه دزیاتو عسکر وته مرگ ژوبله
اوښتل]هغه رانه واقعیتونه دي چې
ښکاره دي پټیدای نشي

په خاصه توگه اسلامي نړۍ
کې خو امریکا یانو خپل ټول
اعتبار له لاسه ورکړی دی، په زیاترو
اسلامي هیوادو کې امریکا پلوي
حکومتو نه دستونزو سره مخ دي،
داسلامي هیوادو په ځوانانو کې
امریکایي ضد احساسات مخ په
زیاتید ودي او دامریکا نه نفرت کوي.

داشرف غني په خوله
افغاني ټولنې ته دطالبانو بلنه ، هم
کټ مټ دامریکا یې چارواکو
دخولې نقل دی [طالبان دې
افغانان شي] فکر کوم دابه دا
فغانیت پورې د خندا او سپکاوي
مرادف عمل وي،چې امریکا ددې
واک ولري، چې هغه څوک افغان
گرځوي هغه به افغان وي، او چې
چاته هغه افغان نه وایي، هغه به نه
وي افغان! کنه دزمکې په مخ که
سهي او ریښتیني افغانان دي ، هغه
طالبان دي،زکه طالبان پخپلو
لباسونو، خبرو، عادتونو او
اخلاقو د افغاني ارزښتونو نماینده
گې کوي بلکې اشرف غني دشکل
،صورت او اخلاقو له پلوه دافغانیت
استازیتوب نشي‌ کولی بل طالبان
دشکل اوصورت پشان فکر او ذهن
یې هم افغاني دی هرچې اشرف
غني دی نه هغه دشکل اوصورت له
پلوه افغان ښکاري او نه دفکر او
ایدیا له پلوه دافغانانو سره ورته
والی لري ، نوښکاري چې ورته
خپلو بادارانو خطاء سبق ښودلی
دی په افغاني ټولنه کې داشرف
غني ناسته ولاړه، خبرې اترې
دافغاني ټولنې دمزاج سره سمون
نلري، اودطالبانو ژوند او
اجتماعي برخورد دافغاني مزاج
نماینده برخورد دی

هم داشان دطالبانو په صف
کې یوتن به هم دبهرني تابعیت نه
برخمن نه وي، هرچې اشرف غني
دی ، دده کابینه، حکومت ،پارلمان
والیان اوقومندانان ترځوکیداره ټول
دوگانه او سه گانه تابعیتونولري !
نو اول دی بایدځان افغان کړي
بیا خپله کابینه، پارلمان او والیان
افغاني ټولنې ته ور وبولي بیا
طالبان ؛ .....

سجاد

کرکټ دچالوبه؟ او دچالخوا؟

د دویم نړیوال جنګ نه وړاندې په ۱۹۳۸زکې دجرمنې د کرکټ ملي لوبډله چې په ټوله اروپا کې لومړۍ پیاوړې لوبډله وه، هټلرچې کله د جرمنې واک ترلاسه کړ، هغه مهال دجرمنې اوفرانسې ترمنځ دکرکټ لوبې په سر سیالې روانه وه، هټلر ته دلوبې دلیدو بلنه ورکړل شوه، هټلر بلنه اومنله، دلوبې کتو لپاره لوبغالي ته ورغی، لوبه پیل شوه، لوبه په ښه جوش سره روانه وه،تردې چې ماښام شو، هټلر یې له لیدوپه تنګ شو،د ماښام وروسته لوبه دڅه خند لپاره تم کړای شوه، دلوبډلې له مشره یې وپوښتل څوک بریالی شو؟ هغه ورته وویل: جنابه لا خو لوبه پیل شوه، لوبه به روانه وي، دکامیابۍ او ناکامۍ پرېکړه به څلور ورځې وروسته کېږي، دهټلرمخ د غوسې تک سور شو او په لوړ غږ یې وپوښتل: داڅنګه لوبه ده، چې کتونکي توله ورځ له کارونو وباسي؟ بیا سباهم نه؛ بل سبا هم نه؛ ایله په څلورمه ورځ به دکامیابۍ او ناکامۍ نتیجه راوځي؟بند کړئ! ژر ترژره داخرافت بند کړئ!هټلر له لوبغالي روان شو؛ په کرکټ باندې جرمنې کې په هم هغه ورځ بندیز پلی شو، بیا هغه ورځ شوه ترننه بیا چا په جرمنې کې دکرکټ لوبډله جوړه نکړه!!

ددهم نړیوال جنګ پر مهال دامریکا ولسمشر- "روز ویلټ" هم د کرکټ لوبه د وخت ضایع کونکې لوبې په بللو وربانـدې بندیز ولګاوه، دهغه په وینا:دکرکټ پشان لوبه دقوم د پرمختګ په وړاندې خند کېږي،وربانـدې بندیز لګول پکاردي،د "روز ویلټ" په اند:دا یوه ډېره سسته او اوږده لوبه ده، چې بخپلو کتونکو بده اغېزه کوي،خلک مصروفوي، له دې وجې که امریکا ترقې غواړي، باید ددغه ډول لوبوڅخه لرې اووسي.

دهند نیمي وچې ته کرکټ لوبه له انګریزانو سره یوځای راغله، هغوی دهند په اووه لویو ښارونو کې لوبغالي تعمیر کړل، په هغوکې یې دهندوستان "راجګان اومهاراجګان" په کرکټ مصروف کړل، هغوی پخپل منځ کې جلا، جلا لوبډلې جوړې کړې، البته دعامو خلکو ترمنځ کرکټ ځای پیدا نکړ، یواځې د راجګانو او مهاراجګانو لوبډلو ترمنځو سیالی کېدې، نورو خلکو ورته ډېره پاملرنه نه کوله، هند دنیمې وچې تر ویشل پورې کرکټ لوبه په عامه توګه ډېر نه وه دود شوې، چې ددې نه دود کېدو څو جوهات وو، یو دا چې کرکټ ډېره اوږده لوبه ده، چې پکې د۱۴،۱۵ لوبغاړو ترڅنګ په سلګونو او زرګونو کتونکي او تندارچیان هم اړدي چې تر ساعتونووساعتونو پورې په سخته ګرمې اوتپ کې هم کتلو ته یې کیني، ولې دهند په ګرمه هوا کې وسپنه هم ویلی کېږي، له دې وجې هلته ترنهو میاشتو پورې دا لوبه کول ناشونې وه، دایواځې هندوستان نه بلکې نېږدې د ټولې درېیمې نړۍ لپاره کرکټ موزون لوبه نه وه،په ځینو هېوادونو کې موسم ورته مناسب نه و، په ځینو کې اقتصادي ستونزې یې په وړاندې خند وې، ددې په نسبت نورې لوبې لکه فټ بال او ولي بال تېزې او ژرپای ته رسیدونکي لوبې دي؛ اوس پوښتنه داده چې کرکټ څنګه دومره ناڅاپه او ژر دنړیوالي لوبې مقام ترلاسه کړ؟او څنګه دهند نیمې وچې د هېوادونو ملي لوبه وګرځیده؟ ددې ترشاه دنړیوالو کمپنیانو لاس شته، ددویم نړیوال جنګ وروسته نړۍ دنړیوالو کمپنیو لاسو ته

ولوېده، هغوی دټولې نړی ژبه، ثقافت او دژوند طرز ته تغیرور کړ، دهغوی په خوښه کرکټ دنړی یواځینی لوبه وګرځیده، چې په کې زیاتره اعلانات خپرېږي، دایوداسې لوبه ده چې په نړی کې ترهرې لوبې زیات کتونکي اونندارچیان لري، او داسې نندارچیان چې په هر لوبغالي کې هغوی ناست وي، یا دتلویزونو مخې ته ناست وي هغوی ترپایه دلوبې له کتلو پرته نه پورته کېږي ، دیته په پام نړیوالو کمپنیو دکرکټ دپالنې چارې پخپلو لاس کې واخیستې، په دربیمه نړی کې دکرکټ پیژندګلوی لپاره یې دخپلو کڅوړو خولې بیرته کړي، دغو کمپینو لوې لوې لوبې پیل کړي، داد فلانی جام لوبه شروع کېدونکی دی! د د افلاني جام کټلو لوبه روانه ده! په دې لوبو کې درانه درانه انعامات ټاکی ،هره ډله چې بریالیتوب ترلاسه کوي، غړي یې په یوه ورځ کې دننه ملیونران ګرځي، کوم توپ اچونکی چې شهرت ومومي، نړیوالې کمپنۍ ورسره دخپلو مصنوعاتو دمشهورولو تړون کوي، کوم توپ وهونکي چې شهرت ترلاسه کړي، د هغوی انځورونه دفلاني صابون، فلانی شامپو، اوفلانی مشروب په اعلاناتو کې راځي، دالړی مخ په وړاندې درومي، خوبیا هم دکمپنیو حرص ختم نشو، هغو محسوسه کړه چې ددوی دکتهو اوس نور هم ګنجایش شته دی، هغوی دلوبغاړو په سینو دخپلو کمپنیو مونوګرامونه تومبل شروع کړل، ور ته مخصوص دول خولی یې په سرکړې، تردې چې کمپینو خپل کالي اوچپلی

ورواغوستي، لیکن بیا هم ماړه نشوي، نو ددې وروسته یې په لوبغاړو باندې پانګونه پیل کړه، هغوی دټولې لوبډلې پیرلو کار پیل کړ، اوس مهال دا حالت دی چې پوره پوره لوبډلې دنړیوالو کمپنیو له لوري اخستل شوي، داعلاناتو ته دخند ترلاسه کولو لپاره کمپنی ملیاردونه ډالرلګوي.

کمپنی توپ اچونکي ته دخښتني لپاره اجوره اوعوض ورکوي،هرکله چې هغه دتوپ اچولو لپاره ځي؛ هغه باید له دومره تېزې(استپس) کار وا خلي، هغه دهرتوپ اچولو لپاره ځي باید دومره څنډ تیر کړي؟ باید هغه کله نوبال ورکړي؟ اوکوم وخت چې ویکټې ته نیږدې رسي دتوپ اچولو پرته بیرته ستون شي؟ دتوپ اچونکي سره دهمداسې یوې هوکړې له مخې اعلانات ترتیبوي، اوعین په هم هغه وخت کې یې دکتونکو سترګوته مخکې مخکې کوي کله چې هغوی خپلې سترګې دتلویزون په پرده کلکې خښې کړی وي.

په کرکټ کې دقمار وهنې یوه نوې لړی دود شوې، هغه هم ددغوکمپنیو لخوا پیل شوېده، بمبئي کې څوتنو قماربازانو چې ورته په خپلې ژبه" بکې" ویل

کېږي، ترټولو اول په لوبوکې قمار وهل دود کړل، هغوی د لوبو او لوبغاړو په سر شرطونه تړل پیل کړل،چې دشکست خوړونکي به یې پیسې وصولولې او ګټونکوته به یې ورکولې، په منځ کې دلالانو به تري کمیشن وضع کاو، داکار مخکې لاړ، دلوبغاړو سره یې مخامخ اړیکې نیول پیل کړل، هغوی ددې لپاره چمتوکول چې د څومره عوض په بدل کې فلانی کیچ پریږدي؛ مونږ دهغه عوض اداء کولوته تیاریو!یا که فلانی، فلانی توپ کمزوری غورځوي؛ دومره عوض درکوو! په فلاني توپ که شپږیزه یا څلورېزه ووهي... په کومه لوبه کې کومه لوبډله څومره سکور ترلاسه کړي؟ کومه لوبډله به دجام کټونکې وي اوکومه بایلونکې وې؟ هغسې نتایج جوړوي! داخلک به دې توګه ملیاردونه ډالرترلاسه کوي! چې دهغو نه یوه غوړه برخه مرسته کوونکو لوبغاړو ته ورکوي!په څوکلونو کې داکاروبار له بمبئي نه نورې نړی ته خورشو، "بکیو" په هره لوبه کې نوی تجارت دود کړ، تردې پورې چې اوس مهال په لومړی پچه کټلو پوله بله شرطونه تړل کېږي!

ددې مخنيوي لپاره د"اسکينډل" په نوم ګڼې دوسيې جوړې شوې، ګڼ شمېر لوبغاړو ته سزاګانې ورکړل شوې، خو بيا هم يکې کوم بدلون رانغی، او نه په دغه کاروبار باندې بنديز ولګول شو، پخپله سوچ وکړئ څوک به يې بند کړي؟ په څو ساعتونو کې مليارډونه ډالر اخوا ديخوا کيږي، يا څوک شته ددې کاروبار مخنيوی وکړي؟ ان تردې پورې چې په څو هېوادونو کې کرکټ کې د قمارولو پرضد قوانين جوړ کړای شول ليکن داهرڅه عبث لاړل، اونه تراوسه څوک يې په مخنيوي کې کامياب شوي دي؟

نن سبا دکرکټ هره لوبه د مليونو اومليارډونو ډالرو په بيه پلور ل کيږي، هره لوبيدونکي لوبدله، که څه هم تر يو هېواد پورې منسوب وي، خو په حقيقت کې دهرې لوبدلې په روزنه، پالنه او پرمختګ کې نړيوالې سوداګريزې کمپنۍ ستر لاس اولويه ونده لري، هغوی وربانديې دسوداګرېزو موخو لپاره هر کال پريمانه پانګونه کوي، اودهرې لوبدلې دننه تکړه او وتلي لوبغاړي په ګوته کوي، هرکله چې لوبه پيلېږي دهغې ترمخه کمپنۍ توپ اچونکي او توپ وهونکي پخپل اعتماد کې اخلي؛ هغوی ته مختلف لالچونه ورکوي؛ هغوی قانع کوي چې څنګه فلانی "کيچ توپ" ونه نيسي؟ څنګه فلانی توپ کمزوری وغورځوي؟ تاسې خپله فکر وکړئ! چې کله نړيوالې کمپنۍ يوکال وروسته يو توپ اچونکي ته، دتوپ اچولو د" ۲۰قدمه" استارت اخيستو معاوضه يو لک ډالر ورکوي او دقمار وهنې بله ډله د"۲۰ "په ځای د"۱۶قدمه" اخيستو عوض يونيم لک ډالر ورکوي؛ نوبه دې به حالت کې به څنګه يولوبغاړی واقعاً دتفريح په غرض دلالچ پرته لوبې ته زړه ښه کړي اوهغه به ددغه سوداګريز کشمکش ځان خوندي پاته کړي ؟

لنډه داچې کرکټ لوبه دنړيوالو سوداګريزو کمپنيو او نړيوالو قمار وهونکو دسوداګرۍ لوبه ده؛ هغوی دخپلو ګټو وټو لپاره ورته بيلابېلو نومونه غوره کوي! او د بيرته پاته هېوادونوترمنځ دسياليو په نامه دهغو هېوادونو دخلکو دجيبونو څخه په مليارډونو پيسې-ترلاسه کوي، هلته په يو اوبل نوم لوبدلې جوړوي ، اوله لارې يې مليارډونه ډالر پيدا کوي.

افغانستان کې کرکټ هيڅ کومه سابقه نلري، افغانانو ورسره علاقه نه درلوده ، په دې چې هندوستان کرکټ لوبه دانګريز دراتلوسره هم مهال راغلې وه، افغانانو دانګريزانو نه دنفرت په کولو دهغوی دلوبې نه هم نفرت کاو، ليکن ديوولسم ستمبر وروسته چې امريکا په افغانستان باندې حمله وکړه ، دهغه را وروسته افغانستان کې دافغانانو دعامه اذهانو مصروفولو پخاطر کرکټ لوبې ته پاملرنه زياته شوه اوتردې مهاله افغانستان دنړيوال جامو لوبوته ته هم لار مندلې او افغانستان هم دهغو هېوادونو په ډله کې ورګډ کړای شو کوم چې دکرکټ ملي لوبدلې لري او د درېيمې نړۍ دنورو هېوادونو پشان افغانان يې هم په دې ساري ناروغۍ مبتلی کړل، نن ورځ هر ځوان دهمدې لوبې جنونيت په سيند لاهو شوی دی، حال داچې کرکټ لوبه دنړۍ بډای او پرمختللي هېوادونه نه خوښوي، هغوی دکرکټ لوبدلې نلري، بېله مثال يې امريکا دی امريکا دکرکټ ملي لوبدله نلري، بل چين دی هغه هم دکرکټ لوبدله نلري،هم دا راز چاپان هم دکرکټ لوبدله نلري، داسې نور مترقي ولسونه او هېوادونه شول يواځې دنړۍ خوار اوبيرته پاتې هېوادونه په دې ګنده ناروغۍ اخته دي، بل دالوبه په هغو هېوادونو کې سابقه لري کوم چې دبرتانوي امپراطورۍ دبرتانيې مستعمره پاته دي، په کومو چې انګريزانو اوده زمانه باداري کړې هلته مينوال لري هر چې افغانستان دی له هغو هېوادونه دی چې دانګريزانو مستعمره نده پاتې. نه پوهېږو چې اخرولې افغانان د انګريزانو ددې لوبې سره دومره زياته علاقمندي ښيي چې نن دهر ځوان او بوډا ټول کسب و کارپاتې دی او ټول ددې بدمرغه لوبې ليدو ته ناست دي.....؟

د تقليدي او انتقامي جهاد په ځاى

بايد شعوري جهاد وکړو.

مرکه کوونکی: أبوعابد

مولوي عبيدالله رقيب

درنو لوستونکو!

د مياشتنيو مرکو په سلسله کې مو دا ځل د مبارزې او جهاد د ډگر د يوه گمنام خو وياړمن او ايثارگر مجاهد دروازه ورټکولې او د يوه عام مجاهد او مبارز له موقفه مو د نوموړي د زړه غږ اوريدلی.

دغه مجاهد مولوي عبيدالله رقيب دی، د علم د ډگر ممتاز عالم،د مسلح جهاد د سنگر ايثارگر مجاهد او زخمي او همدا اوس د فکري او نشراتي جهاد د ډگر بادرکه او مقاوم مبارز.

عبيدالله رقيب صاحب هغه څوک دی چې د جهادي مبارزې په اوږدو کې د زخمي کيدو او عصبي رشتو د غوڅيدو له امله يې تر نيمايي زيات بدن مکمل فلج شوی،خو زړه او د مبارزې روحيه يې لا هم ژوندۍ ده، داسې ژوندۍ چې حتی تر صحتمندو انسانانو په عالي روحيه د الله تعالی ددين خدمت کوي او د تدريس، جهاد او انلاين نشراتي جهاد په برخه کې خپلې مبارزې ته دوام ورکوي

د رقيب صاحب مفلوج بدن خو عالي روحيه سړي ته هماغه د شاعر خبره وريادوي چې د امت په دغه شان رښتينو زامنو صدق کوي هغه چې وايي:

واذا كانت النفوس عظاما   تعبت فى مرادها الأجسام

راځئ د جهاد د ډگر د غازيانو ، زخميانو او معلولو اتلانو په نمايندگۍ رقيب صاحب ته غوږ شو چې څه رالوروي.

پوښتنه

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته

ښاغلی رقيب صاحب ! تاسو ته هرکلی وايو که له هرڅه وړاندې زموږ لوستونکو ته ځان ورمعرفي کړئ ؟

ځواب

الحمد لأهله والصلوة على أهلها وعليكم السلام ورحمة الله وبركاته

زياته مننه کوم چې د غږ په رسولو کې راسره مرسته کوئ، خواله راسره کوئ، او ارمان ته مې انعکاس ورکوئ. زما نوم عبيدالله رقيب د شهيد مولوي عبدالرحيم صاحبزاده تقبله الله زوی يم ،د پکتيکا د خوشامند ولسوالۍ د مامورخيلو د کلي اوسيدونکی يم، په ۱۳۷۲ هش کې د هجرت په کلي قمردين کاريز زړي ډگري کې دنيا ته راغلی يم

في الحال د احياء المدارس په نوم ليليه مدرسه لرم، دا مدرسه څلوېښت داخلي او پينځه لس خارجي شاګردان لري چي زما په شمول څلور استاذان درسونه ورکوي پدې مدرسه کي له ابتدائيه تر ثانيه پوري څلور درجې لرو.

پوښتنه

ستاسو د ژوند ډېره برخه په ديني تعليم او جهاد کې تيره شوې که لږ مو په تعليمي او جهادي سلسله هم رڼا واچوئ، څومره زده کړې مو کړې او جهاد کې مو څه وخت او چيرته شرکت کړی؟

ځواب

د نيم کال وم چي پلار مې له روسي يرغلګرو سره په جهاد کي شهيد شو ديارلس کاله مې په خپل کور کي د خپلې خورې مور، مشر تره او مشرانو ورونو تر سرپرستۍ لاندي تير کړل د کور کارونه مې کول ميږي او وري مې پوول، ور سره مې له خپلي ترور او مشر ورور نه ابتدائي سبقان ووېل او په کليوال مکتب کي مې تر څلورم صنف پوري زده کړه وکړه

د ديارلس کالو وم چي مشر ورور مې د ديني علم د زده کولو په منظور د سفر توصيه راته وکړه يوولس کاله مې د غزني پکتيکا او د پاکستان د ډيره اسماعيل خان او کوئيټې په مختلفو مدرسو کي مسلسلې زده کړې وکړې دوولسم کال په ۲۰۰۸م کي مې د بلوچستان په چمن په الجامعة الاسلامية مدرسه کې له علامه شيخ الحديث عبدالغني صاحب رحمه الله سره د پينځه سوه فاضلانو ترڅنګ د احاديثو دوره وکړه او د ممتاز په صفت مې سند تر لاسه کړ

د تعلم په دوران کي مې هيڅ مصروفيت نه لرل او نه مې وخت ورکول اما کله چي په افغانستان د امريکا تر مشرۍ لاندي صليبي يرغل زور واخيست او زموږ پاکه خاوره يې غصب کړه ما هم په خپل کلني تقسيم الاوقات کي يوه برخه وسلوال جهاد ته ځانګړې کړه کله چي به مې د کال روان کتابونه خلاص شو نو لدې مخکي چي نور کتابونه شروع کړم د مجاهدينو په تشکيل کي به مې د نوبت په اساس ونده اخيسته، د تعلم او جهاد ترمنځ مې خالي وخت نه تيرول چي له دوه مياشتني تشکيل نه به کور ته راغلم نو فقط يوه يا دوه شپې به مې استراحت کول او بيا به مدرسې ته تلم، جهاد مې د افغانستان د اسلامي امارت په صف کي د پکتيکا په خوشامند ولسوالي کي د خپل مشر ورور شهيد حبيب الرحمن صابر (تقبله الله) تر قيادت لاندي کول

پوښتنه

ستاسو د زخمي کيدو پيښه څنګه وه که په اړه يې کيسه راته وکړئ او څنګه زخمي شوئ؟

ځواب

له دستار بندي قريبا دوه هفتې وروسته جهاد ته لاړم يوه مياشت وروسته زما او زما د مشر ورور شهيد صابر ودونه وشول د ودونو په دريمه ورځ چي موږ کورته لا نه وو راغلي د امريکايانو د يوه غټ اکمالاتي کاروان خبر راغی چي د خوشامند کمپاين ته راروان وو شهيد صابر د پلان له مخي مجاهدين راټول کړل او د حملې تصميم يې ونيول پدې کاروان کي په لسګونو ټانګان ټانکر او د اجيري اردو رينجري موجودي وې شهيد صابر د حملې لپاره نقشه داسي جوړه کړه چي د کاروان مخکي يې ماينونه ښخ کړل د کاروان منځ ته يې څو ملګري د دښمن د مصروف ساتلو لپاره کېنول او د کاروان په اخيري برخه يې د قوي بريد تابيا ونيوله

کاروان چي رانيژدې شو امريکايانو د کاروان مخکي کانتينر روان کړي وو د کاروان شاته يې د اردو رينجر وو او په منځ کي د دوي ټانګان وو، د دې ترتيب له ليدو سره مې د صابر نيژدې ملګري او مشاور شهيد عبدالستار طارق ته وويل چي زموږ هدف ته د اجيري

اردو موټران برابر شو او افغاني غيرت دا اجازه نه راکوي چي امريکايان دي ارام ولاړ وي او موږ دي په داخلي اردو ګوزارونه کوو، صابر به په دې راز نه خبروو د نورو دلائلو له مخي به پيشنهاد ورته وکړو چي بايد د کاروان په منځ حمله وکړو، صابر زموږ پيشنهاد ومانه او حمله يې د کاروان په منځ برابره کړه خو د کاروان د منځ په محاذات هيڅ د مورچې ځاي نه وو او زه هم د کاروان په منځ کي وم کله چي موږ په امريکايي ټانګانو بريد پيل کړل د اردو موټران چي زموږ له ګوزاره په امن وو په خلاص مټ يې په موږ ناتاره مرمۍ اوروليي زه د دوي په مرمۍ په غاړه کي ولګيدم او في الحاله مي بدن فلج شو.

له دې پيښي مي دوه عبرته ترلاسه کړل اول دا چي کوم حکم چي الله تعالی کړی وي بايد موږ پکي تفکيک ونه کړو الله تعالی د يهودو او د دوي د دوستانو حکم يو بللی ده او موږ يې توپير وکړل نتيجه دا شوه چي دوي سره يو شو او موږ ته يې شکست راکړ او دوهم دا چي له امير نه بايد هيڅ راز پټ نه کړو کنه نو خيانت به مو کړی وي که موږ خپل امير په اصلي راز خبر کړی واي کيداي شي په خپله نقشه يې قناعت راکړی واي.

پوښتنه

له زخمي کيدو وروسته چې کله پوه شوئ چې د بدن نيمه برخه مو فلج شوې احساس مو څه و، هغه کوم څه و چي تاسو وربانديې ډاډمن واست؟

ځواب

د مرمۍ له لګيدو سره مي فکر کاوو چي لاندي نيم بدن مي په غټه مرمۍ ولګيدل او قطع شو خو کله چي ملګرو د جنګ له ميدانه امن ځاي ته انتقال کړم ډاکټر څه دوايي راکړه هوش مي برابر شو نو پوه شوم چي فلج شوی يم د مايوسۍ يوه ناره مي وکړه چي يا الله زه به اوس ستا د دين خدمت څنګه وکړاي شم، يا الله زه خو له خدمته ولويدم مشر ورور صابر راباندي غږ کړ چي بيغمه شه! چي خوله دي ژوندۍ ده اوس هم کولاي شې چي د اسلام خدمت وکړې تشويش مه کوه له دې خبرې سره زما هم خپل علم ته فکر شو او ډاډه شوم چي الله مهربان ده يو خدمت به راته واخلي له هغه ساعت وروسته مي بيا د مايوسۍ تصور هم نه ده کړی.

پوښتنه

ستاسو د تجربې له مخې زخميان يا معيوب او معلول مجاهدين له کومو ستونزو او تشويشونو سره مخ کيږي او د رفع لپاره يې بايد څه وکړي؟

ځواب

ياد خلک له صحي او رواني مشکلاتو سره ضرور مخ کيږي ځکه دوي په بدن زخمونه لري او د صحت مخه يې نيسي او دوي له دې وروسته چي د استقلال خوند يې کتلی وي د نورو لاس ته اړ کيږي او خپله اثينده د بل په لاس کي ويني

د صحت ساتل يې درې طبقې لري اول ډاکټر دوهم پيواز دريم تجربه شوي مريضان، دوي بايد باوري او ماهر ډاکټر ولټوي او هره وړه او غټه خبر ورسره شريکه کړي

دوي بايد مخلص او بيدار پيواز ولري چي د ډاکټر توصيي په سمه توګه تر سره کړي او خدمت يې هم په اساسي شکل وکړي

دوي بايد له نورو تجربه لرونکو مريضانو سره مشورې او رازونه شريک کړي ځکه چي تجربه کله کله له ډاکټر نه زياته نتيجه ورکوي ولي چي بعضي ډاکټران د نه مهارت له مخي او بعضي د سياسي او عقيدوي مخالفت په اساس مريض ته داسي سپارښتني وکړي چي حال يې له بدو بد تر شي، ما ته يوه ډاکټر سپارښتنه وکړه چي په ورځ کي څلور ځله کيتيټر بدل کړم حال دا چي په چين کي د فلج ماهرينو په پينځه هفتې کي يواځي دوه ځله را بدل کړ، له دې کار سره نه يواځي زما او زما د خدمت ګار ژوند تريخ شو بلکي دوه ځله يې

عملیاتو ته مجبور کړم او س چې تجربه لرم هغه ډاکتر را ته د قصاب حیثیت لري.

او د رواني مشکل حل به یې د شپږمې پوښتنې په ځواب کې بیان کړو.

پوښتنه

ستاسو په نظر د زخمیانو او معلولو مجاهدینو د زړه ساتنې او ددې لپاره چې په ټولنه کې د یوه بریالي شخص په حیث خپل ځای تثبیت کړي، خپله دداسې معیوبینو، ددوی د خپلوانو او کورنیو یا عامو مسلمانانو او ولاة الامور وجایب او مسؤلیتونه کوم دي، څه باید وکړي چې دداسې مجاهدینو زړونه وساتل شي د خدمت او فعالیت جوګه شي او بالاخره د دین او دنیا د نیکمرغۍ او بریالیتوب په لاره برابر شي؟

ځواب

انسان تر ګل نازک دی باید په خپل صحت غره نه شي هر چا ته په کار ده چې تر معیوبیدو مخکې د معیوبیت تابیا ونیسي کسب او کمال تر لاسه کړي تر څو د معیوبیت په وخت کې کار ترې واخلي کله چې یو څوک معیوب شي اولنۍ دنده یې توکل علی الله ده هر څه باید خپل مهربان خالق ته وسپاري په دوهم قدم کې باید تر ځان ټیټو خلکو ته وګوري د هغوی معیشت ارزیابي کړي او زړه ته ډاډ ورکړي، د قران کریم تلاوت موثره نسخه ده د الله په ذکر زړونه ډاډه کیږي، دوی باید فوراً خپل کسب او کمال په کار واچوي اګر که ډیر کم وي،

د دوی خپلوان باید په اول وخت کې دوی ته په عمل کې ثابته کړي چې موږ درسره یو او هیڅ وخت به دې خوشې نه کړو کله چې د معیوب زړه ډاډه شو بیا که خپلوان سوکه سوکه ورنه شا ته کیږي مشکل نه پیدا کیږي ځکه د معیوب زړه ډاډه شوی وي او خپل ورزنی ژوند ته عادي دوام ورکوي، یوه معیوب خپل ورور د ځان د خدمت لپاره طلب کړ بل قریب یې ورته وویل چې ولې دې ورور له کاره باسې ته به ټول ژوند همداسې یې نو دوی به ټول وخت له تاسره مصروف وي؟ د دې خبرې له اوریدو سره هغه معیوب څه چې زه هم مایوسه شوم داسې خبري باید معیوبینو ته ونه کړل شي ځکه دا خبري زړه وژني او بیا د بدن یو غړی هم فعالیت نه شي کولای که خپلوان غواړي چې د معیوب له ستونځو خلاص شي نو د هغه زړه دې ژوندی وساتي، عام مسلمانان او ولاة الأمر باید د معیوبینو لپاره دوامي او اساسي پلان ولري د دې په ځای چې ټوله توجه معیوب ته په تحفو ورکولو او ورزنی، خرچه متمرکزه کړي ښه دا ده چې د معیوب لپاره د خدمت وسائل برابر کړي په هر مسلک کې چې مهارت لري باید د هغه مطابق ټول ضرورتونه ور پوره کړي زه باور لرم چې معیوب به د روغو خلکو نه زیات خدمت وکړای شي.

پوښتنه

که راشو عامو پوښتنو ته ؛ ددې لپاره چې د حق د لارې یو مبارز د سنګر ، دعوت ، سیاست او په بل هر ډګر کې ویښ، بادرکه ، باخبره او نه ماتیدونکي شخص وي، څه باید وشي؟ دداسې رجالو د روزنې لپاره د تعلیم ، اعداد ،جهاد او د ژوند په نورو ډګرونو کې کومو کارونو ته اړتیا ده ؟

ځواب

شخصیت جوړونه باید تر ځوانۍ پورې توقف ونه لري هره مور او هر پلار باید لاس په کار شي خپل ماشومان وروزي په سالم طبیعت یې تعلیمي اداري ته وړاندې کړي بیا نو استاذ کولای شي چې تنې ته یې رنګارنګ مشر پیوندونه ولګوي، زما پلار شهید وو یوه ورځ مې د (پلار) توری په کلي کې اوریدلی وو مور ته مې راغلم چې مورې ! پلار څه ته وایي؟ مور مې نه غوښت چې شکسته شم را ته ویل یې چې پلار داسې وي لکه ستاسو اغا (زموږ مشر ورور) لدې خبرې سره مې زړه

تکیه وو او بیا چي کله لیږ غټ شوم پلار مي وپېژندل او پدې هم خبر شوم چي زما پلار شهید شوی ده نو هیڅ اثر یې رابانده ي نه کول پلار هسي یوه افسانه راته ښکاریدو او داسي فکر مي کول چي زما په معیشت کي پلار هیڅ ونده نه لري همدا راز به زموږ مور موږ ته د ژوند د ناخوالو کیسې نه کولي موږ ته به یې ویل چي هغه وخت به ډیره خوشاله یم چي تاسو لوي لوي عالمان یاست حجري او مدرسي مو وي او طالبانو ته سبقان وایاست له دې خبرو سره به زموږ د هدف دیدوان هم لوړ شو او په ورو ورو جمېو به مو بریک نه نیول کله چي ماشوم له کوره په سالم طبیعت لوړ مرام او د مشخص هدف لپاره راووزي له هر څه مخکي باید د ده صوري تربیه پیل شي د نبوي هیئت ترغیب ورکړل شي او د کفري او غربي فرهنګ سره یې د نفرت ماده ژوندۍ او فعاله وساتله شي کله چي د ده صورت په نبوي سیرت برابر شي بیا نه شي کولاي چي له بدو خلکو سره راشه درشه ولري او پدې سره استاذ په ډیري اسانۍ کولاي شي چي معنویت یې محکم او متشرع کړي او که د ظاهر پروا ونه لري نو له ګډوډو خلکو سره د خلطیت په اساس به یې طبیعت متزلزل وي او د استاذ خبره به پکي تقرر نه نیسي

تعلیمي نصاب باید منجمد نه وي احکام په خپل ځاي، اما د عقیدې ،سیاست، تاریخ، سیرت او داسي نور فنون باید د دښمن د عمل په تناظر په پوره امانت دارۍ او د هر اړخیز پلان له مخي وخت په وخت عیار شي که دښمن د پورتنیو فنونو اړوند په هر یوه حمله کړې وي هغه فن باید مشخص مدلل د تاریخ او عصر په مقیاس ترتیب شي ترڅو مو ځوان کهول د دوي په وړاندي د مقاومت انرژي تر لاسه کړي او هر ګوزار ته یې ځواب ورکړي که داسي ونه شي نو دښمن کولاي شي چي د نوي پلان له مخي زموږ ځوانانو ته په خپل دریز قناعت

ورکړي د أعدوا لهم مااستطعتم امر تر قیامته متوجه ده، د آس په تندي کي ابدي خیر ده، د اسلحې زده کول سنت او هیرول یې ممنوع ده ،دا هغه څه دي چي مسلمان ملت په سوونو کلونو له عمله غورزولي دي او دا دی منفي نتیجې یې وینو که دا حالت دوام وکړي خیر مو بیا هم نشته مجاهدینو ته باید هغه ګټي په ګوته شي چي له هدف سره په لاس ورځي د تقلیدي او انتقامي جهاد په ځاي باید شعوري جهاد وکړي ،د دوي د اعمالو مکافات او مجازات باید هره لحظه ورته د دوي سترګو ته حاضر وي، یوه مجاهد راته ویل چي د اجیري اردو عسکر د میاشتي اته زره افغانۍ معاش لري خو بیا هم تر مجاهدینو زیات برداشت نه لري تکلیف نه کوي حال دا چي مجاهد ته هیڅ شئ نه ورکول کیږي؟ ماورته ویل (لغدوة في سبیل الله او روحة خیر من الدنیا وما فیها) ایا د رسول الله لدي بشارت نه مجاهد زیات څه غواړي؟ مجاهد د قناعت ګوته په غاښ راته وایي: (اووووو دیته خو مي فکر نه وو) چي په عادي حالت یې عقاید له نظره وتلي وي نو د مقاومت په وخت به څنګه وریاد شي حال دا چي زموږ مقابله د اعتقاد په متې روانه ده

پوښتنه

ستاسو په نظر د جهاد آداب یا د مجاهد صفات کوم دي؟ هغه څوک چي ځان مجاهد بولي باید کوم صفات ولري او له کومو کړنو ځان وساتي ؟

ځواب

دا پوښتنه لکه څنګه چي وړ ده هغسي نه شو ځوابولاي ځکه یوه لیکنه یې ظرفیت نه لري، اما مختصراً به څه ولیکو: د جهاد هدف دا ده چي په سرکشه انسانانو د الله کلمه په زور لوړه شي او شریعت پرې تطبیق شي مجاهد باید دا اعلاء او تطبیق له ځانه پیل کړي د الله تعالی هر امر ته منقاد شي او د شریعت هره پریکړه په ځان عملاً

ومني که مجاهد د الله کلمه په خپل ځان نه شي لوړولای نو په نورو به یې څنګه لوړه کړي؟ که په خپل ځان شریعت نه شي جاري کولای په بل به یه څنګه جاري کړي. د مجاهدینو امیران باید اول په خپلو صفوفو کې شریعت جاري کړي او بیا یې له ولس نه د منلو غوښتنه وکړي د مجاهد د لاس او ژبې د شر نه باید خلک په امن وي

مجاهد باید خلکو ته د ورور حیثیت ولري مسلمانان باید له مجاهد نه په ویره کې نه وي ځکه چې د رحماء بینهم امر شوی ده ،مجاهد باید له ولسي خلکو سره په تعامل کې ځان بې اسلحې فرض کړي

مجاهد چې له هر وګړي سره کوم تعامل کوي اول دې په ځان او خپلو خپلوانو ور سیخه وي چې که له دوي سره داسي چلن وشي څنګه به وي؟.

پوښتنه

تاسو همدا اوس د فکري یا فرهنګي جهاد په برخه کې هم مصروف یاست ، په اسلامي امت خصوصا افغانستان باندې د کفارو فکري او تبلیغاتي یرغل څرنګه تحلیلوئ؟ دغه یرغل څومره خطرناک دی او د شنډولو لپاره کوم کړنو ته اړتیا ده ؟

ځواب

د کفري نړۍ خصوصًا د غرب فکري یرغل د اوس لپاره سل سلنه د دوي په ګټه منتج ګنم دوي په خپل ټول قوت د مسلمانانو د فکر د فاسدولو او یرغمل لپاره میدان ته راوتلي دي، دوي پدې باب خپل ټول زور او زر کاروي، دوي ژبه، قلم، ټوپک، پیسه او رنګارنګ فریبونه په کار اچولي دي، دوي د مسلمانو د بیلاري کولو او په خپله پنجه کې نیولو لپاره له خپلو رسیو (بې دینه او بې عقلو ښځو) هم پوره پوره کار اخلي، دوي په مسلمانو خپله دښمني د دوستي په نوم منلي ده، دوي په رادیو تلویزون ورو فاسد او فاحش سریالونه څلرویشت ساعته فعال ساتلي دي، مسلمانان یې په نړۍ وال جال کې حصار کړي دي، دوي د ایټم او کلستر په زور د مسلمانو بې علمه ځوانانو ته فردي ازادي ور کړې ده او دا کار د وړې لیوه رمې ته د خوشي کولو معنا ورکوي.د دښمن د دومره زور او قوت په پرتله د مسلمانانو اقدام څه چې دفاع یې هم د نشت برابره ده، نیم مسلمانان د دوي هره خبره او هره کړنه په پټو سترګو مني او عمل پرې کوي، ډیر مسلمانان د دوي د ټیکنالوجي راز د دوي په پوچه عقیده او وحشي کلتور کې لټوي، موږ د دوي د دفاع لپاره یا هیڅ منظمه طبقه نه لرو او یا چې لرو یې د هغوي قول او عمل سره ځمکه او اسمان وي چې د داسي خلکو داعیه نور هم ملت په تشویش کې اچوي خلک حیران وي چې د قول اتباع یې وکړي او که د عمل؟ سیالي د سیرت النبي په هکله وي خو میدان ته لوڅ سر چپه کاکول ټایي په غاړه پتلون په پښو ښه تر ډیرو دوه خاښې راووزي تاسو انصاف وکړئ دا کړنه به څومره موثره وي ؟د مسجدونو امامان خو دومره ځانونه غیر مکلف بولي چې له حالاتو د ځان خبرولو مسؤلیت هم نه احساسوي بعضي ملایان چې لیږ په اصطلاح جهان ګشته دي هغوي خو حتا د نورو د مبارزې خند دي، ما چې هر کله د غرب د کلتور مخالفت کړی ده د اسلامپالو په نوم خلکو مې مخالفت کړی ده او شرعي دلائل یې تراشلي دي تعلیمي نصاب خو ستاسو په مخ کې ده چې هیڅ برخه یې دغې موضوع ته نه ده ور کړل شوي، بعضي داعیین چې مستقلي رسنۍ په واک کې لري د هغوي څپرې له سره تر پښو د دوي کلتور بیانوي او کوم چې حقیقي وارثین دي هغوي ته رسنۍ څه چې د ازاد ژوند حق نه ورکول کیږي ټول یا په زیندانونو کې دي او یا نظر بند دي یواځې د خواله رسنۍ دي چې بعضي مسلمانان خپل غږ پکې رسوي او هغه هم تیت پرک خو له دې ټولو ناخوالو سره سره زه عقیده لرم چې له وخت سره به دوي نامراده او ناکام وي ځکه د دوي ټول اساس د شیطان په چل ول ده او د شیطان چلونه ضعیف دي پایښت نه لري ضرور به یوه ورځ د مسلمانو عقائد او افکار میدان ګټي او شیطان

به په تېښتنه وزي خو مونږ باید کوشش وکړو چې دا فتح زمونږ په برخه شي.ومن الله التوفيق

پوښتنه

که راشو وروستی پوښتنې ته ،تاسو له سخت معیوبیت سره سره لا هم حوصله نه ده بایللې، نن سبا د ځینو مبارزینو یوه لویه ستونزه د نشاط او مورال بایلل دي، چې له جهاد او کفر په وړاندې له مبارزې لاس اخلي، ددې لپاره چې خپل روحیات مو لوړ ساتلي وي او د مرګ تر ساعته په حق مستقیم او مجاهدین في سبیل الله پاته شو، څه ډول فکر او عمل باید وکړو ؟

ځواب

د استقامت اساس عقیده ده که عقیده محکمه وي استقامت به تر مرګه وي او که عقیده نه وي او یا ضعیفه وي نو انسان له تزلزل سره مخ کیږي د کومو خلکو چې له وخت سره مسیر بدل شوی یا په کور کینستي دي او یا په مخالف صف ګډ شوي دي هغوي به له دوو حالو خالي نه وي اول دا چې په اول سر کې یې مبارزه شعوري نه ده پیل کړې بلکې د تقلید په اساس راوتلي دي او تقلید دومره روحیه نه لري چې له انسان سره په هرحال کې مله وي ، دوهم دا چې د کوم دنیوي او مادي هدف لپاره په میدان کې وو چې هغه یې تر لاسه کړل او یا ترې نا امیده شول نو شاته شو، داسي نه شي کیدای چې مبارزه د الله تعالی له فرمان سره سمه په شعوري ډول پیل شي او بیا دي نیمګړې پاتي شي، هو، انسان عاجز ده کله کله د عجز په اساس او د وسائلو او د مبارزې د ډول د نه شتون له مخې له کاره لوېږي خو ضمیر یې بیا هم د موقع په انتظار وي دا ډول خلک باید سپوټ شي تمویل شي او موقع ورته برابره شي چې مبارزه فعاله وساتي د مورال لوړ ساتلو او استقامت لپاره له الله تعالی سره معامله په کار ده د الله تعالی د فرمان مطابق عمل په کار ده مسؤلین باید خپلو افرادو ته اول قیدوي تربیه ورکړي دوهم وسائل او وسائط ور زده کړي او بیا دې میدان ته وړاندې کړي باور لرم چې دنیا څه چې په جنت کې به هم الله تعالی ته سوال کوي چې د مبارزې میدان ته مو ولیږه.

زه چې زخمي شوم باور مې وو چې شهید کیږې د مکلفیت د دور ټول اعمال مې د هیندارې په شان مخکې حاضر شو هیڅ داسې څه مې پکې ونه لیدل چې د الله تعالی د راکړیو نعمتونو سره مې تللي واي او د الله حضور ته په جګو سترګو ورغلی واي، د دې تر څنګ مې دا فکر هم وو چې که الله تعالی جنت راکړی نو زما په دغو اعمالو به زه له هغو سلفو سره څنګه په جنت کې مخامخ کیږم چې په کارنامو یې تاریخونه ډک دي، و مې الله تعالی ته سوال وکړ چې یا الله دا وار مې مه شهید کوې ترڅو په خپل ژوند کې داسې کارونه وکړم چې پس له مرګه پښیمانه نه شم اوس په ډیرو سختو تکلیفونو کې هم نه شم کولای چې ارام کښینم ، کله چې له هره کاره ولویږم نو دعا پیل کړم او دا هم یو خدمت بولم خو هغه جذبه چې په هغه ورځ مې لرله په نیمې دریدلي ده او دا انساني فطرت ده چې الله تعالی ورته دهلوعا نوم ورکړی ده

یادونه زما د تجربې له مخې زیات تېنګار کوم بیخي زیات چې تعلیم او تربیه د نجات لاره ده اوبس حسبنا الله ونعم الوكيل نعم المولى ونعم النصير وصلى الله تعالى وسلم على خير خلقه محمد وآله واصحابه اجمعين

کعب احبار رحمة الله علیه او اسرائیلیات!

ژ: اسلم امید

علامه کوثري

یادونه: دعلماوو او په خاصه توګه دهغه چا لپاره چې هغوی دعظیم الشان قرآن دتفسیرونو دمطالعې ذوق لري، "کعب احبار" نامعلوم نوم ندی، داسرایلیاتو دراویت په باب دکعب نوم په نیږدې ټولو تفسیرونو کې خامخا یو نه یو ځای راغلی دی، دکعب په اړه دصحابه وو(رضي الله عنهم) ترمنځ دبېلا بېلو نظرونو اوراېو دشتون په وجه دکعب شخصیت او دهغه ثقاهت دعلماوو ترمنځ دبحث وړدی، داسلامي نړۍ نومیالي محقق عالم علامه کوثري(رحمه الله) دکعب په باره کې ددغسې یوې پوښتنې ځوابولو لاندې لیکلی، کوم چې دعلمي جامعیت ترڅنګ علمي افادیت هم لري او په خاصه توګه چې پکې یې داسرایلیاتو په باب یو ښه قاطع دریځ نیولی دی، دلته یې دادی پښتو ژباړه یې وړاندې کوو!

(اداره)

د نږدې سیمو دځینو عالمانو او فاضلانو سره دا ارزو وه چې زه د لاندې پوښتنو په اړه خپله رایه وړاندې کړم، نو دادی د خپل توان برابر دا څو توري لیکم! اول د پوښتنې عبارت او بیا دهغه په اړه ځواب راوړم

پوښتنه:

دجنت او جهنم په باره کې دمسلمانانو په افکارو اونظریاتو باندې دکعب احبار (یهودي یامسلمان) دروایتونو اثر څومره دی؟ مثلاً داسراء اومعراج قیصې په باره کې د کعب احبار څخه د ابن عباس مسلمانو غلامانو کړی یو روایت زمونږ په قوم کې مشهوردی، اوپه "التفسیر الحدیث" (دویم ټوک) کې هم دی؟

ځواب:

اوس زما ځواب ولولئ: سایل د "التفسیر الحدیث" نه خپل مراد ندی ښکاره کړی، اونه یې هغه قیصه راوړې ده، کومه چې د دوئ په قوم کې مشهوره ده، چې په اړه یې ښکاره خبره شوې وای، که د قیصې نه دسایل مراد هغه اوږده قیصه وي، کومه چې ابن جریر(رحمه الله) اونورو مفسرینو د "اسراء سورة" په تفسیر کې را وړې ده، خو په هغه سند کې نه کعب شته اونه ابن عباس(رضي الله عنهما) بلکې په هغه روایت کې "ابوجعفر عیسی بن ماهان رازي" شته، څوک چې دحافظې په ضعف کې مشهوردی، په ورته توګه په دغه روایت کې "ابوهارون عماره، بن جوین اوخالد بن یزید بن

ابومالک "هم شته، دغه دواړه "متهم بالکذب" دي، ښکاره ده چې ددغو رویانو روایت حجت ندی، په خاصه توګه د داسې اوږدې قیصې پشان روایت خو د "کعب" سره یو لړې نسبت هم نلري، بیا جنت او جنهم دوه هغه موضوعات دي، چې د تورات په موجوده نسخو کې یې ذکر نشته!! په تورات کې د جنت او دوزخ د ذکر نشتوالی د تورات په محرف والي ښکاره دلیل دی، ځکه د الله (ﷻ) د استازو (انبیاء علیهم السلام) د دعوت په لړ کې جنت او دوزخ یوه خاص موضوع وه، چې د "ایمان بالبعث بعد الموت" (د مرګ نه په پس ژوند عقیده او ایمان) پورې اړه لري، نو ځکه دا تصور ناشونی دی چې کعب (رحمه الله) د جنت او جهنم په اړه قیصې له تورات څخه بیانولي، بلکې په "تلمود" کې د تناسخ په اړه هم نص شته دی، کوم چې د ټولو انبیاؤ (علیهم السلام) د دعوت سره سراسر منافي دی.

د الله رؤیت ؛ د کعب او ابن عباس ترمنځ مکالمه :

البته د معراج روئیت په باره کې چې کومې خبرې د کعب (رحمه الله) او ابن عباس (رضي الله عنهما) ترمنځ شوي، هغه امام ترمذي (رحمه الله) پخپل جامع کې د "النجم سورة" د تفسیر په لړ کې راوړي دي، خو د دې په سند کې "مجالد بن سعید" شته دی، د چا حافظه چې کمزورې او مختلط دی، په دې روایت کې د شعبي (رحمه الله) کوم الفاظ دي، هغه د اتصال لپاره کومه فایده نه رسوي، او څه نور صحیح احادیث هم د دغه روایت سره معارض مروي دي.

دا کوم کعب چې د بحث موضوع دی، دیته "کعب احبار"، یا "کعب حبر" ویل کیږي، دا "ابن مانع حمیري "دی، څوک چې د یهودو په سترو علماوو کې شمارو، او د یهودو له کتابونو څخه ډېر خبرو، له "مخضرمینو" څخه و، د جاهلیت او اسلام دواړه زماني یې لیدلي، یمن کې زیږیدلی و او هم هلته میشت و، څو یې له هغه ځایه هجرت وکړ او په دولسم کال د هجرت د حضرت عمر (رضي الله عنه) د خلافت زمانه کې په اسلام راوړو مشرف شو، ابن سعد (رحمه الله) نوموړی د شام د تابعینو په لومړي طبقه کې یاد کړی دی، او په اړه یې دا لیکلي: چې نوموړی په دین یهودي و، بیا مسلمان شو او مدیني منورې ته یې هجرت وکړ، بیا له هغه ځایه شام ته لاړ او ترپایه په "حمص" ښار کې میشت و، تر دې چې د هجرت په ۳۲ کال د حضرت عثمان (رضي الله عنه) د خلافت په زمانه کې وفات شو، د وفات د کال په باره کې یې له یو نه زیات روایتونه راغلي دي.

ابن حبان (رحمه الله) په "الثقات" کې فرمایلي: نوموړی د هجرت په ۳۴ کال وفات دی، په بل قول د هجرت په ۳۳ کال او یوسل څلور کالن وچې ومړ، ابن سعد (رحمه الله) له ابن مسیب (رحمه الله) نه روایت نقل کړی دی، چې ابن عباس (رضي الله عنهما) له کعب وپوښتل: تاولي د رسول الله (ﷺ) یا دابوبکر صدیق (رضي الله عنه) په زمانه کې اسلام قبول نکړ؟ او ولې دې د حضرت عمر (رضي الله عنه) په زمانه کې اسلام قبول کړ؟ په ځواب کې یې کعب (رحمه الله) وویل: پلار مې ماته د تورات له منتخباتو څخه یو کتاب تیار کړی و او راته یې ویلي و، چې بس! ته یواځې په دې عمل کوه! او پاتې نور ټول کتابونه یې مهرلاک کړل او له ما نه یې دا عهد واخیست چې زه به د هغو کتابونو څخه مهرلاک نه لرې کوم! کله چې ما د اسلام غلبه ولیده، نو سوچ

مې وکړ، چې شايد پلار مې په دغو کتابونو کې له مانه کوم څه پټ کړي وي، راپورته شوم مهر مې مات کړ، په هغو (کتابونو) کې د رسول الله (ﷺ) او د هغه د امت ذکر راغلی و، زه يې په ليدلو مسلمان شوم.

ددې قيصې په سند کې "حماد بن سلمه" دی، ځوک چې مختلط دی، دچا له روايت نه چې امام بخاري (رحمه الله) او امام مسلم (رحمه الله) دواړه پرهېز کوي، البته د "حماد بن مسلمه" نور روايتونه چې کوم د "ثابت" څخه دي، د اختلاط د ناروغۍ وروسته پخپل حال دي، دا چې د اختلاط ناروغي يې ورانده نه وه، له دې وجې هغه روايات بخاري او مسلم راوړي دي، هم داسې په دغه روايت کې "علي بن زيد بن جدعان" هم دی، ځوک چې ځو علماوو ضعيف ګڼلی دی-

دکعب ثقاهت او نه ثقاهت يې:

جمهورو علماوو دکعب توثيق کړی دی، همدا وجه ده چې په "متروکينو ضعفاوو" کې يې ندی ياد کړی، امام ذهبي (رحمه الله) هغه په "طبقات الحفاظ" کې راوړی او هم يې ورسره لنډه پېژنګلوي راوړې.. "ابن عساکر" (رحمه الله) د "دمشق په تاريخ" کې دکعب پوره پېژندګلوي راوړې ده، ابونعيم (رحمه الله) په حلية الأولياء کې دکعب قيصې، دهغه مواعظ، دهغه مجلسونه، حضرت عمر (رضي الله عنه) ته دهغه نصايح، او دجنت وجهنم په اړه، داوږده سند سره يو ځای مفصل راوړي دي، په کوم سند کې چې "فرات بن سايب" هم دی، البته ابونعيم (رحمه الله) ددې ماخذ ندی راوړی، ابن حجر (رحمه الله) په "الإصابة او تهذيب التهذيب" کې هم دنوموړي پېژندګلوي کړيده، نو په هرصورت نقاد محدثين دنوموړي په ثقاهت اتفاق لري، ليکن امام بخاري (رحمه الله) دخپل صحيح په "کتاب الاعتصام" کې د حضرت معاويه (رضي الله عنه) دا مقوله راوړيده، چې حضرت معاويه (رضي الله عنه) کعب ياد کړ او وي فرمايل: مونږ دهغه د دروغو امتحان اخيسته؛ په الإصابه کې له حضرت حذيفه (رضي الله عنه) نه دکعب تکذيب مروي دی، هم داسې ابن عباس (رضي الله عنه) کعب ته د دروغو نسبت کړی دی.

ملاعلي قاري (رحمه الله) په "موضوعات کبری" کې وايي: حضرت عمر (رضي الله عنه) چې کله داقصی مسجد جوړولو اراده وکړه، له خلکو يې په دې مشوره وغوښته، چې مسجد د "صخره" مخکې راشي که وروسته؟ کعب حضرت عمر (رضي الله عنه) ته وويل: امير المؤمنين اله صخره وروسته ښه دی! حضرت عمر (رضي الله عنه) وفرمايل: ديهودي خويه استا دننه يهوديت سرايت کړی دی، زه مسجد د "صخره" په مخکې جوړوم، ځو دلمونځ کوونکو مخونه صخره ته نه وي، هم داسې يې وکړل مسجد يې دصخره نه ورانده جوړ کړ او صخره وروسته پاته شوه په هم هغه بنه تر اوسه پاته دی.

دا دحضرت عمر (رضي الله عنه) فکر او نظر و، چې هغه کعب ته ددې موقع نه ورکوله چې هغه دمسلمانانو په مسجد کې ديهودو قبلې په لور مخ کړي، کعب په زړه کې دحضرت عمر (رضي الله عنه) لخوا په ده د لګول شوي تور درد ساتلی و، حتی تردې پورې چې دهغو خلکو سره کعب اړيکې لرل کوم چې دحضرت عمر (رضي الله عنه) په ضد سازشونه کول ددې ترڅنګ دا هل کتابو له کتابونو په را نقل کړو روايتونو سره يې حضرت عمر (رضي الله عنه) ته دا باور ورکړی و، چې ژر به هغه قتل شي، حالنکه دحضرت عمر (رضي الله عنه) سره اهل کتابو، دکتابونو څه

تعلق و، که په اسلامي شریعت کې د "متهم بالظن" دنیولو ګنجایش وای، نو د حضرت عمر (ﷺ) دقتل په پېښه کې به دکعب څخه هم پوښتنې او ګروېږنې شوي وای، حضرت ابو ذر (ﷺ) دحضرت معاویه (ﷺ) په شکایت له دمشق نه مدینې ته لیږل، دحضرت عثمان (ﷺ) په مجلس کې دکعب لخوا دحضرت ابوذر (ﷺ) دمال نه جمع کولو درایې تردید، او په ځوابکې دابوذر (ﷺ) لخوا کعب ته دا ویل: دیهودې ځویه! دا هغه مسایل ندي، چې په اړه یې ته خبرې وکړې، دا واقعات دتاریخ په کتابونو کې مشهور دي،

دپورتني بحث نتیجه:

دپورته تفصیل نه ښکاره شوه، چې حضرت عمر، حضرت حذیفه، حضرت ابوذر، حضرت ابن عباس، حضرت عوف بن مالک او حضرت معاویه (ﷺ) په کعب باندې په کلي ډول مطمن نه ول، او حضرت ابن عمر، حضرت ابن عباس او حضرت ابو هریرة (ﷺ) له کعب نه ځینې روایتونه نقل کړیدي، ځکه چې ټول اسرایلیات دیوې فیصله کونکې قاعدې لاندې رازي، چې له هغونه دکومو روایتونو تصدیق چې اسلامي شریعت وکړي، هغه د تصدیق وړ بلل شوي، او دکومو چې اسلامي شریعت تکذیب کړی، هغه د تکذیب وړ بلل شوي، او ددېنه علاوه دنورو روایتونو دتصدیق او تکذیب په باره کې توقف شوی، دصحیح بخاري په روایت: داهل کتابو مه تصدیق کوئ او مه یې تکذیب، او دا وایاست چې مونږ په الله (ﷻ) ایمان راوړی دی، او په هغه چې زمونږ نازل شوي دي، او په هغو چې په تاسې نازل شوي دي، زمونږ او ستاسې معبود یو دی، او مونږ دهغه تابعداریو!

دا هغه نېغه لار ده، چې پکې د اسرایلیاتو نه دکوم خطر واقع کېدو ډار نشته، له دې وجې چاچې اسرایلیات ذکر کړېدي، هغوی د دغې نظریې سره یو ځای ذکر کړیدي، نو په دې تو ګه نه کعب او نه اسرایلیات په اسلامي افکارو او نظریاتو کوم اغېز کولی شي، ترڅو چې هغه روایتونه په دې دقیق معیار تلل کېږي، په دې تو ګه تاسې به ډېر مفسرین لیدلي وي چې هغوی هره نفع رسونکې روایت خامخا راوړي، خو دهغو مفسرینو په زمانه کې دمروجو یهودو او نورو اهل کتابو د منقوله معارفو او روایتونو په رڼا کې په عظیم الشان قرآن کې دراغلو اخبارو او قصصو ځینې اړخونه ښه ښکاره شي، ددې ترڅنګ مفسرین ددغو روایتونو دچانولو دنده ورو ستنیو نقادانو ته پرېښودي، نو په دې تو ګه داسرایلیاتو دذکر کولو غرض دادی چې لږترلږه هغه معارف وروستنیو ته ورسي، ولې دا احتمال په ځای دی، چې دهغو اسرایلیاتو نه دعظیم الشان قرآن داجمالي وېناوو د ښکاره کولو لپاره مرسته اخستل کېدای شي دمفسرینو غرض داندی چې هغو روایتونو ته دمسلمانانو په نظر کې دحقایقو او عقایدو درجه ورکړای شي په هغو باندې دعقیدې ساتلو لپاره دهغو دصحت دقیق چاڼ ضروري دی، نو داسرایلیاتو دتدوینونکو غرض چې دا وي نو په هغوی هېڅ ډول ملامیتا او تنقید نشته

سلیمان بن عبد القومی طوفی (رحمه الله) پخپل کتاب "الاکسیر فی قواعد التفسیر" کې په تفسیرونو کې داسرایلیاتو په راوړو دمفسرینو

لخوا عذر وړاندې کړی دی، د "الاکسیر فی قواعد التفسیر" نسخه د "قرا حسام الدین" په کتابتون کې، چې په استانه کې دی، خوندي ده، هغه دمفسرینو ددغه کار، مثال دحدیث درواتو دکاري طریقې سره ورکړی دی، څنګه چې هغوی په شروع شروع کې دټولو روایتونو نقل پرته دصحیح اوضعیف دتوپیر کوي او د توپیر معامله یې وروستنیو ناقدینو ته پریښودې ده، هم دا طریقه مفسرینو هم غوره کړیده، داعذر رښتیا هم عمده عذر دی...

خلاصه داده چې په باطلو اسرایلیاتو هغه تن دوکه خوري، چې هغه په هغو مسایلو اومباحثو کې چې ګن اړخونه ولري، دعلماوو ته درجوع پرته له هرچانه دروایت اخیستو عادت ولري، سربیره په دې دعلماوو یو لوی شمېر ددغسې روایتونو چې هغه امت ته زیان اړوي، په ښه دقت دچانولو اهتمام ته پام اړولی دی، نو په دې توګه هغوی له باطلو اسرایلیاتو نه دتفسیر خالي کولو خدمت ترسره کړی دی، څنګه چې شیخ عبدالحق بن عطیه(رحمه الله) پخپل تفسیر "المحرر الوجیز فی تفسیر کتاب الله العزیز" کې کړیدي، نتیجه دا شوه چې اسرایلیات او یا نور خرافات په اسلامي لاربښوونو هېڅ تاثیر نلري، البته له هغو څخه ځینې دعلم خاوندان او عام خلک چې هغوی پخپله څانونه علماء بولي او په اهمو مسایلو اومعاملاتو کې هم دعلماوو اومستند ماخذ ونو ته د رجوع کولو نه خپل ځانونه مستغني بولي خامخا متاثر کېږي الله پاک دنیغې لارې ښودونکی دی.

❁❁❁❁

جهاد : دګناهونو دمغفرت اوجنت ته دتلو ترټولو غوره لاره

(ابوحمزه)

عن ابي هريرة رضي الله عنه قال ، قال: رسول الله صلی الله عليه وسلم :الاتحبون ان يغفرالله لكم ويدخلكم الجنة ؟ قالوابلى . قال فاغزوا . سنن ترمذي :۳ /۱۰۲ والحديث حسن»

ابوهريره (رض) وايي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : أیاتاسې دانه خوښوئ چې الله جل جلاله درته بخښنه اومغفرت وکړي او جنت ته مو داخل کړي ؟ هغوی وویل: ولې نه، خوښوویې.رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:بیانوغزاوکړئ.

تشریح: که یوتن ډول ډول ګناهونه کړي وي ، اوغواړي چې دغه ګناهونه یې وبخښل شي ، یاغواړي چې ترټولو دعزت په مرګ دالله تعالی حضورته ورشي ، یاغواړي چې دقبر اوحشر اوجهنم له عذابو څخه په امن کې شي ، یاغواړي چې جنت ته ولاړشي اودجنت نعمتونه یې په برخه شي نو پیغمبرصلی الله علیه وسلم ورته هدایت کوي : چې غزاء یعني دالله تعالی ددین دساتنې لپاره جهاد ته ولاړشئ ، څکه دجهادپه لاره کې که دیوه تن په بدن باندې غبار ولګیږي نودجهنم اور وړباندې حرامېږي ، اودمجاهد وېښه ،ویده ، ناسته ،ولاړه ،خوراک ،څښاک ،اوهرڅه باند ې اجر اوثواب ورکول کېږي ، اوګناهونه یې رژیږي . نودالله تعالی په لاره کې دهغه ددین دساتلو ،راوستلو اوتطبیق کولو لپاره جهادکول یادکفارو اودهغوئ دملګرو شوکة ماتولو اوشړلو لپاره جهاد کول دانسان دټولو ګناهونو دبخښني اوجنت ته دتلو ترټولو غوره لاره ده.

دتعليم اوتربيي او عالي تحصيلاتو كميسيون

دزده كړي په بهير كي دامتحان او ازمويني ارزښت

امتحان ، ازموينه اوارزونه په حقيقت كې هغه څه دي چه د انسان د ژوند سره يو ځاى پيلېږي او د انسان د ژوند كړه وړه تر كتنې لاندې نيسي الله جل جلاله فرمايي:
(الذى خلق الموت والحيوة ليبلوكم أيكم أحسن عملا)
يعني الله جل جلا له هغه ذات دى چې مرګ او ژوند يې پيدا كړي دي ددې لپاره چې تاسو و ازمايې چې كوم يو ستاسو نيكو كاره دى. دا ددې لپاره چې انسان خپل ژوند او د ژوند چارې پر هغو معيارونو او اصولو تنظيم كړي چې دده كاميابي او بريالېتوب پكې نغښتى وي چې همدا برى دده د ژوند په زړه پورې نتېجه ده چې له دغه امتحان څخه يې ترلاسه كوي نو ځكه هر څوك كوښښ كوي تر څو ښه نتيجه ترلاسه كړي او بريالى راووزي داځو دامتحان يو عمومي حقيقت دى اوس راځو دانساني ژوند يو ځانګړي اړخ ته چې هغه د تعليم ، پوهې او زده كړې لړۍ ده.
د انسان په تعليمي ژوندانه كې امتحان خورا اهم او اړين كار دى ، په تعليمي كال كې څو ځله امتحان اخيستل د شاګردانو د استعدادونو د ودې او د علمي سويې د لوړوالي سبب ګرځي او د روښانه او خوشحاله مستقبل لپاره يو ښه زيرى ثابتېږي.
دغه حقيقت ته په پاملرنې د افغانستان اسلامي امارت د تعليم او تربيې او عالي تحصيلاتو كميسيون د هيواد په ديني مدارسو كې د واحد تعليمي نصاب ، ځانګړې علمي تګلارې او غښتلي نظم د رواستلو تر څنګ په مدارسو كې د يوځايي او هم مهاله امتحاناتو او ازموينو لړۍ هم جاري كړله ، دا لړۍ د درې كلو را پديخوا شروع ده ، چې ټول مدارس پكې په خورا نظم ، پوره اخلاص او لوړ احساس سره برخه اخلي ، د نمونې په ډول به ووايو چې سږ كال يعنې (۱۴۳۲هـق) كال درې مياشتنى (سه ماهي) امتحان چې په ټولو مدارسو كې په يو مهال او يوه ورځ يعنې د محرم الحرام د مياشتې په(۲۲) نېټه پيل شو پوره شپږ ورځې پرله پسې يې دوام وكړ او په (۲۷) د محرم الحرام پاى ته ورسيد په دې كې جمعاً څلورسوه او يو اويا (۴۷۱) بابه مدراسو ، دوه زره ، پنځه سوه او درې څلويښت(۲۵۴۳) تنو استاذانو ، نهه څلويښت زره ، نهه سوه او درې نوي(۴۹۹۹۳) تنو طالبانو ، يو زر او نوي(۱۰۹۰) تنو نګرانانو علماؤ ، د پنځوس(۵۰) تنو د تعليم او تربيې او عالي تحصيلاتو د كميسيون د هيئتانو (نظارت كوونكو) تر نظارت لاندې په خورا عالي نظم سره برخه واخيستله ، چې دا د افغاني مدارسو په وحدت او نظم كې بې سابقې مهم باب شمېرل كېږي او دافغاني مدارسو په تاريخ كې يوه بې مثاله لاسته راړونه ده.
ددې لنډ او مختصر جريان نه پس به اوس د تعليم او زده كړې په برخه كې دامتحان او ازموينې په مختلفو اړخونو يو لنډ نظر واچوو تر څو دا روښانه شي چې د زده كړې پر مهال امتحان څومره اهميت لري ، د امتحان اصول او مقررات څه دي او په امتحان كې دبرياليتوب عوامل او

اسباب څه دي تر څو وکولای شو له دې لارې د دې امتحان پر حقیقت پوه شو او مطلوبه نتیجه تر لاسه کړو په دې برخه کې غواړو لاندې څو حقایق او پوښتنې مطرح کړو !

د امتحان عمومي ګټې.

له امتحان څخه ویره او اسباب یې.

د ویرې نښې.

د ویرې د رفع کولو لارې چارې او په هغو کې د کورنۍ ، استاذ او شاګرد رول.

پوره او اغیزناکه مطالعه.

له امتحاناتو څخه مخکې هدایات.

دامتحان پر وخت لارښوونې.

لومړی دامتحان ګټې:

مونږ مخکې وویل چې امتحان خو په ټول انساني ژوند کې یو بنسټیز رول لري خو په ځانګړې ډول د زده کړې په مهال خورا اهمیت لري په هر صورت دامتحان ځینو ګټو ته چې د انسان په ټول ژوند اثر اچوي په لاندې توګه اشاره کوو:

۱:همت وهڅوي او لوړوي یې او دذهن تیز والی راولي.

۲:انسان له لهو او لعب او بیځایه بو ختیا څخه لیرې کوي.

۳:ژوند په منظم ډول عیاروي او د بې نظمیو مخه نیسي.

۴:دسستی ، خوب او غفلت مخنیوی کوي.

۵:هر چاته دا باور ورکوي چې هر کوښښ کوونکي لره برخه او هر کوښښ لره ثمره شته.

۶:هر چاته دا ورښیي چې هدف او موخې ته رسیدل په بې ځایه خوبونو او خیالاتو سره نه کیږي بلکه په لوړو همتونو او وصفا ذهنونو سره کیږي.

۷:پخپل شغل (زده کړه او درسونو) کې زیار باسي.

امام یحیی بن ابی کثیر رحمه الله فرمایي (لایستطاع العلم براحة الجسم) علم په راحت د بدن نه تر لاسه کیږي او له پوهانو څخه یو فاضل وایي ! که چیرې زمونږ د اولادونو همتونه او ارادې دومره لوړې وای لکه د امتحانونو په وخت کې نو دغه امت به زیات شمیر لوی لوی علماء ټولنې ته وړاندې کړي ؤ.

مطلب دا چې دامتحان فکر دانسان په ټول ژوند کې ډیر مثبت تحول او بدلون راولي په ځانګړې ډول دتعلیم او زده کړې په ژوند کې چې کوم زده کوونکی دیوه نیکمرغه او بریالي راتلونکي په فکر کې وي وخت نه ضائع کوي او دخپل زیار او زحمت څخه دیوه لوړ هدف د تر لاسه کولو په اراده خوند اخلي ،همت او حوصله یې لوړیږي چې بالاخره خپل علمي او روښانه هدف ته یې د رسید و چانس او امکان زیاتیږي آن تردې چې پخپل بري باندې د ټینګ باور تر حده رسیږي.

دوهم له امتحان څخه ویره او دویرې لاملونه :

ځینې طالبعلمان او زده کوونکي له امتحان څخه ویره احساسوي چې کله دامتحان وخت رانږدې کیږي نو یو ډول اضطراب او تشویش یې لمن نیسي له ټولو کارونو آن تر دې چې له مطالعې هم خوا توری شي او له هره کاره یې زړه پورته شي البته دا سې حالات په زده کوونکو او طالبانو کې دکمیت او کیفیت په لحاظ توپیر لري خو په هر صورت موږ دلته ددغې ویرې او تشویش ځینو اسبابو او لاملونو ته اشاره کوو :

۱-له زده کوونکو او شاګردانو څخه د ځینو کورنیو ، مشرانو ، دوستانو ، اوملګرو ډیر لوړ انتظار او د امتیازاتو وعدې چې که چیرې مطلوبې نمرې تر لاسه نه کړي نو امتیازات به وبایلي او یا به تحقیر شي چې دا کار زده کوونکي ته ویره پیدا کوي او ذهن یې مشوش کیږي.

۲- د استاذ لخوا کله طالب تر فشار لاندې راځي که چیرې پوره نمرې وانخلې نو به تهدید کیږي.

۳- غفلت او بې پروایي چې کله زده کوونکي په کور کې د درس لوستلو او مطالعې لپاره منظم پروګرام ونلري او دغه وخت په نورو کارونو تیروي ډیر څله دمطالعې قیمتي وخت یې ضائع شي ، دامتحان په وخت کې د ډیرو کتابونو مطالعه کول ورته ګران شي او ذهن یې دومره ظرفیت نلري ترڅو په لږ وخت کې ډیر کتابونه مطالعه کړي نو یې د تشویش سبب شي .

۴-پخپل ځان باور نه درلودل چې نشم کولای په امتحان کې بریالی شم ، ډیرې نمرې تر لاسه کړم ،نور شاګردان تر

ماتکره دي اوداسې نور...له کورنۍ او ملګرو نه تشویش چې که چیرې نمرې وانخلي نو بـه کورنۍ، ملګرو، دوستانو او استاذانو ته خجالت او شرمنده وي.

۵-دامتحان لپاره په کور یا مدرسه کې یو فوق العاده حالت رامنځته کول چې ګویا امتحان راغی، دامتحان شپې او روځې دي امتحان ډیر سخت دی او داسې نور... چې داهم دتشویش سبب ګرزي نو حالت باید بالکل طبیعي وي.

دریم دویرې نښې او علامې:

کیدای شي ځیني شاګردان او طالبان په دې پوه نه وي چې له ده سره ویره شته خو دویرې ځیني څرګندې نښې او علامې په لاندې ډول دي:

دسر درد او د سر ګرځېدل.

دبدن ګرموالی.

ساه بندي.

د بدن او لاسونو خوله کېدل.

د زړه ټکان.

د بدن او آواز لړزیدل او داسې نور.

څلورم دویرې لیرې کیدل او دبریالیتوب باور پیدا کول:

ددې لپاره چې دزده کوونکو او شاګردانو څخه ویره لیرې شي او په امتحان کې یې دبریالیتوب او موفقیت امکان او باور زیات شي نو هیله ده لاندنی لارښوونې په پام کې ونیول شي البته په دغه کار کې په زده کوونکي سربیره استاذ، دکورنۍ غړي او دامتحان چاپیریال ټول اغیز لري چې هریو باید پخپل ځای په دې کار کې مرسته وکړي ترڅو زده کونکو او شاګردانو ته دیوه ښه چاپیریال په رامینځته کیدو هغه ته پوره ډاډ پیدا شي چې پخپل موفقیت او بریالیتوب مطمئن او یو روښانه علمي راتلونکې ولري البته دغه موضوع مونږ په لاندې څو برخو کې تشریح کوو:

الف: پوره او اغیزناکه مطالعه کول:

البته د مطالعې پر وخت او د مطالعې څخه د پوره ګټې اخیستلو لپاره لاندې ټکي په نظر کې وساتل شي:

دمطالعې پر وخت دالله جل جلاله یادول.

پر اوداسه باندې مطالعه کول، پر پاک ځای او پاک ماحول کې مطالعه کول.

لږترلږه په ورځ کې ۴-۵ ساعته پورې مطالعه باید وشي خو په داسې ډول چې تفریح او د ذهن تازګي پکې وي یا که ممکنه وي د کوم شي سره چې علاقه لري ویې خوري.

د مطالعې پر وخت څومره چې ممکنه وي باید خاموشي موجوده وي او دماغ مطالعې ته فارغ وي ځکه چې په شور ما شور کې کوم څه چې مطالعه شوي وي بیرته له ذهن څخه وځي.

د مطالعې پر وخت کوشش وشي چې رڼا ورته مخامخ نه وي ترڅو سترګو ته تاوان ونه رسیږي او دلیکلو پر وخت هم دقلم یا لاس سیوري پر کاغذ مزاحمت جوړ نکړي.

دمطالعې پر وخت به دیوه استاد په حیث ځان بولي او د ځان نه به سوالونه مطرح کوي.

هر کتاب یا مضمون چې مطالعه کوي په هغه کې به دلچسپي موجوده وي ځکه که دلچسپي نه وي ذهن ستړی کیږي، نو که چېرې طبیعي دلچسپي او شوق ورسره نه وي لومړی کوشش وکړي چې په هره ذریعه چې وي په خپل ذهن یو څه فشار راوړي ترڅو یې شوق ورسره پیدا شي کله چې لږ پر مخ ولاړ شي نو بیا په خپله علاقه ورسره پیدا کیږي

ب: له امتحان څخه مخکې هدایات:

په الله توکل کول او یوازې له هغه جل جلاله څخه مرسته غوښتل.

له امتحان څخه نفرت او کرکه نه کول او دیوه نوي هدف په سترګه ورته کتل.

مصروف کونکي شیان لکه ټیلفون، کمپیوټر، او داسې نور له ځانه لیرې کول.

دتیرو امتحانونو سوالونه تر ذهن تیرول.

پخواني تیروتنې جبرانول.

دامتحاناتو مهال ویش او پروګرام خپل مخ ته ایښودل.

ټول ضروري مواد لکه: کتاب، قلم، کاغذ، خط کش، پنسل پاک او نور اړوند شیان چمتو کول.

او دمطالعې او درس لپاره منظم مهال ویش برابرول چې هم مطالعه وکړي او هم تفریح ، آرام او سپورت پکې ځای ولري او دیوه کار وخت په بل ضائع نکړي.

ج: دامتحان دورځو لاربښوونې:

په ټاکلي وخت کې دامتحان هال ته حاضریدل.

دامتحان هدایاتو ته پوره متوجه کېدل او په هغو ښه پرځان پوهول.

دامتحان ځای ته ټول ضروري شیان له ځانه سره وړل.

خپل ذهن هرډول خوابونو ته اماده کول.

لومړې سوالونه پوره مطالعه کول او ځان پرې پوهول.

دامتحان په هال کې بل چاته نه کتل تر څو ذهن مشوش نشي وخت نه ضائع کول او په خوابونو لیکلو پیل کول.

اول اسانه او ساده سوالونه حل کول بیا متوسط سوالونه وروسته مشکل سوالونه حل کول ترڅو یې جرأت پکې زیات شي.

د خوابي پارچې په تسلیمولو کې تلوار نه کول او په اطمنان سره سوالونه حل کول.

خپل ذهن له هر ډول تشویشونو څخه خالي کول.

د : د شاګرد ځانګړی نقش :

شاګرد باید دیوه کره مهال ویش له مخې مطالعه وکړي او ټول سبق شپې ته ونه ځنډوي.

دامتحان په شپو کې خوب او آرام وکړي په ټاکلي وخت تفریح وکړي دامکان ترحده یې خوراک هم منظم او پخپل وخت وي.

۳-حرکت او خوځښت ولري ټول وخت په یوه خونه کې ایسار پاتې نه شي که ممکنه وي په زړه پورې زرغونه چمنونه او کلان ،کښتونه وګوري.

۴-پخپل ځان باور پیدا کړي او فکر وکړي چې زه دالله تعالی په مرسته مطالعه کولای شم او هر مشکل سوال حل کولای او بریالیتوب ته لاره پیدا کولای شم یوازې کوښښ ته ضرورت دی.

۵- د امکان ترحده جسمي توازن وساتي دګرمی او یخنۍ په مقابل کې امادګي ولري لوږه او تنده دفع کړي او نور فزیکي مشکلات باید حل کړي.

هـ : د استاذ نقش:

استاذ باید د درس په دوران کې مضامین په ځانګړي توګه ستونزمن مضامین پوره او سم تشریح کړي او د زده کوونکو له خوا یې دزدکړې داډ تر لاسه کړي.

درسي مهتود او طریقه یې برابره وي او په آسانه طریقه شاګردان وپوهوي.

دامتحان په ورځو کې شاګردانو ته جرأت ورکړي او حوصله یې لوړه کړي.

په امتحان کې سوالونه پوره تشریح کړي او شاګردان پرې وپوهوي.

و: دکورنۍ ، دوستانو او ملګرو نقش:

شاګردته روحیه ورکړي او حوصله یې ور لوړه کړي.

ډیر لوړ انتظار او لوی امتیاز ترې ونه غواړي.

بیځایه پیغورونه ورنکړي.

په نورو کارونو یې مصروف نه کړي.

دضرورت وړ مواد ورته برابر کړي.

ز : دامتحان دهال شرائط:

- دامتحان هال (صحنه) څومره چې ممکنه وي باید وسیع او پراخه وي.

- دانساني ضرورتونو ، داوداسه او بو او نورو ضروري حاجتونو ارتیاوې یې پوره وي.

-موسمي حالت یې برابر یعنې دګرمی او یخنۍ ستونزې پکې نه وي.

- فضا پوره ارامه او له شورماشور څخه بیغمه وي.

په پای کې ټولو امتحان ورکوونکو ته له لوی الله (جل جلاله) څخه بریالیتوب غواړو !

والله ولي ذلک وهو القادر علیه

د افغانستان اسلامي امارت

د تعلیم او تربیې او عالي تحصیلاتو کمیسیون

Mf a • " – Š

دجنرال رازق دجنایتونو څو مستندې بېلګې

تېره اونۍ دبشري حقونو دڅار نړېوال سازمان په افغانستان کي ځیني اوسني اوپخواني چارواکي په جنګي جنایتونو کي ښکېل وبلل، چي دهغوی له جملې څخه یوه هم دکندهار اوسنی امنیه قوماندان جنرال رازق دی.

دکندهار امنیه قوماندان رازق دبشري حقونو دڅار سازمان یادشوی راپور ، دنوموړي پرضد د« یوناما !!؟؟» یوطرفه تبلیغاتي پرو پاګنډه وبلله او په همدې راپور کي یې دطالبانو لاس دخیل وباله.

ددغه بې سواده وژونکي جنرال په مدحه کي یو شمېر قلموالو هم دڅار تېولني راپور دنوموړي پرضد یوه توطیه وبلله او رازق ته یې دملي اتل لقب ورکړ. یو لیکوال چي له تېرو دروو لسیزو راهیسي یې دهرهغه حاکم جریان په پلوي قلم څرخولی ، چي خیته یې ورخیشته کړې ، او اوس لاهم دامریکایي سفارت او ملي امنیت په راشن قانع نه دی ، دیو څو ډالرو په تمه یې جنرال رازق دغازي عبدالله خان اڅکزي خلف او دوخت ایوب خان نوملی دی.

موږ د جنرال رازق قلم مارو ملګرو ته یې وایو چي: تاسي که دڅار سازمان راپور دپنجاب اوطالب فرمایش بولئ ، نو ددغه اتل !؟ جنرال لاندي کړني څنګه ارزوئ چي دکندهار غیور خو مظلوم ولس یې دعیني شاهدانو په توګه درسنیو او سهېلي حوزې دبشري حقونو خپلواک کمیسیون په وړاندي ګواهي ورکوي .

دڅایي خلګو په ویناد ۲۰۱۳ اکتوبر په لومړۍ اونۍ کي دکندهار ښار، ،میان کوه، سرې کلا ،زاړه ښار اومحله نجات سیموکي دځلوېښتوتنو جسدونه موندل شوي همداکسان لومړی شکنجه شوي اوبیاوژل شوي دي.دوی وایې چي: پولیس د طالبانو سره دخپلوۍاویااړیکو درلودوپه تور خلګ نیسي اووروسته یې وژني اودځینوکسانوکورونه یې هم په دې تورچي دطالبانوسره رابطه لري ورنړولي دي

دکندهار ښاریان وایي چي: خپلوان یې پولیسوله کورونواودکانونوڅخه بیولي اوڅو ورځي وروسته یې بیا مړي موندل شوي دي، لس ورځي وړاندي دکندهارښار ددوهمې حوزې له یخ کاریزڅخه پولیسو څلورتنه بیولي ووچي پنځه ورځي وروسته یې جسدونه په میرویس روغتون کي پیداشول.

دحاجي یارمحمد په نوم یو کس وایې چي وروریې لس ورځي مخکي پولیسو ونیواوپنځه ورځي وروسته یې جسد په داسي حالت کي وموندل شوچي پربدن یې دشکنجودیري نښې وې ،همدارازیوبل تن تورجان وایې چي پولیسویې زوی ونیوا وڅوورځي وروسته یې جسد په میرویس روغتون کي پیداشونوموړی وایې چي زوی یې په چړواوبرچووژل شوی ؤ ،محمداکبرچي په دغه سیمه کي چوکیدار دی دسترګولیدلی حال داسي بیانوي :«همدغودواړو وژل شووکسانودبوتو\لرګیوتال کاوه ،مابښام دپولیسو شین رنګه ټانګ راغلی اوهمداکسان یې له ځان سره بوتلل دادی چي وروسته یې مړي په میرویس روغتون کي وموندل شوله. دکندهارښار

ددوهمـي حـوزې خلـک وايـي چـي پـه دغـه شـپه دوه نورکسان هم پوليسوبيولي چي تراوسه يې دژوندااومرګ حال معلوم نه دی.

يوبل کس دمولوي جمعه خان په نامه چي محله نجات کي يې امامت کاوه هم څوورځي وړاندي پوليسونيولی ؤچي څـو ورځـي وروسـته يـې پـه همـدې سـيمه کـي جسد پيدا شوهمدې کس بيله دې چي ملا اوملاامام ؤبل جرم !! انه درلود.

سيمه ييزخلک وايې چي: رازق تردې مخکي هم عام خلک اوطالبان ترنيولووروسته وژلي اوجسدونه يې په ليروځـايونوکي غورځـولي چـي وارثـان يـې پـه مياشتومياشتوله مرګ اوژوند څخه ناخبره ساتل شوي دي.

دبشري حقونو خپلواک کميسيون پخپل راپور کي ليکي چي: دکندهارښارله بيلابيلو حوزويې د مخفي وژنوپه اړه معلومات اوډيري عارضې ترلاسه کړي دي، همدغه رازددغه کميسيون په راپـور کـي ذکر شوي چي پـه مرموزه توګـه دوژل شووکسانووارثان هره ورځ شکايت پاڼي ورته راوړي.

رازق دکندهارښـاراوبولدک ولسـوالی پـه شخصـي زندانونوکي ،طالبان او دويش په مشهوربازاراومنديې کي هغه تجاران چي نوموړی (قوماندان)ته تاکل شوی باج نه ورکوي پـه دغوزنـدانونوکي سـاتي ،هغـه کسـان بيابيرتـه خوشي کوي چي ډيري پيسې ورکړي اودبيالپاره تينګه ژمنه وکړي چي پرټاکل شوي وخت به معلوم رقم باج قوماندان ته ورکوي.

دسـيمه ييزوخلګوڅخـه مـي اوريـدلي چي دقومانـدان رازق پـه شخصـي محـبس کـي پـه واروارښـديانو ترشکنجولاندي ساه ورکړې ،حتی څوکيسې خومې داسي اوريـدلي چـي قومانـدان رازق پـه مسـتقيمه لاربـوونه اوخپلولاسونودخينوبنديانوڅخه لاسونه اوپښې پرې کړي اوپه همدې ډول يې اسيران له ژونده بې برخي کړي دي.

دغـه قومانــدان دمځکوپـه غصـب ،دمخـدره موادواووسلوپه قاچاق ،اداري فسـاداودملي تجارانوپـه تهديداووژنه هم تورن دی.

د۲۰۱۴اګست پـه ۲۷ مـه نيتـه دبولـدک ولسـوالی مربوط دکځی سړک سره ددرو تنوهغو هيوادوالو مړي وموندل شول ،چي لـس ورځـي مخکـي سرحدي عسـکرو نيـولي وو، دځايي خلګو پـه وينا دغـه وژل شوي کسـان چي دري نفره نوريې هم ملګري وو، لس ورځي وړاندي چي پـه يوه موټر کي يې دولسوالی دبازار څخـه دونکي سيمي پـه لورسفر کاوه نادرکه شول ،دنادرکه شوو کسـانو لـه جملې څخه دجمال ولد محمد جان ، نعمت ولد دل محمداوصديق ولد حاجي شيخ جسدونه پيدا شوي اود نورو درو کسـانو دمـرګ اوژونـد حـال لا نـه دی معلـوم ، دوژل کسـانو پـر بدنونودوهلو- ټکولو اوشکنجو ډيري نښي نښانې وې، لاسونه يې تړل شوي وو اوپه سر يې توري کځوړي اغوسـتل شوي وې.

کـوم وخـت چي ولسـي مخـور دخپلـو مـړو دجسـدونو انتقال ته ورغلل دجنرال رازق توپکيانو نه يوازې داچي قومي مشرانو ته سپکې سپورې وويلې ، بلکې همدا سپين روبي يې هم دطالبانود ملګرتيا په تور ووهل.

خلګو پـه مختلفو ډولونودخپل مظلوميت اواز پورتـه کړی، مظاهرې يې کړې ، دبشري حقونو سازمانونو دروازې يې ټکولي او درسنيو سره يې خپل حال شريک کړي ، خو پـه تاسف سره چي دجنرال رازق دګوتځنډني لـه املـه پـه کندهار کي دروان جنايت او وحشت پـه اړه رسنی دڅه ويلو زړه نشي کولای.

رازق او دسياسي اسيرانو ډله ييزي وژني:

د ۲۰۱۳ز،کال پـه (جون)مياشت کي هم رسنيوداسي راپوروته خپاره کړل چي دکندهار ولايت پـه ارغستان، بولدک او تخته پول ولسواليو کي دوه ديرش(۳۲)تنه طالب اسيران ددغه ولايت دامنيه قوماندانی مربوط اوسرحدي پوليسوله خوا پـه ډله ييزه توګه وژل شوي دي.

دعيني شاهدانو پـه وينا چي:شپږتنه بنديان دارغستان پـه بالاژړه کي ،اووه کسه شين نري کي اوپنځه تنه توره ګاره کي ،اتـه تنـه دتختـه پـول ولسـوالی پـه بوزوڅوکی کي اوشـپږتنه اسيران دبولـدک ولسـوالی پـه قرارګـاکي

دامنیه قوماندان (رازق) په شخصي زندان کي وژل شوي دي.وژل شوي کسان لومړی په شخصي محبسونو کي شکنجه شوي اوبیاله بندخونوڅخه ایستل شوي په ډله ییزه توګه په بیلابیلوځایونوکي وژل شوي دي.

داسیرانوپه تېره دسیاسي بندیانووژنه دبشري ،مدني اوجنګي قوانینوڅخه داسي ښکاره بغاوت دی ، چي په هیڅ ډول نشي توجیه کیدلای.دډیموکراسۍ عسکرچي دنړۍ په هره لویه اووړه پیښه کي دحقونواوقوانینوناري وهي دلته په مستقیمه اوغیرمستقیمه توګه داسي وحشي کړنوکي ښکېل دي اویایې ترپوزي لاندي ترسره کیږي،چي په نوروهیوادونوکي همداډول وحشت دځان لپاره دپوځي مداخلې اویرغل مجوزګني .

خوپه افغانستان کي بیاهرڅه برعکس دي ، په پټه اوښکاره په انفرادي اوډله ییزه توګه سیاسي اسیران وژل کیږي ،په زندانونوکي دسیاسي بندیانو شکنجه کول اوپه کلونوکلونوبې محاکمې په بندکي ساتل عادي دودګرځیدلی دی او.....

په کندهارښاراوشاوخواسیموکي په لسهاووشکمن کسان په دې جرم وژل شوي چي دطالبانوسره په اړیکودرلودوتورن وو اویادطالبانودکورنۍ غړي اونژدې خپلوان وو ،داسي به هیڅ ځای هم نه وي پیښ شوي چي داصلي تورن کس په ګناه دهغه دکورنۍ غړي اوخپلوان سزاشوي اوحتی وژل شوي وي خودکرزي رژیم دکندهارپه څېرپه نوروولایتونوکي هم همداډول شکمن کسان نیولي اووژلي دي.

په هرصورت دعاموخلکوسره زورزیاتی اود اسیرانوانفرادي اوډله ییزي وژني که ظاهرا دقوماندان رازق له لوري ترسره کیږي ،خوواقعیت دادی چي دکندهارټول چارواکي په دغه وژنواوجنایتونوکي شریک دي ،ځکه دالومړی ځل نه دی چي بندیان وژل کیږي اویادولسي خلکوسره ناوړه چلند کیږي په ځلونوورته نوري پېښي هم ددغه ولایت په مختلفوولسوالیوکي ترسره شوي دي.

وژل شوي کسان لومړی په شخصي محبسونو کي شکنجه شوي اوبیاله بندخونوڅخه ایستل شوي په ډله ییزه توګه په بیلابیلوځایونوکي په شهادت رسول شوي دي.

جنرال رازق ، پوهاند تور یالی ویسا اوولایتي باند یې دمحکمې ، ښارنوالۍ ، وکیل اوقاضي دپریکړو څخه پرته دخلکو دوژلو ، ځورولواوکورنړولوامر ورکوي ، او اوباشان یې بیا په ډېره بې رحمانه توګه سر ته رسوي ،په دې وروستیو کي دکندهار ښار په مختلفو ناحیو کي دخلکو کورونه په دې تور ویجاړشوي چي ګواکي دطالبانو سره اړیکي یاخپلوي لري.

څو میاشتي مخکي جنرال رازق په ډاګه حتی له رسینو سره خبروکي په اصطلاح ملي پولیسو ته دطالب په نامه دافغان وژني جدي امر صادر کړ، جنرال خپلوځوانکو ته وویل چي دطالب په نامه دي څوک ژوندی نه راولي هرځای یې چي نیسي هلته دي کار ورخلاصوي.همدا وروستۍ ذکر شوي وژني اوپه ژړي ولسوالۍ کي عام قتلونه ددغه جنرال دامر وروستۍ عملي نمونې دي.

دبشري حقونو کمیسیونونه اوبنسټونه ژر ترژره باید په کندهار کي دنوري عام وژني دمخنیوي په موخه جدي اقدامات ترسره کړي ، کنه په دغه ولایت کي به یو لوی بشري ناورین رامنځته شي ، لکه څنګه چي مخکي اشاره ورته شوه ، جنرال رازق خپلوعسکرو ته عام وتام دمخالفینوپه نوم دافغان وژني اجازه ورکړې ده ، نو که مخه یې ونه نیول شي خدای مکړه ډیر ولسي هیوادوال به ددې وحشت قربانیان شي

دکفري هيوادو د غوښو خوړو حکم!

د اسلام د مبين دين محترم عالمانو او مفتيانو د دې پوښتنې په ځواب کې څه وايي: چې د ځينو اسلامي هيوادو (په خاصه توګه د خليج) ځيني وګړي د غوښو په خوراک کې د احتياط نه په کار اخستلو او خپل څاروي ذبحه کوي او نورو ته هم ترغيب کوي چې د عامو دوکانو غوښې و نه خوري، هغه مشکوکه يا حرامه بولي! هرچې عام خلک دي هغوی د عامو دوکانو نه هغه غوښې اخلي او خوري يې، کومې چې له اسلامي هيوادو علاوه د هندوستان استراليا او نيوزلينډ څخه هم راوړل کيږي، دهغوی په نظر په يادو نا اسلامي هيوادو کې څاروي په شرعي طريقه نه ذبحه کوي، هغوی د دوکاندار لخوا دا تصديق چې هغه وايي [دا په اسلامي طريقه ذبحه شوي ده] ! کافی نه بولي، اوس دا انګيرنه څه حکم لري؟ سره د دې چې هر سړی خو د مستقل څاروي ذبحه کولو وس نلري فقط والسلام

مستفتي: زمان سميع خان

الجواب حامداً او مصلياً

څرګنده ده د مسلمانانو لپاره د اهل کتابو ذبحه هغه مهال حلاله ده، چې کله هغوی په ذبحه کولو کې د اسلامي شريعت شرايط پوره رعايت کړي، ترکومه ځايه چې نصاری (اهل کتاب) دي، هغوی په ذبحه کولو کې شريعت شرايطو او بنديزونو نه لحاظوي، که څه هم دهغوی په مقدسو کتابونو کې هغه شته؛ نو په دې دليل دهغوی ذبحه ترهغه وخته حلاله نه ګڼل کيږي، څو دا باور را نشي چې رښتيا هم هغوی په ذبحه کولو کې شرعي شرايط لحاظ کړي دي! له دې وجې په مسؤ له صورت کې دکفري هيوادونو (هندوستان، استراليا نيوزيلنډ) د غوښو د خوراک نه په لاندې وجوهاتو اجتناب ضرور دی:

۱..... په يادو هيوادو او يا نورو کفري هيوادونو کې د ذبح کوونکو د دين مونږ ته ندی معلوم، چې هغوی په کوم دين دي؟ ځکه په دغو هيوادو کې بت پرستان اتش پرستان دهريان او نور هم شته دي، له دې وجې دا باورد کول به ګران وي چې ذابح به له اهل کتابو څخه وي.

۲..... که له تحقيق يا ظاهري حاله دا هم معلومه شوه چې ذبح کوونکي نصرانيان (اهل کتاب دي) بيا د هغوی په باره کې دا نده معلومه چې ايا د ذبح کولو پرمهال هغوی شرعي شرايط لحاظوي؟

۳..... نصرانيان د ذبحې پر مهال تسميه نه وايي او دجمهورو علماوو په نزد دا خبره راجحه ده، چې د اهل کتابو د ذبيحې د حلالوالي لپاره د ذبحې په وخت تسميه ويل شرط دي.

نو په هر صورت د پورته يادو درې قوي وجوهاتو په بناء د هيڅ مسلمان لپاره ترهغه پورې د نامسلمانو هيوادونو څخه د راوړونکو غوښو خوړل جايز ندي، څو د کومې معلومې غوښې په باره کې پوخ يقين نه وي راغلی چې د هغې ذبحه په شرعي طريقه شوې ده! هو که له کوم اسلامي هيواد څخه غوښه راوړل کيږي، د هغې خوراک جايز دی، خو په دې شرط چې په هغه کې د حرمت کومه قوي وجه نه وي.

خو کومه غوښه چې د نا اسلامي هيوادو څخه راوړل کيږي، د هغې په باره کې د دوکاندار لخوا دا ويل: [چې دا حلاله

ده] اعتبار نلري؛ ځکه د شرعي قاعدې له مخې اصل په غوښه کې حرمت دی؛ ترڅو چې خلاف يې نه وي ثابت، رسول الله (ﷺ) دهغه ښکارد خوړو نه منع کړيده چې په کوم ښکار کې دښکاري له سپي پرته بل سپی هم وي؛ هم داسې په يو بل حديث کې دښکار په اړه رسول الله (ﷺ) فرمايلي:

"إن وجدته غريقا فى الماء فإنك لاتدرى الماء قتله أو سهمك" (مسلم: ۲ټوک ۱۴۶مخ)

که ته خپل ښکار په اوبو کې ډوب مومي، نو دغه ښکار مه خوره، ځکه تا ته څه معلومه ده چې هغه په اوبو کې دغرقيدو له وجې مړ شوی دی که ستا په غشي په مړی ؟

له پورته تفصيل راوو نه دا معلومه شوه، چې په غوښه کې حلت – حرمت دواړه منل کېږي، خو دحرمت لوری راجح دی؛ څو چې په يقيني تو ګه نه وي ثابته شوي چې حلاله ده، تر هغې حرامه ده، هم دا حکم دهغو غوښو دی کومې چې له غربي هېوادونه امپورټ راوړل کېږي، ولې چې په هغو کې دممانعت پورته وجوهات منل کېږي، او هر چې ليکل دي چې دکارتنو له بره پرې ليکلي: [إنها مذبوحة على طريقة إسلامية] يعني داغوښه په اسلامي طريقه ذبح شوې ، يوائې په دغو ليکلو باور کېدای نشي، ځکه د ځينو شرعي ادارو لخوا خپل خلک دبهرنيو هېوادونو هغو مذبح ځايونو ته ليږل شوي دي، له کومو چې اسلامي هېوادو غوښې را ليږل کېږي، هلته دحالت دليدلو وروسته دهغوی لخوا چې کوم راپورونه خپاره شوي دي، دهغوی په وينا :[دقوتيانو او کارتنو له بره ليکلی عبارت په هېڅ صورت دباور وړندی.

هم داشان په ځينو هېوادونو کې په مشين حلاله کېږي ،حال داچې د ماشين ذبحه حلاله نده، دالله تعالى ارشاددی:

ولاتأكلوا مما لم يذكر سم الله عليه وإنه لفسق- (الانعام:۱۲۱)

په حديث شريف کې دي: عن عدى بن حاتم قال: قال رسول الله (ﷺ) إذا أرسلتَ كلبک فاذكر اسم اللهِ، فإن أمسک عليک فأدركته حياً فاذبحه وإن أدركته قد قتل ولم يأكل منه فكله و إن أكل فلاتأكل، فإنما أمسك على نفسه، فإن وجدت مع كلبک كلباً غيره، وقد قتل فلاتأكل، فإنک لاتدرى أيهما قتله وإذا رميت بسهمک فاذكر اسم الله فإن غاب عنک يوماً فلم تجد فيه إلا أثر سهمك فكل إن شئت وإن وجدته غريقا فى الماء فلاتأكل (مشكوة ,متفق عليه ۱۱ټوک ۳۵۷مخ،چ، قديمى)

په المغنى لابن القدامة کې دي: فالتسمية مشترطة فى كل ذابح مع العمل سواء كان مسلماً أو كتابياً فإن ترك الكتابئ التسمية عن عمدٍ أو ذكر اسم غير الله لم تحل ذبيحته (المغنى لابن القدامة ۱۱ټوک ٥٦مخ،چ،بيروت)

په شرح الحموى على الاشباه والنظائر کې دي:

إن يجد شاة مذبوحة فى بلد فيها مسلمون ومجوس فلاتحل حتى يعلم أنها مذكاة مسلم ، لأنها أصل حرام وشككنا فى الزكاة المبيحة فلو كان الغالب فيها المسلمون جاز الأكل عملا لغالب المفيد للطهورية(شرح الحموى على الاشباه والنظائر ۱ټوک ۱۳۴مخ)

فقط والله اعلم

الجواب الصحيح : ابوبكر سعيد الرحمان

الجواب الصحيح : محمد انعام الحق

الجواب الصحيح : شعيب عالم ،

كتبه : احسان الله

دکراچي دجامعة العلوم الاسلامية علامه بنوري ټاون دمياشتنى مجلې بينات نه په مننه

دغزل توري

مولوي عرفان الله عرفاني

غزل مې شونيمګړی شول راکم دغزل توري
دګل پرپاڼوګورم دشبنم دغزل توري

دنورو په غزل مې دزړه تنده نه ماتيږي
ديارله کلي راوړه دزم زم دغزل توري

شعرونه مې خوښيږي خوپه تول چې برابر وي
چې نغښتي پکې چاوي منظم دغزل توري

دکلي په کوڅوکې سوداګردغزل ګورم
ترې اخلمه دمينې دحرم دغزل توري

دخيال کتابخانه مې پسې تولمه پرانيستلې
لټېږم چې پيداکړم يوځوسم دغزل توري

چې ذکر پکې شوی ستادمخ ستادجلوو وي
جانانه ډېرمې خوښ دي ستادچم دغزل توري

ډېرکيف کړي چې الفاظ يې څه صريح څه کنايي وي
پکار مې څه نازک دي څه محکم دغزل توري

غمجن يو ډېر غمجن يو يوآذان بلا له وکړه
ډېرخوند کړي ياره ستادصبحدم دغزل توري

رقيب بانډې به خودلکه دغشوراور يږي
مدام دعرفاني دتاند قلم دغزل توري

Shahamat